# د ابن خلدون مقدمه

عبدالرحمن ابن خلدون
محمد زبیر شفیقي

Scanned with CamScanner

# د لومړي کتاب درېیم باب

## عام حکومتونه، هېوادونه، خلافت، شاهي مرتبې د هغو هر یوه ته ورپېښې ستونزې او د هغو قاعدې

# لومړی فصل

### د هېواد او عام حکومت تکیه پر ملي ځواك او قومي ملاتړ ده

موږ په مخکني فصل کې دا ثابته کړه چې برلاسي او د دفاع ځواك د عصبیت او قومي ملاتړ له لارې لاسته راځي ځکه چې په عصبیت کې د وینې شراکت، غیرت او حمیت را پیدا کوي او د خپل وړور او کورنۍ لپاره یو چا ته د قرباني جذبه وربښي. بیا پر هېواد واکمني یو شریفانه او په زړه پورې مقام دی، چې په هغو کې دنیوي ټول نعمتونه، بدني هیلې او نفساني غوښتنې شته، ځکه خو عام خلك له هغو سره مینه لري او هېواد څوك چا ته په خوښۍ نه پرېږدي مگر دا چې مات او مغلوب شي او په زور هېواد ترې ونیسي، ځکه خو د یوه هېواد د نیولو لپاره جگړې کېږي او شخړې دوام مومي او د انسانانو د وینو لښتي بهېږي او په جگړه، وژنو او لوټمارۍ کې هر څوك قومي ملاتړ او عصبیت ته مخه کوي او د هغو په زور بریا غواړي لکه چې مخکې مو یادونه وکړه. د پاچاهۍ او قومي مشرتابه په رمزونو عام خلك نه پوهېږي او له هغو نه غافل وي او هېروي یې، ځکه چې عام خلك هغه اسباب او لاملونه هېروي چې د هغو په واسطه دوی واك او پاچهي ترلاسه کړې وه او هغه خلك مړه کېږي چې د زړه په وینو یې د حکومت بنسټ ایښی وي، راتلونکي نسلونه په تمدن او ښارونو کې زېږېدلي او پالل کېږي او نسل په نسل همدغسې راځي ځکه دوی له هغو قربانیو څخه ناخبره وي چې د دوی مشرانو او نیکونو د دې حکومت د ترلاسه کولو لپاره ورکړې وي او هغه ستونزې یې هم نه وي لیدلې چې د حکومت او دولت په پیل کې خلك ورسره لاس او گرېوان وي، دوی یوازې خپل پلرونه او واکمن لیدلي دي په داسې حال کې چې هغوی د حکومت رېښې ټینگې کړې وي او خلکو یې واکمني منلې وه او د حکومت د نظام د چلولو لپاره یې قومي عصبیت ته اړتیا هم نه وه، دوی څه خبر وو چې نیکونو یې له څومره ستونزو او مصیبتونو سره خپرې لگولې وې، په ځانگړې توگه د اوږدې مودې لپاره د قومي عصبیت پر هېرولو د اندلس په ځایي خلکو چې څومره تعجب وشي پرې کم دی، د دوی واکمني تر اوږدې مودې پورې په اندلس کې دوام درلود، اوس په ډېرو برخو کې د قومي عصبیت له ځواکه بې پروا او بې نیازه دي ځکه چې وطن یې برباد او له منځه لاړ او دوی ترې ورك شول.

Scanned with CamScanner

# د لومړي کتاب درېيم باب

## عام حکومتونه، هېوادونه، خلافت، شاهي مرتبې د هغو هر يوه ته وړپېښې ستونزې او د هغو قاعدې

# لومړی فصل

### د هېواد او عام حکومت تکيه پر ملي ځواك او قومي ملاتړ ده

موږ په مخکني فصل کې دا ثابته کړه چې برلاسي او د دفاع ځواك د عصبيت او قومي ملاتړ له لارې لاسته راځي څکه چې په عصبيت کې د وينې شراکت، غيرت او حميت را پيدا کوي او د خپل ورور او کورنۍ لپاره يو چا ته د قرباني جذبه وربښي. بيا پر هېواد واکمني يو شريفانه او په زړه پورې مقام دی، چې په هغو کې دنيوي ټول نعمتونه، بدني هيلې او نفساني غوښتنې شته، څکه خو عام خلك له هغو سره مينه لري او هېواد څوك چا ته په خوښۍ نه پرېږدي مگر دا چې مات او مغلوب شي او په زور هېواد ترې ونيسي، څکه خو د يوه هېواد د نيولو لپاره جگړې کېږي او شخړې دوام مومي او د انسانانو د وينو لښتي بهېږي او په جگړه، وژنو او لوټمارۍ کې هر څوك قومي ملاتړ او عصبيت ته مخه کوي او د هغو په زور بريا غواړي لکه چې مخکې مو يادونه وکړه. د پاچاهۍ او قومي مشرتابه په رمزونو عام خلك نه پوهېږي او له هغو نه غافل وي او هېروي يې، څکه چې عام خلك هغه اسباب او لاملونه هېروي چې د هغو په واسطه دوی واك او پاچهي ترلاسه کړې وه او هغه خلك مړه کېږي چې د زړه په وينو يې د حکومت بنسټ ايښی وي، راتلونکي نسلونه په تمدن او ښارونو کې زېږېدلي او پالل کېږي او نسل په نسل همدغسې راځي څکه دوی له هغو قربانيو څخه ناخبره وي چې د دوی د مشرانو او نيکونو د دې حکومت د ترلاسه کولو لپاره ورکړې وي او هغه ستونزې يې هم نه وي ليدلي چې د حکومت او دولت په پيل کې خلك ورسره لاس او گرېوان وي، دوی يوازې خپل پلرونه او واکمن ليدلي دي په داسې حال کې چې هغوی د حکومت رېښې ټينگې کړې وي او خلکو يې واکمني منلې وه او د حکومت د نظام د چلولو لپاره يې قومي عصبيت ته اړتيا هم نه وه، دوی څه خبر وو چې نيکونو يې له څومره ستونزو او مصيبتونو سره خپې لگولې وې، په ځانگړې توگه د اوږدې مودې لپاره د قومي عصبيت پر هېرولو د اندلس په ځايي خلکو چې څومره تعجب وشي پرې کم دی، د دوی واکمني تر اوږدې مودې پورې په اندلس کې دوام درلود، اوس په ډېرو برخو کې د قومي عصبيت له ځواکه بې پروا او بې نيازه دي څکه چې وطن يې برباد او له منځه لاړ او دوی ترې ورك شول.

دين الدين "مجروح"

Scanned with CamScanner

# دوهم فصل

## چې کله حکومت پیاوړی شي قومي ملاتړ ته یې اړتیا نه وي

له دې امله چې په پیل کې عام حکومتونه د خلکو له مقاومت سره مخ کېږي او خلک په ګرانه د هغو اطاعت او امر منلو ته غاړه ږدي مګر دا چې حکومت ځواکمن وي، خلک د ځواکمن حکومت له پاچا سره یوازې د سوټي په زور اطاعت ته اړ کېږي او په اسانه نه ورسره روږدي کېږي، بیا چې د یوې ځانګړې زورورې کورنۍ حکومت راشي چې د واکمنۍ وړتیا لري نو حکومت یې پیاوړی کېږي او بیا یې په کورنۍ کې یو پر بل پسې واکمن راځي او حکومت د میراث په بڼه ورته پاتې کېږي، چې بیا خلک د حکومت هغه د لومړیو ورځو وضعه هېروي او د پاچاهانو د ریاست رنګ پوخ شي، د خلکو په زړونو کې د اطاعت او تسلیم جذبه زور اخلي او هغوی بیا پر خپلې واکمنۍ سر ورکولو ته چمتو وي داسې یې په دفاع کې جنګېږي لکه د ایمان او عقیدې لپاره چې قرباني او جګړې ته چمتو وي، ځکه خو په دغسې حالت کې واکمن په خپلو معاملو کې لویې ډلې او قومي ملاتړ ته اړتیا نه لري، بلکې حاکمیت یې داسې ټینګېږي لکه چې دا اسماني فرمان دی چې بدلون پکې نه راځي او له ملاتړ او اطاعت نه یې ډډه کول حرام دي. دلته خو یو ځانګړی سبب شته چې محدثین له عقایدو وروسته د خلافت او امامت مسئله بیانوي ګواکې خلافت او امامت د عقایدو یوه برخه ده.

## په بحراني وضعه کې د حکومت ملاتړ کوونکي

په داسې وضعه کې د حکومت ملاتړ آزاد کړای شوي غلامان او پالل شوي کسان کوي چې د حاکمیت تر سیورې لاندې روزل شوي وي، یا یې هغه ډلې کوي چې د حکومت له قوم او نسبه د باندې دي خو په حکومت کې شامل وي، د عباسیانو د حکومت پر مهال وضعه همدغسې وه، ځکه چې د معتصم او د هغه د زوی واثق د واکمنۍ په دوران کې عربي عصبیت نږدې ختم شوی ؤ او په هغو کې ډېرې خرابۍ را پیدا شوې وې، ځکه خو د هغوی د حکومت ساتنه له عربو پرته ترکانو، دیلم او سلجوقیانو کوله چې د عربو آزاد کړای شوي غلامان وو، بیا همدغه عجمي قومونه د حکومت پر شاوخوا منګولې ټینګې کړې او ورو ورو حکومت د مرکز په لور راټول او محدود شو، وړوکی کېدو تر دې چې حکومت د بغداد تر ساحې پورې را ایسار شو، بیا دیلمانو بغداد هم پرېښنبود او هغه یې لاندې کړ او دوی یې د حکومت خاوندان شول، وروسته چې د دیلمان حکومت ختم شو نو سلجوقیان واک ته ورسېدل او خلک د هغوی تابع شول، بیا د سلجوقیانو حکومت هم زوال ومونډ او مغلو برغل راوړ، د وخت خلیفه یې وواژه او د حکومت نوم او نښان یې له منځه یووړل، په لوېدیز (اندلس) کې صنهاجه ته پام وکړئ، د هغوی قومي یووالی د پنځمې پېړۍ له پیله مخ پر زوال شو او حکومت یې په بجایه، مهدیه او قلعه کې را ایسار شو، بیا په دغه وړوکي پاچهۍ هم خلکو یرغلونه پیل کړل او دا چې خلیفه له هغو سیمو ځخه لرې ؤ د خلیفه مخالفینو هلته د پناه لپاره منډې وهلې، خو پاچاهي بیا هم د خلیفه په نامه وه تر دې

چې خدای د هغوی د واکمنی د رنګېدو اراده وکړه او موحدین په جوش او جذبه کې راغلل چې د مصامده په قبیلو کې یې ملاتړ درلود او د صنهاجه د حکومت ټول اثار یې له منځه یوړل.

د اندلس اموي دولت وضعیت هم په همدې برخلیك اخته شو، څرنګه چې د عربي قبیلو ملاتړ په فساد بدل شو واکمني یې وړوکې کېده، یوه یوه برخه ترې بېلېده او ملوك الطوایفي پکې پیل شوه، ټول هېواد یې پخپلو کې سره ووېشه او پخپلو کې په سیالیو او رقابت سره کېوتل. اندلسیانو هم د عباسیانو د حکومت پرخلاف هماغه لاره غوره کړه چې ایرانیانو غوره کړې وه.

د هغه هېواد امیرانو او حاکمانو هر یوه ځان پاچا باله او د پاچهۍ لقبونه یې ځانونو ته غوره کړي وو. شاهي جامې، شاهي بڼه او عادات یې غوره کړل ځکه چې د دوی په مخه کې داسې څوك نه ؤ چې دغه امتیازات، القاب او تشریفات یې پر دوی منع کړي وای او یا یې بدلون پکې راوستلی وای، ځکه اندلس د قبیلو او ډلو سیمه نه وه چې موږ به رڼا پرې واچوو او ژوند ته یې په همدې بڼه دوام ورکړ، لکه چې ابن شرف وایي: «د اندلس په سیمه کې چې څه شی ما ته بښه نه رالګي هغه د معتصم او معتقد د نومونو دود دی، د حکومت القاب نااهلو اېښي، لکه پیشو چې ځان وپړسوي او د زمري بڼه خپله کړي».

دغه بېلابېلو واکمنو هم په خپل حکومت د امویانو په څېر چې د خپل خلافت په وروستیو کې یې هغه مهال چې عربي عصبیت کمزوری شو او ابن عامر د خپلواکۍ نغارې وکړنګولې او پر چارو یې برلاسي موندلی ؤ، پخپلو پالل شویو او نوکرانو یې تکیه وکړه او پر هغو بهرنیانو چې د افریقا له څنډو او مراکش نه ورغلي وو لکه زناته او بربریان دوی تکیه وکړه، په پایله کې دې هر یوه امیر د اندلس په یوه ګوښه کې خپلواك حکومت جوړ کړ او هر یوه پر هغو سیمو چې له لوی هېواد نه یې رابېلې کړې وې ځانګړې خپلواك حکومتونه جوړ کړل، تر دې چې مرابطینو د سمندر له لارې پر دوی یرغل راوړ، څرنګه چې هغوی په دې ملوك الطوایفیو کې پیاوړې قومي ملاتړې درلودل دغه امارتونه یې لاندې کړل او د هغوی ځایناستي شول، هغوی یې له خپلو مرکزونو وشړل او ټول اثار یې له منځه یوړل، دغه ځانګړیو امیرانو هېڅکله هم له ځانه د دفاع توان نه درلود ځکه چې قومي ملاتړ ورسره نه ؤ، ځکه خو ویلای شو چې د دولت جوړول او په پیل کې د هغو ساتل د قومي ملاتړ په رڼا کې کېږي.

## د طرطوشي د دې خبرې دلیل چې په هر حالت کې د حکومت مرسته پوځ کوي

طرطوشي په خپل کتاب «سراج الملوك» کې لیکلي چې د حکومت ساتنه او دفاع پوځ او هغه تنخوا خواره کوي چې په منظم ډول د حکومت له لوري تنخواه ورته ټاکلې وي، خو په پیل کې چې کله د عامو حکومتونو بنسټ اېښودل کېږي هغه مهال د حکومت ساتنه پوځ نه کوي بلکې قومي لښکر یې کوي، هوکې خو چې کله حکومتونه پیاوړي شي په هېواد کې امن او ټیکاو راشي او حکومت د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسېږي او هلته ودرېږي او د هېواد پر اوسېدونکیو د حکومت غلبه ثابته او پخه شي دغه مهال که ووایو چې د وطن ساتنه پوځ کوي نو تر یوه حده رښتیا ده، غالباً طرطوشي حکومت د بوډا توب او کمزوری پر مهال لیدلی، هغه مهال چې

حکومت د خپلو ترلاس لاندې محکومو او تر خپل سیوري لاندې پالل شویو او تنخواه خورو پوځیانو ته اړ وي، نو نوموړې دغه خبره لیکلې ده. ځکه چې هغه د ملوك الطوایفی پر مهال ژوند کاوه هغه مهال د امویانو په حکومت کې فساد او خرابي پیدا شوې وه او د عربو ملاتړ ترې لرې شوی ؤ. هر امیر د خپلې سیمې خپلواك حاکم گرځېدلی ؤ او حکومت د تنخواه لرونکیو عسکرو او دنده لرونکیو ماموړینو مرستې ته محتاج ؤ. د سرقسطې ولس د ابن هود او د هغه د زوی مظفر تر واکمنی لاندې وو، د قومي ملاتړ هیڅ نښه نه وه پاتې ځکه چې عربو له درې سوه کلونو را دېخوا ډېر آرام او آسوده ژوند درلود او خپلې بربادی او تباهی ته نږدې شوي وو، طرطوشي په خپل ژوند کې یوازې یو خپلواك واکمن او شهزاده لیدلی و چې له قومي ملاتړ پرته یې واکمني کوله، هغه شاهزاده گان چې د حکومت لاسته راوړو پر مهال یې قومي ملاتړ درلود او د هغوی په ملاتړ واك ته رسېدلي وو، خو چې واکمني یې ټینگه شوه بیا یې قوم او خپل ته اړتیا نه درلوده، ځکه خو دغه ډول امیران په یادو شرایطو کې دښمنان او سیالان نه لري او دوی خپلې ټولې چارې په اجوره او تنخواه خلکو ته ورسپارلې، ځکه خو هغه په مطلق ډول دغه خبره لیکلې چې د حکومت ساتنه پوځ کوي، د ده نظر د حکومت د پیل مهال ته نه دی ور رسېدلی چې څه ډول حکومتونه باقي پاتې کېږي او حکومتونه د هغو کسانو منگولو ته لوېږي چې قومي ملاتړ لري، ځکه خو تاسو دغه خبره په ذهن کې درسره وساتئ!

دین الدین "مجروح"

Scanned with CamScanner

# درېيم فصل

## ځينې د حل او عقد خاوندان له قومي ملاتړ پرته حکومت ترلاسه کوي

د دې سبب دا دی چې کله د قومي ملاتړ خاوندان بريا وګټي او پر ولسونو او قومونو برلاسي شي، لوی هېوادونه ونيسي او د هغوی د واکمنو او حاکمانو په منځ کې په لرې پرتو سرحدي سيمو کې هم د اطاعت روح پوه کړای شي، دغه مهال که د داسې کورنۍ نه څوك د باندې ووزي او لرې سيمو ته پناه يوسي او د خپلې واکمنې کورنۍ د اداري له مرکز نه لرې شي، هغه د لرې سيمو چارواکي پر هغه راټولېږي د ده بلنه مني او د هغو موخو په ترلاسه کولو کې ورسره مرسته کوي چې هغه يې په سر کې پالي او بلاخره د ده په نامه د دولت په جوړولو کې ورسره مرسته کوي. په دې تمه دا کار کوي چې که هغه حکومت ونيسي او د خپلې کورنۍ له منګولو يې راوباسي يا به دوی ته د دې مرستې په انعام کې وزارت، قوماندانې او يا د سرونو د ساتلو دندې او مقامونه ورکړي، هغوی د ده د واکمنۍ نيولو ته هېڅکله هم سترګې نه نيسي او هغه د دوی د کورنۍ ځانګړتيا او حق ګڼي ځکه چې د همده قومي ملاتړ يې کړی دی او دا د ديني عقيدې برخه ګڼي چې د دې کورنۍ حاکميت ومني او هغو ته تسليم وي، دوی يې پاچاهي او واکمنۍ ته تمه نه کوي ځکه پر دې باور دي چې که داسې تمه وکړي نو الله تعالی به يې په عذاب اخته کړي. (زلزلې به پرې راولي)

## له قومي ملاتړ پرته د حکومت ترلاسه کولو ساری

دغه وضعيت په مراکش کې ادريسيانو او په مصر او افريقا کې عبيديانو (فاطميانو) ته پېښ شو، کله چې علويان له ختيځ نه وتښتېدل او مراکش ته ورسېدل او د خلافت له مرکزه بېل شول او وې غوښتل چې له عباسيانو نه حکومت واخلي، په داسې حال کې چې په خلکو کې دا عقيده وه چې د عبدمناف په کورنۍ کې په لومړي درجه د خلافت حقدار امويان دي، په دوهمه درجه کې يانې پر هغوی پسې بني هاشم دي. ځکه خو دغه خلك مراکش لور ته لاړل او د عباسيانو پرخلاف د خلافت د ترلاسه کولو په موخه ودرېدل او خلکو ته يې د خپل خلافت بلنه ورکړه، بربريانو څو خلې له دوی سره مرسته وکړه او د دوی حکومت يې پياوړی کړ، ادربه او مغلو د ادريسيانو ملاتړ وکړ، او کتامه، صنهاجه او هواره د عبيديانو (فاطميانو) په پلوی ودرېدل او د هغوی حکومت يې پياوړی کړ، په قومي لښکرو او ډلو يې د هغوی واکمني ټينګه او ثابته کړه، بشپړ المغرب او وروسته يې افريقا د عباسيانو له حکومت نه رابېل کړل او ورځ تر بلې د عباسيانو حکومتي نفوذ له دې سيمو نه لرې کېدو او د دې پرخلاف د عبيديانو (فاطميانو) حکومت پراخېدو، تر دې چې فاطميانو مصر او حجاز او شام ونيول او اسلامي هېوادونه د دوی او عباسيانو ترمنځ مساوي ووېشل شول، دغه بربريان چې د فاطميانو واکمني يې ټينګه کړه او پر دې باور وو چې فاطميان د حکومت حقدار دي بل څوك نه دي، خو د هغو تر حکم لاندې دوی د مقامونو او دندو ترلاسه کولو هيلې درلودې، دا ځکه چې تر بني هاشمو وړاندې د نړی ټولو څواکونو د قريشو او مضر واکمني منلې وه، ځکه حکومت د هغوی په اولاده کې پاتې شو تر دې چې عربي حکومت بشپړ ختم شو، د بدلون رابدلون پرېکړه الله تعالی کوي او د هغه جل جلاله پرېکړه هېڅوك راګرځولای او تم کولای نشي.

Scanned with CamScanner

# څلورم فصل

## د پراخ او هر اړخیزو حکومتونو پیل له دین څخه دی، که له نبوت څخه وي او که له بل غورځنګ څخه

د دې سبب دا دی چې حکومت په څواك ترلاسه کېږي او غلبه له قومي ملاتړه او پر یوه غورځنګ د رایو له اتفاق څخه. د خلکو په زړونو کې یووالی او اتحاد الله تعالی پیدا کوي کله چې دوی د الله پر دین زحمت او زیار باسي، لکه چې الله تعالی په دې تړاو فرمایي: «که دې د ځمکې د مخ ټول امکانات کارولي وای بیا به دې هم د دوی په زړونو کې مینه او الفت نه ؤ اچولی». دغه خطاب حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دی. د دې سبب دا دی چې زړونه خلك د ناروا هیلو او د دنیاوي تمایلاتو په لور ورکاږي څکه بې پخپلو منځونو کې د کینې او اختلاف پیدا کېدل لازمي دي، خو د دې پرخلاف چې زړه د حق لور ته راوګرځي او د دنیا خیال پرېږدي او له نارواو او باطل نه مخ واړوي، د الله تعالی لور ته پام واړوي نو د هغوی د موخو لوری یو طرف ته شي، څکه خو د کینې مجال نه پیدا کېږي، بلکې د دوی ترمنځ د یو بل د مرستې زورور احساس را پیدا کېږي، چې اختلاف بیا ډېر رامنځته کېږي، څکه خو د یووالي په برکت د دوی حکومت شپه او ورځ پرمختګ کوي او د حکومت حدود پراخېږي، په نړۍ کې ډېر لوی حکومت راځي چې وروسته به رڼا پرې واچوو.

دین الدین "مجروح"

# پنځم فصل

## مذهبي غورځنګ قومي ملاتړ ډېر پیاوړی کوي

کله چې په خلکو کې ديني رنګ زیاتېږي نو د دوی ترمنځ هغه کينه له منځه ځي چې د قومي عصبيت لرونکو ترمنځ وي، دغه رنګ د ټولو سترګې د حق په لور ور اړوي، که د حق خاوندان په کومه خپله مسئله کې نکر کوي نو د دوی ټولو نظر له يوې دريځې دی ځکه د دوی ټولو موخه يوه وي او هېڅ شی د دوی د موخې په مخه کې خنډ نه وي او دوی ټول د همدې موخې د ترلاسه کولو لپاره سرښندنې ته تيار وي.

د دوی پرخلاف د دنياوي حکومت غوښتونکي که د شمېر له مخې له دوی نه څو چنده زيات وي خو د هغوی بېلې بېلې هيلې او غوښتنې وي او موخې يې د باطل لپاره وي او د مرګ له وېرې يو او بل پرېږدي او تښتي، ځکه خو دنياوال د ديندارو مقابله نشي کولای که څه هم د دنياوالو شمېر زيات وي خو د دين خاوندان بريالي کېږي او د دنيا لپاره جنګېدونکي ډېر زر ماته خوري. ځکه چې په دوی کې راحت طلبي، ذلت او بې غيرتي وي لکه چې پاس مو يې يادونه وکړه. وګورئ د اسلام په پيل کې عربانو شانداري برياوې وګټلې او چې کوم لوري ته يې مخ واړاوه بريالي شول، د يرموك او قادسيې په جګړه کې د مسلمانانو شمېر د دېرشو زرو ټو نه لږ زيات ؤ، د قادسيې په جګړه کې د پارسيانو پوځ يو لك او شل زره تنه ؤ او د واقدي په قول د يرموك په غزا کې د هرقل د لښکر شمېر څلور لکه تنه ؤ. خو د مسلمانانو په مقابله کې يوه پوځ هم پښې ټينګې نکړای شوې. مسلمانانو دواړو لښکرو ته ماته ورکړه او د هغوی هېوادونه يې ونيول.

همدغه ډول حالت د لمتونه او موحدينو د المغرب له قبيلو سره ؤ، چې دې قبيلو قومي ملاتړ او تعصب هم درلود، خو لمتونه او موحدين پر هغوی بريالي شول ځکه چې د دوی ديني يووالي او قومي ملاتړ ډېر زيات کړی ؤ، په دوی کې د دين رڼا وه او د شهادت په جذبه راپورته شوي وو، ځکه خو د دوی په مخکې هېڅ ځواك ټينګ نشوای شو.

اوس پر دې فکر وکړئ کله چې ديني رنګ بدل شي او په هغو کې خرابي راشي نو ځواك يې څه رنګه ټوټه ټوټه شي، دغه مهال د برلاسی تکيه پر قومي ملاتړ پاتې شي، ځکه چې په دينداری کې له بدلون سره معنوي ځواك له منځه ځي، له همدې لامله په مقابله کې هغه ځواك ماته خوري چې يو وخت د جهاد په جذبه مالامال ؤ او پر دنيا يې واکمني درلوده، هغه مهال له دنياوالو سره قومي ملاتړ هم زيات ؤ او د هغوی شمېر هم زيات ؤ خو دوی سوچه سارايان وو، وګورئ موحدينو له زناته ؤ سره څه ډول مقابله وکړه، په داسې حال کې چې زناته تر مصامده ډېر خېره او سارايي وو خو مصامده د مهدي د ديني غورځنګ پيروان وو چې د دوی قومي ځواك يې څو برابره زيات کړی ؤ، ځکه خو هغوی په لومړی جګړه کې پر زناته بريالي شول او هغوی يې پر وژلو تېښتې ته اړ کړل، سره له دې چې په قومي تعصب او وحشي توب کې زناته ځواکمن وو، خو کله چې په مصامده کې ديني جذبه کمزورې شوه زناته ؤ له هر لوري يرغلونه پرې وکړل، او پر هغوی بېرته بريالي شول او حکومت يې ترې ونيو. خدای تعالی پر خپلو چارو غالب دی.

Scanned with CamScanner

# شپږم فصل

## مذهبي غورځنګ له قومي ملاتړ پرته زور نه اخلي

د دې سبب هماغه دی چې مخکې مو یې یادونه وکړه، چې د هر هغه کار لپاره چې د ولس راپورته کول او پارول اړین وي د ملاتړ سخته اړتیا ده، په یوه صحیح حدیث کې راغلي چې الله تعالی چې هر پیغمبر رالېږلی دی هغه یې د خپل قوم د ځواك او ملاتړ سره رالېږلی دی. نو چې الله تعالی قومي ملاتړ د خپلو پیغمبرانو لپاره ضروري بللی چې هغوی د الله تر ټولو نازولي او د معجزو خاوندان دي، د نورو لپاره خو قومي ملاتړ خامخا ضروري دی، هغوی خو به د بدلون او انقلاب لپاره خامخا قومي ملاتړ ته اړتیا لري.

دغه موضوع د ابن قسي شیخ الصوفیه او د خلع النعلین فی التصوف کتاب لیکوال ته ور پېښه شوې ده، نوموړي اندلس حق ته د بلنې په نامه راوپاراوه، دغه پېښه د مهدي له دعوت نه څه موده وړاندې وه، د هغه ډلې ته مرابطین وایي، د څه وخت لپاره د هغه حکومت یو څه پیاوړی شو ځکه چې د لمتونه پام د موحدینو په لور ور اوښتی ؤ او له هغو یې وېره درلوده، پر دې سربېره هغه مهال په اندلس کې بله کومه ډله او ځواك هم نه ؤ چې مرابطین یې لاندې کړي وای ځکه خو د هغوی حکومت دوام درلود تر دې چې موحدین د مغرب په نیولو بریالي شول، شیخ هم سمدستي د هغه تابعیت ومانه او د هغوی په تحریك کې شامل شو، هغه موحدینو ته د ده له واکمنی نه د تېرېدو لاره ورکړه چې د مراکش پر کلا حمله وکړي او هغوی یې په خپل برید کې ایسار کړل، ابن قسی الصوفیه شیخ لومړنی څوك دی چې په اندلس کې یې دیني تحریك پراخه کړ، د هغه پیروانو ته مرابطین ویل کېږي.

## د مبلغینو لپاره هم د قومي ملاتړ اړتیا شته

د تبلیغ کوونکیو لپاره هم همدغه حالت دی چې له بدیو منعه کوي او د نېکیو تبلیغ کوي، شرعي مسایل خپروي، دوی که عام خلك دي او که عالمان دي خو عبادت کوي، د دین پیروي کوي د ظالمو حاکمانو د اصلاح لپاره سر په تلي کې راپورته کېږي او دوی حکام او عام خلك د شرعي خلاف کارونو نه منعه کوي او تبلیغ ورته کوي، په دین کې چې کومې بدې خبرې خپرې شوې د هغو د له منځه وړو لپاره نه ستړي کېدونکې هلې ځلې کوي او شرعي خبرې خپروي، له دې نه د دوی موخه یوازې د الله تعالی خوښي او د فریضې ترسره کول دي.

د تبلیغاتو په دیني غورځنګ کې د دوی ډېر مینه وال ورسره ملګري کېږي، عام خلك هم چې پر یوه بڼه یې له دوی سره عقیدت او اخلاص دی او په دې لاره کې خپل ژوندونه په خطر کې اچوي بلکې زیاتره یې په دې لار کې له منځه ځي، دغسې خلك د «ثواب» پر ځای په «عذاب» اوړي ځکه چې الله تعالی پر دوی دا نه ده فرض کړې چې داسې ځانونه له مرګونو سره مخ کړي، بلکې تر خپل توان پورې یې د حق په تبلیغ حکم

فرمایلي دی. لکه چې رحمت للعٰلمین فرمایلي دي: که له تاسو نه څوك بدي ويني نو هغه دې په لاس لرې کړي، که يې په لاس د هغو د له منځه وړو وس نه درلود نو په ژبه دې د هغو د لرې کولو هڅه وکړي او که بې په ژبه هم د هغو توان او وس نه درلود نو بیا یې دې په زړه کې بد وګڼي. دا د ایمان وروستی برید دی.

د پاچاهانو او امیرانو وضعه پخه او څواکمنه ده، د دولتونو د واك ستنې له قومي ملاتړ او ښه زورور حرکت پرته بل شی نشي لړزولای او ویجاړولای چې مخکې مو د هغو یادونه کړې ده.

د پیغمبرانو او د الله تعالی د رالېږلیو استازیو هم د الله بندګانو ته د پیغام رسولو حالت پر همدې اصل ولاړ دی. د دوی شا ته هم د قومي او قبیلوي ملاتړ څواك دی تر څو د دوی دیني خوځښت بریالی شي، سره له دې چې که الله تعالی غوښتي د کایناتو له هر شي نه به یې د دوی ملاتړ کړی وای خو هغه جل جلاله د ټولو چارو لپاره اسباب ټاکلي دي او الله تعالی ډېر د حکمت او زیات علم خاوند دی.

د دې لپاره چې که څوك غواړي د تبلیغ لاره غوره کړي او کوم دیني تحریك وچلوي سره له دې چې هغه پر حقه هم دی نو له قومي ملاتړ او څواك پرته به هغه په دې کار کې بریالی نشي او خامخا به د بربادۍ کندې ته ورلوېږي او مړ کېږي به، خو که څوك غواړي په دروغو او ټګۍ د دین تر شعار لاندې ځان حکومت او واك ته ورسوي او د دې لپاره ځانګړی حرکت پیل کړي، نو لازمه ده چې په ربښتیا یې په لاره کې خنډونه جوړ شي او په مرګونو کندې ته ورټېل وهل شي ځکه چې دیني تحریك الله تعالی ته منسوب دی او د الله تعالی رضا، مرسته، خلوص او د مسلمانانو د ژوند ښه والی یې بریالی کوي، په دې نظریه کې هېڅ مسلمان شك نشي کولای او نه د عقل خاوندانو ته پکې د شك ځای شته.

## تر ټولو مخکې اصلاحي تحریك له بغداده پیل شو

په اسلام کې به دې ډول د اصلاح جذبه او احساس تر ټولو مخکې په بغداد کې پیل شو، کله چې د طاهر فتنه را پیدا شوه او امین ووژل شو او مامون عراق ته په راتلو کې وځنډېده او په خراسان کې پاتې شو، بیا یې د امام حسین «رض» له اولادې څخه علي بن موسی الرضا خپل ولي عهد وټاکه، پر دې د عباسیانو کورنۍ سخته نیوکه او مخالفت وکړ او یو بل یې د مامون پرخلاف پاڅون او بغاوت ته راوبلل چې له مامون سره بیعت مات کړي او نوی حکومت جوړ کړي. د همدې لپاره یې له ابراهیم بن مهدي سره بیعت وکړ او په بغداد کې د وینو لښتي وبهېدل، ګډوډي راغله او عام خلك د وسله والو بدمعاشانو له لاسه سخت وځورېدل. د کاروانونو لارې ونړل شوې او د وژلو او لوټلو دوران پیل شو او دغه لوټ شوی مال په ربړا ورځ په بازارونو کې پلورل کېدو، د بغداد خلکو واکمنو ته له وسله والو لوټمارانو شکایت کاوه او مرسته یې غوښته خو هېچا یې غږ نه اورېد او مرستې ته یې څوك نه ور وتل. داسې بې قانوني او ګډوډي خپره شوه چې بغداد د فتنو او فساد په مرکز بدل شو. کله چې نېکو خلکو او علماؤ دغه حالت ولید نو د دې لپاره سره راټول شول چې د بدمعاشانو او لوچکانو مخه ونیسي تر څو د شریفو خلکو سر، مال او عزت خوندي شي او د لوټمارانو لاسونه ونیول شي.

Scanned with CamScanner

## خالد دریوس د مبلغ په توګه

د لوټمار بازار ګرم و چې خالد دریوس نومي سړي پاڅون وکړ او خلك يې امربالمعروف او نهی عن المنکر ته راوبلل، د نوموړي دغه نیك او سپېڅلي تحریك ته ډېر خلك ورشامل شول، بیا خالد له بد کردارو خلکو سره جګړه وکړه او پر هغوی لاسبری شو او هغو ته يې سختې او له عبرته ډکې سزاګانې ورکړې.

## د مبلغ ابوحاتم یادونه

له خالد وروسته بغداد ته له نژدې سیمې نه یو تن د ابوحاتم سهل بن سلامه انصاري په نوم پاڅون وکړ، هغه قرانکریم په غاړه کې راوځړاوه او د خالد په څېر بلنه يې خلکو ته ورکړه، له دې تحریك سره یو ځای هغوی پر قرآن او حدیث د عمل کولو لپاره تبلیغ ته دوام ورکوي، د ده تر بیرغ لاندې د بني هاشم د کورنۍ ډېر مشران او کشران راټول شول، بلاخره سهل د طاهر مانۍ ته ورغي او خزانه ترلاسه کوي او بیا د بغداد په هره کوڅه کې دا اعلان کوي چې څوك دې پر لاره تېروونکي ته په کاږه نظر نه ګوري، لوټماران دې له لوټمار نه لاس واخلي، خالد سهل ته وايي چې زما په اند پاچا بلکل بې ګناه دی، سهل وايي چې زه به هر هغه څوك په توره دوه ټوټې کړم چې د قرآن او سنت پرخلاف عمل وکړي، که هغه هر څوك وي.

په بغداد کې دغه خوځښت پر ۲۹۱ په بل روایت پر (۲۰۱ هجري) کال پېښ شو. بلاخره د سهل د مخ پر زیاتېدونکي ځواك په مخه کې ابراهیم بن مهدي درېږي او له هغه سره جګړه کوي او هغه ته يې ماته ورکړه او سهل اسیر نیسي، خو هغه ډېر زر له زندانه تښتي او ځان ژغوري خو تحریك يې ختم شو.

غرض دا چې تر دوی وروسته ډېر نور کسان هم په دروغو د هغوی په څېر شعارونه اوچتوي او نوي حرکتونه پیلوي، ځانونه د حق داعیان معرفي کوي، ښیله دې چې وپوهېږي چې د داسې ادعاؤ لپاره کومو شیانو ته اړتیا ده، چې په هغو کې تر ټولو مهم د قومي ملاتړ ځواك دی، دوی د خپل کار له پای نه بلکل بې خبره وو، دغسې کسان که لیونیان وي نو درملنې ته يې اړتیا وي او که يې مازغه پر ځای وي بیا د دې اړتیا ده چې سزا ورکړای شي، باید ووژل شي او یا داسې سزا ورکړای شي چې نورو ته عبرت شي. په دې شرط چې هغوی امن زیانمنوي او جنجال ته لمن وهي، که هسې مسخره او ټوکمار وي بیا يې پروا مه لرئ.

## امام مهدي ښه خپلول

ځینې کسان امام مهدي (چې په آخره زمانه کې به راښکاره شي او له اهل بیتو څخه به وي) له ځانه جوړ کړي او خلکو ته راووزي، په دوی کې ځینې دعوه دار دي چې امام مهدي یم، خو ځینې نور يې بیا د هغه د ځایناستي او استازولی دعوه دار وي او ځان را ښکاره کړي په داسې حال کې چې دوی د فاطمیانو له نبیرې نه خبر هم نه وي. زیاتره د دغه ډول ادعاؤ لرونکي کسان خیال پالونکي او یا لیونیان دي او یا داسې ټګان دي چې غواړي په دغه ډول ادعاؤ ریاست او واکمنی ته ځانونه ورسوي، چې هیله يې له ډېره وخته په زړونو کې پالي خو د ریاست ترلاسه کولو وسایل او امکانات نه لري، دوی فکر کوي چې دغه ډول حرکت به يې خپل مراد ته

ورسوي او دايي يوازيني وسيله وي، خو له دې نه ناخبره وي چې دا ورته خطرناکې پايلې لري چې هغه به د مرگ کندې ته وغورځوي، دغه ډول کسان په دې دليل چې فتنې را پيدا کوي ډېر زر وژل کيږي او پايله يې ډېره ناوړه وي.

## په اوومه پېړۍ تويذري د مهدي توب دعوه دار شو

د اوومې پېړۍ په پيل کې په سوس کې يوه صوفي چې تويذري (د مصر او بيروت په چاپ کې تويذري) نومېدو او د ماسه په جومات کې اوسېدو او دا دعوه يې وکړه چې مهدی دی، (د سوس ښار د سمندر پر څنډه جوړ دی) هغه وويل چې زه هغه مهدي يم چې د راتلو وعده يې ورکړ شوې ده. غوښتل يې چې خلکو نه دوکه ورکړي او ځان خپلو موخو ته ورسوي، د دې ځای په خلکو کې د مهدي د راتلو په باب ډېره تلوسه وه او خلکو دا عقيده درلوده چې د مهدي عليه السلام د راتلو وخت راغلی دی او دوی د هغو په انتظار وو. په خلکو کې دغه باور هم خپور ؤ چې مهدي به له همدې جوماته بلنه پيلوي، څکه خو عام بربريان د پتنگانو په څېر پرې راټول شول، بيا د هغه ځای سردارانو د خطر احساس وکړ چې دغه فتنه اوږده نشي، هماغه وو چې د مصامده ؤ رييس عمر سکسيوري، يو تن وگوماره چې د مهدي توب دعوه دار د خوب په حالت کې ووژني، هغه همداسې وکړل.

## په طوس کې عباس د مهدي توب دعوه دار شو

همدغسې د دې پېړۍ په پيل کې د همدې سوس له منځه يو سړی د عباس په نامه راپورته شو او د مهدي توب دعوه يې وکړه، د ده غږ د بربريانو د غماره قبيلې لوده او بې عقله کسانو بدرگه کړ او ورپسې روان شول، وروسته هغه د بادس پر ښار يرغل ور وړ او د تورې په زور يې هغه لاندې کړ، خو بلاخره په ۴۰ ورځو کې دننه هغه هم ووژل شو او دی هم د مخکې وژل شويو له برخليك سره يو ځای شو، په هر صورت دغه ډول مثالونه ډېر دي، خلك قومي ملاتړ ته له پام پرته دغه ډول دعوې کوي او پر هغو نور دوکه کيږي او بيا د مرگ کومي ته لوېږي، خو څوك چې په دغسې دعوو غواړي عام خلك په چل ول تېر باسي نو هغوی خامخا د دې وړ دي چې دغه مراد ته ونه رسېږي، دغسې خلك بايد د خپلو کړنو په سزا ورسېږي او د ظالمانو لپاره همدغه سزا ده.

دین الیاس ''مجروح''

Scanned with CamScanner

# اووم فصل

## د هر حکومت ځانګړي حدود وي او تر هغو وړاندې نشي تلای

د دې سبب دا دی چې واکمن قوم چې هغوی دغه حکومت جوړ کړی او هغه چلوي خامخا په بېلابېلو هېوادونو او برېدونو کې په خپلو ټاکلو شویو برخو وېشل کېږي تر څو له دښمن نه د سرحدونو ساتنه وکړي او د هغو سرحدي سیمو اداره په لاس کې واخلي، پر خلکو د حکومت احکام پلي کړي، مالیې ترې راټولې کړي او د قانون خلاف کړو وړو مخه ونیسي.

کله چې دغه ډلې ټولې په سرحدونو ووېشل شي بلاخره یې د وګړو شمېر ختم شي. د هېوادونو وضعه دغه مهال داسې حد ته رسېدلې چې هر هېواد له مرکزه تر وروستیو برېدونو په یوه دایره کې رسمي برېدونه جوړوي چې ساتنه یې کوي، اوس که یو هېواد وغواړي چې تر خپلو برېدونو وړاندې نورې سیمې ونیسي او په خپلو حدودو کې یې شاملې کړي نو اړتیا ده چې دغه سیمې له پوځونو او ساتونکیو پرته پاتې شي. په دې صورت کې ګاونډي دښمن ته پر هغوی د یرغل فرصت په لاس ورځي او د دې زیان ټول حکومت او هېواد ته اوړي. ځکه چې له یوه پلوه دښمن ځواکمن کېږي بل لور ته د حکومت سام او هیبت ته زیان رسېږي، خو که پوځ زیات وي او پر لرې سرحدونو او شاوخوا له وېشلو وروسته هم د هېواد د ساتنې لپاره پوځ پاتې وي نو په حکومت کې ځواک پاتې وي او د خپلو سرحدونو د پراخولو وړتیا او توان لري، تر دې چې له ځواک سره سم یې دایره پراخوي او پر مناسب حد درېږي.

## پر یوه خاص حد د حکومت د درېدو سبب

د دې طبیعي سبب چې حکومت تر یوه ځانګړې حده ورسېږي نو بیا ودرېږي قومي ملاتړ دی او هر فاعلي ځواک همدغسې دی، هر ځواک چې عمل ترې صادرېږي همدغه کیفیت یې په کړنه کې خامخا شته.

د هر هېواد په پلازمینه کې ځواک او توانمندي د سرحدونو او اطراف په پرتله ډېره وي، کله یې پراخې وروستي پړاو ته ورسېږي نور نو تر خپلو برېدونو وړاندې د نفوذ او پرمختګ توان نه لري او بې وسي او ناتواني پرې غلبه کوي. لکه د اوبو پر مخ د رڼا وړانګې چې په اوبو کې د یو شي له ورلوېدو سره دغه وړانګې له مرکزه تر اطرافو په یوه دایره کې تیت شي، چې څومره دغه وړانګې له مرکزه لرې کېږي پیکه کېږي تر دې چې په یوه ساحه کې بشپړې ختمېږي.

## پر حکومت د بوډاتوب اغېزه

چې پر حکومت بوډاتوب غلبه وکړي او په هېواد کې کمزوري راشي نو لومړی له خپلو اطرافو او اړخونو نه راټولېږي خو مرکز یې خوندي پاتې کېږي، تر دې چې د مرکز د تباهۍ لپاره هم د الله تعالی حکم وشي هغه مهال مرکز هم رانسکورېږي، که چېرته یو دولت مرکز له لاسه ورکړي د اطرافو پاتې کېدل ګټه ورته نه رسوي

Scanned with CamScanner

او اطرافونه له پلازمېنې پرته ډېر زر شړېږي، ځکه چې مرکز او پلازمېنه د زړه حيثيت لري چې روح له هغو پوکل کېږي، چې کله زړه د دښمن لاس ته ولوېد نو ټول اطرافونه او سرحدونه به يې ويجاړ شي. دغه مسئله د کسرا د حکومت په باب ارځولای شو چې مداين يې پلازمېنه وه، کله چې مداين مسلمانانو فتحه کړ نو د کسرا ټول حکومت له منځه لاړ، په اطرافو کې چې حکومت د يزدگرد په لاس کې پاتې ؤ هغه هم ترې لاړ او بشپړ ختم شو، د دې پرخلاف شام چې د روم د قيصر د واکمنۍ يوه برخه وه کله چې مسلمانانو هغه فتحه کړ څرنګه چې پلازمينه قسطنطنيه وه، د شام له لاسه ورکولو وروسته روميان په خپل مرکز کې راټول شول چې د شام له لاسه ورکولو هغوی ته لوی زيان وانه وښت او هېواد يې پر قسطنطنيې تړلی پاتې شو. تر دې چې بيا هغه مهال را ورسېد چې قسطنطنيه هم د مسلمانانو په لاس فتحه شوه.

د اسلام په پيل کې د عربو حالت ته هم بايد پام وکړو، چې هغه مهال د دوی ډلې او قومونه ډېر وو او د حکومت د ادارې لپاره يې زيات کسان درلودل څومره ګړندي يې پر خپلو ګاونډيو هېوادونو لکه مصر، شام او عراق بريا ومونده او بيا تر دې هېوادونو هم تېر شول سند، حبشې، افريقا او ورپسې اندلس ته ورسېدل، خو چې کله ډلې ډلې په بېلابېلو هېوادونو کې تيت شول او د پوځيانو په څېر په هغو هېوادونو ورکېوتل او د تيت کېدو په سبب د دوی د حکومتي ادارې کسان هم کم شول چې نور يې برياوې نه شوای کولای او د اسلام دعوت او بلنه هم لوړ حد ته ورسېده او نور يې له دې حدودو تېری ونه کړ، له همدې ځايه کرار کرار د اسلامي حکومت د دوران زوال او شا ته تګ پيل شو، تر دې چې د خدای په فرمان او حکم له منځه لاړ.

تر دې وروسته د نورو پاچاهيو حالت هم همدغسې و چې د دوی د ساتنې او دوام لړی د دوی د ساتونکيو تر شمېر او زياتوالي پورې تړاو درلود. کله چې په بېلابېلو ساحو کې وېشل کېدل او د حکومتي ادارې مامورين کمېدل برياوې او فتحې يې ختمېدلې، دا د خلکو په منځ کې د خدای تعالی سنت او لاره ده.

دين الدين "محبوب"

Scanned with CamScanner

# اتم فصل

## د حکومت پراخي د هغو خپرېدل او دوام د چلوونکيو پر زياتوالي او کمبود پورې تړلی دی

دا چې د حکومت تکيه پر ملي ملاتړ ده او د قومي ملاتړ خاوندان د حکومت ساتونکي وي چې په ولايتونو او ېلابېلو ساحو وېشل شوي وي، له همدې لامله چې هر څومره د لويو حکومتونو د چلوونکيو ډلې او قومونه ډېر وي په هماغه کچه به هغه هېواد پياوړی او څواکمن وي او په نورو هېوادونو او سيمو به برلاسي او مسلط وي او د واکمنۍ قلمرو به يې پراخ وي.

## د دې نظريې په تائيد اسلامي حکومت ته پام وکړئ

د دې نظريې په تائيد کې اسلامي حکومت ته پام وکړئ، کله چې الله تعالی د عرب کلمه له اسلام سره غوټه کړه او د دوی خورې ورې قبيلې يې د اسلام تر بيرغ لاندې راټولې او سره يو کړې، نو د تبوك تر غزا پورې چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم وروستۍ غزا وه د مسلمانانو شمېر تر يو لك او لس زرو تنو پورې رسېدلی ؤ، چې په هغو کې پلي او سپاره له مضر تر قحطان او مصري پورې ټول شامل وو، د رسول الله صلی الله عليه وسلم تر وفات پورې يو شمېر نور هم پر هغو ور زيات شول. کله يې چې د شاوخوا هېوادونو د فتحه کولو لپاره پرمخ گامونه واخيستل د دوی پوخ او وسلې او ټولټال شمېر تر هغه څه چې يادونه مو وکړه زيات نه وو، خو د فارس او روم امپراتورۍ، په ختيځ کې ترکان او (د المغرب او لوېديځ) فرنگيان او بربريان او د اندلس گاټ قوم يې ټول تابع او سلامي کړل، دوی له حجاز نه د سوس تر وروستۍ څنډو او له يمن نه د شمال تر وروستيو څنډو ورسېدل او پر اوو اقليمونو يې واکمني پيل شوه.

## د دې نظريې بل تائيد

اوس راځئ د صنهاجه او موحدينو حکومت چې د عبيديانو (فاطميانو) سره په مقابله کې وو او ټېرونه يې ډال کړي وو پرتله کړو او پايله وگورو دا چې د کتامه قبيله يا د عبيديانو د دولت بنسټگر تر صنهاجه او مصامده زيات وو حکومت يې هم لوی ؤ له همدې لامله يې افريقا او لوېديځ، شام، مصر او حجاز ونيول.

تر دوی وروسته که زناته قبيلې ته نظر واچوو څرنگه چې د دوی د حکومت چلوونکيو شمېر تر مصامده لږ ؤ د واکمنۍ موده يې تر موحدينو لنډه وه، څکه چې دوی د واکمنۍ له پيله تر مصامده په شمېر کې لږ وو. تر دې وروسته د دوو هممهاله حکومتونو څرنگوالی تر غور لاندې نيسو، يو په مراکش کې د زناته د مريني کورنۍ او بل په تلمسان کې د عبدالواد کورنۍ، دا چې د حکومت له پيله د مريني کورنۍ شمېر تر عبدالواد کورنۍ زيات ؤ د هغوی حکومت او قلمرو هم د عبدالواد د کورنۍ تر حکومت او قلمرو څواکمن او پراخه ؤ، په همدې دليل څو څلې مريني کورنۍ پرلپسې پر هغوی بريا ترلاسه کړه ويل کېږي چې د پاچاهی په پيل کې د

Scanned with CamScanner

مریني کورنۍ شمېر درې زره او د عبدالواد زر ته ؤ. خو [د دولتونو وړوکوالی او لويوالی د هغو د ښارونو په شمېر پورې تړلی وي او د نفوسو او اتباعو زیاتوالی د ښارونو په زیاتوالي پورې تړاو لري] د یوه هېواد پراخوالی او څواکمني د حکومتولی په پیل کې په همدې تناسب یانې د کورنۍ په شمېر پورې اړه لري چې بریا ترلاسه کوي، بیا یې د واکمنۍ د دوام موده هم په همدې تناسب ده، څکه چې د یوه ژوندي شي د عمر اندازه د هغه د مزاج په څواك پورې تړلې او د دولتونو مزاج هماغه قومي (ملي ملاتړ) دی، هر کله چې ملي ملاتړ پیاوړی وي مزاج به یې د همدغه ملاتړ تابع وي او د حکومت د مودې دوام به یې هم زیات وي. ملي څواك د قومونو په شمېر او زیاتوالي پورې تړلی دی.

## د دې نظریې رښتینې سبب

د دې اصلي سبب دا دی چې حکومت له اطرافو نه راټولېږي او وړوکی کېږي، که د کوم هېواد ساحه پراخه او ډېرې سیمې یې تر واك لاندې وي اطرافونه او لرې سرحدونه یې له پلازمېنې څخه لرې وي، نو هره نیمګړتیا چې پېښه شي وخت او زمان نیسي، د ډېر پراخه هېواد د شړېدو وخت هم زیات وي او د هغه حکومت عمر هم زیات وي. څکه چې په لرې پرتو سیمو او مرکز کې د خرابیو او نیمګړتیاو رابښکاره کېدل به ډېر وخت ونیسي، په بغداد کې د عباسیانو او په اندلس کې د امویانو حکومت ډېره موده دوام وکړ: د څلورمې پېړۍ په وروستیو کې د دوی د زوال لاملونه راڅرګند شول، همدغه ډول د عبیدیانو حکومت تر ۲۸۰ کلونو پورې دوام وکړ او د صنهاجه حکومت تر دې هم لږ موده دوام وموند یانې له ۳۵۸ هجري څخه چې معزالدوله د افریقا د حکومت واګې بلګین بن زیري ته وسپارلې تر ۵۵۷ هجري پورې چې موحدینو قلعه او بجایه ونیول، د موحدینو د حکومت موده تر دې مهاله پورې دوه سوه اویا کالو ته رسېدلې وه. دغه ډول له ورایه ښکاري چې د حکومتونو د دوام موده او عمر د هغوی د چلوونکیو او چارواکیو له شمېر سره تړاو لري او دا د خپلو بندګانو په منځ کې د الله تعالی سنت او طریقه ده.

Scanned with CamScanner

مرېني کورنۍ شمېر درې زره او د عبدالواد زر ته و. خو [د دولتونو وړوکوالی او لویوالی د هغو د ښارونو په شمېر پورې تړلی وي او د نفوسو او اتباعو زیاتوالی د ښارونو په زیاتوالي پورې تړاو لري] د یوه هېواد پراخوالی او څواکمني د حکومتولی په پیل کې په همدې تناسب یانې د کورنۍ په شمېر پورې اړه لري چې بریا ترلاسه کوي، بیا یې د واکمنۍ د دوام موده هم په همدې تناسب ده، ځکه چې د یوه ژوندي شي د عمر اندازه د هغه د مزاج په ځواك پورې تړلې او د دولتونو مزاج هماغه قومي (ملي ملاتړ) دی، هر کله چې ملي ملاتړ پیاوړی وي مزاج به یې د همدغه ملاتړ تابع وي او د حکومت د مودې دوام به یې هم زیات وي. ملي خواك د قومونو په شمیر او زیاتوالي پورې تړلی دی.

## د دې نظریې رښتینی سبب

د دې اصلي سبب دا دی چې حکومت له اطرافو نه راټولېږي او وړوکی کېږي، که د کوم هېواد ساحه پراخه او ډېرې سیمې یې تر واك لاندې وي اطرافونه او لرې سرحدونه یې له پلازمېنې څخه لرې وي، نو هره نیمګړتیا چې پیښه شي وخت او زمان نیسي، د ډېر پراخه هېواد د شړېدو وخت هم زیات وي او د هغه حکومت عمر هم زیات وي. ځکه چې په لرې پرتو سیمو او مرکز کې د خرابیو او نیمګړتیاو راښکاره کېدل به ډېر وخت ونیسي، په بغداد کې د عباسیانو او په اندلس کې د امویانو حکومت ډېره موده دوام وکړ؛ د څلورمې پېړۍ په وروستیو کې د دوی د زوال لاملونه راڅرګند شول، همدغه ډول د عبیدیانو حکومت تر ۲۸۰ کلونو پورې دوام وکړ او د صنهاجه حکومت تر دې هم لږ موده دوام وموند یانې له ۳۵۸ هجري څخه چې معزالدوله د افریقا د حکومت واګې بلګین بن زیری ته وسپارلې تر ۵۵۷ هجري پورې چې موحدینو قلعه او بجایه ونیول، د موحدینو د حکومت موده تر دې مهاله پورې دوه سوه اویا کالو ته رسېدلې وه. دغه ډول له ورایه ښکاري چې د حکومتونو د دوام موده او عمر د هغوی د چلوونکیو او چارواکیو له شمېر سره تړاو لري او دا د خپلو بندګانو په منځ کې د الله تعالی سنت او طریقه ده.

Scnanned by: Zainuddin Majrooh

Scanned with CamScanner

# نهم فصل

## په کومو هېوادونو کې چې ډلې او قومونه ډېر وي د هغوی حکومتونه پیاوړي نه وي

د دې سبب د خلکو غوښتنې او د رایو اختلاف دی، ځکه چې د هرې رايې او غوښتنې تر شا يو ملاتړ شته چې د بلې رايې او غوښتنې مخه نيسي، له همدې لامله هره ورځ خلك د حکومت ملاتړ کوي او جنجال جوړوي، سره له دې چې له حکومت سره هم خپلواك ملي ملاتړ وي بيا هم د ولس قومي ډلې هره يوه پر خپل خواك اعتماد کوي او هره ورځ نوې فتنې سر راپورته کوي.

## د بربريانو پرلپسې بغاوتونه

د افريقا او المغرب تاريخ ته كه د اسلام له پيله تر ننه نظر واچوو زموږ د دې نظر اصلي حقايق به درته ښه روښانه شي، ځکه چې د دې سيمې اوسېدونکي له بېلابېلو قومونو او قبيلو سره تړاو لري، له همدې لامله ابن ابي سرح صحابي چې د دې ځای پر بربريانو او فرنگيانو لومړی ځل برلاسي ترلاسه کړه هغې دوام ونکړای شو او پياوړې نه شول، بربريانو هره ورځ فتنې راپورته کولې او له اسلام نه به بېرته گرځېدل او مرتد کېدل به. دوی د همدې مرتد کېدو په سبب د مسلمانانو په لاس ډېر وژل کېدل هم.

کله چې دين په دوی کې پياوړی او پوخ شو بيا هم دوی خپل عادتونه پرېښبودل او بربريانو به اړ دوړ جوړاوه او د خوارجو عقيدې به يې غوره کولې، ابن ابي زيد ليکي چې بربريان ۱۲ ځله له دين نه وگرځېدل، په دوی کې اسلام د موسی بن نصير د واکمنۍ پر مهال او تر هغه وروسته پياوړی شو. د حضرت عمر فاروق د دغه قول (افريقا د خپلو اوسېدونکيو په زړونو کې توپير پيدا کوي) مانا همدغه ده، يانې نوموړي د افريقا د قومونو او قبيلو زياتوالي ته اشاره کړې ده چې هغوی بغاوت او سرکشي ته هڅوي. په هغه زمانه کې په عراق او شام کې داسې کيسې نه وې ځکه چې دغه سيمې د قيصر او کسرا تر اغېزې لاندې وې چې په هغو کې ښاري ټولنې پر مختللې او مهذبې وې، امن خوښې وې او له جگړو او شخړو څخه لرې اوسېدل، وروسته چې د دې سيمو حکومت د مسلمانانو لاسونو ته ولوېد نو داسې څوك پکې نه وو چې له مسلمانانو سره جگړه وکړي او کوم خنډ جوړ کړي.

## د بربريانو بې شمېره قبيلې

په المغرب کې د بربريانو بې شمېره قبيلې دي او ټول په دښتو او سارا کې ژوند کوي او منظمې قبلې او ډلې لري، کله چې کومه قبيله له منځه ځي نو ځای يې بله قبيله نيسي خو په اړدوړ او مرتد کېدو کې خپلې پخوانۍ لارې نه پرېږدي، ځکه په افريقا کې د عربو د حکومت په ځواکمنولو کې ډېر وخت ولگېد.

## په اسراییلو کې د بېلابېلو قبیلو په سبب د رایو اختلاف

په شام کې د اسراییلو په زمانه کې هم همدغه حالت ؤ او هلته بې شمېره بېلابېلې قبیلې وې لکه فلسطین، کنعان، بني عیصو، بني مرین، بني لوط، رومیان، یونانیان، عمالقه، الکریکش، نبط او نورې چې په موصل او د جزیرې په اطرافو کې اوسېدل، دوی ډېر د بېلابېلو قومي خېلونو لرونکي وو، ځکه خو اسراییلو ته د ځواکمن حکومت جوړولو او د هغو ساتنه او دوام په مخه کې ډېرې ستونزې راغلې او هېواد یې څو ځله له لاسه په وتلو شو، بیا د دوی ترمنځ اختلافونه را پیدا شول او د خپل پاچا سره یې مخالفت پیل کړ او بغاوت یې وکړ، بني اسراییل د خپل حکومت پر مهال آرام نه شول تر دې چې پارسیان او وروسته یونانیان پر دوی برلاسي شول او په پای کې د دوی د خپل وطن د پرېښودو پر مهال رومیانو هېواد ترې لاندې کړ.

## په داسې هېوادونو کې چې بېلابېل قومي عصبیتونه نه لري حکومت آسانه دی

د دې پرخلاف په هغو سیمو کې چې ډېر قومونه نه وي د حکومت پیاوړی کول پکې آسانه وي او د داسې سیمو واکمني د رعب خاوند وي او قوانین په اسانه پلي کولای شي، ځکه چې هلته پاڅونونه او بغاوتونه نه کېږي او په داسې سیمو کې حکومت ډېر ځواك ته اړتیا هم نه لري، لکه اوس مهال چې د مصر او شام حالت دی، ځکه دغه هېوادونه له بېلابېلو قبیلوي عصبیتونو څخه بېغمه دي، مانا دا چې شام د قبیلو کان نه دی ځکه خو مصریان آرام او سوکاله حکومت ته دوام ورکوي او اړدوړ او فتنې نه راپورته کېږي. بس پاچا دی او د دغه ولس او پر دوی ترکي پاچا حکومت کوي او د هغوی قبیلې یو پر بل پسې حکومت نیسي او د هغوی په کورنیو کې پاچاهي راګرځي، دې ته د عباسیانو خلافت ویل کېږي او په بغداد کې د عباسي خلیفه په نامه خطبه ویل کېږي، اوسمهال په اندلس کې هم وضعه همدغسې ده، څرنګه چې د ابن احمر د کورنۍ پاچاهي ده، په پیل کې یې واکمني ټینګه نه وه او حکومت کوم شان او دبدبه نه درلوده چې رعب یې درلودای، یوازې د امویانو یوه عربي کورنۍ پاتې وه چې پر اندلس برلاسې شوې وه او حکومت یې کاوه کله چې د اندلس عربي حکومت ختم شو او د حکومت واك د بربریانو لاس ته ورغی چې لمتونه (مرابطین) او موحدین بلل کېدل، د دې هېواد خلك له هغوی نه ډېر وځورېدل او په تنګ شول. هغوی ته د خلکو راقابو کول ګران شول او په زړونو کې یې له حکومته کینه زیاته شوه، موحدینو او سردارانو د خپلې واکمنۍ په وروستیو وختونو کې خپلې زیاتره کلاوې پاڅونوالو او یاغیانو ته وسپارلې تر څو مراکش د دښمن له زیان رسولو څخه خوندي پاتې شي او دغه پاڅون کوونکي د دوی ملاتړ وکړي او مراکش چې د دوی پلازمینه او دارالخلافه وه خوندي پاتې شي. د حکومت د دې وضعې په لیدو د اندلس د پخوانیو اصیلو عربي کورنۍ پاتې اولادې چې له ښارونو او پلازمینې لرې اوسېدلې او زیاتره په پوځ کې شامل وو، په اندلس کې راټول شول او د حکومت پرخلاف یې د بغاوت بیرغ اوچت کړ، لکه ابن هود، ابن احمر، ابن مردنیش او نور، د دوی سرلارې ابن هود ؤ، نوموړي خلك په ختیځ کې د عباسیانو د حکومت پیروي ته راوبلل او ولس یې د موحدینو پرخلاف را وپاراوه، تر دې چې خلکو خپل بیعت له موحدینو نه واخیست او هغوی یې له هېواده وشړل، ابن هود د اندلس حکومت ونیو.

## د ابن احمر دوران

وروسته بیا ابن احمر وغوښتل چې حکومت ترلاسه کړي او هغه د ابن هود د بلنې مخالفت وکړ، ډېرې هڅې یې پیل کړې خلك یې په افریقا کې د موحدینو د پاچا ابن ابي حفص په پلوی راوبلل، هغه د یوې وړوکې ډلې په ملاتړ چې هغوی ته یې رییسان ویل د حکومت په نیولو بریالی شو دا چې په اندلس کې ډېرې ډلې او قبیلې نه وې تر هغو زیات څواك ته هغه اړتیا نه درلوده، ځکه چې په اندلس کې یوازې پاچا او یو ولس ؤ چې بېلابېل قومونه او ډلې په هغو کې نه وې، وروسته بیا ابن احمر د عیسوي پاچا په ملاتړ تکیه کوله چې له ده سره یې د زناته د شهزاده گانو او یوې ډلې په واسطه مرستې کولې، بیا د زناته یوه پاچا غوښتل چې پر اندلس یرغل راوړي او د نیولو هیله یې ورسره پیدا شوه، خو ابن احمر د زناته مرستندویو څواکونو دغه فتنه بشپړه ختمه کړه او د ابن احمر پاچاهي څواکمنه شوه او په خلکو کې یې نفوذ او رسوخ زیات شو، خلك له هغه سره روږدي شول او مخالفین یې له هغه سره له جگړې ناتوانه او بې وسه شول او پاچاهي یې په کورنۍ کې میراثي شوه او ترننه پورې پاچاهي په هماغه کورنۍ کې ده، نو څوك دې دا گومان نه کوي چې ابن احمر ملي ملاتړ نه درلود، سره له دې چې په پیل کې هغه لږ ملاتړ درلود بیا هم دومره ؤ چې اړتیا یې پرې پوره کېدله، ځکه چې په اندلس کې د ډېرو قبیلو او ډلو د نشتوالي په سبب برلاسی ترلاسه کولو ته لږ څواك ته اړتیا وه.

# لسم فصل

## په عزت او شرف کې ځانګړتیا د پاچا طبیعي خاصیت دی

د دې سبب دا دی چې مخکې مو هم یادونه کړې چې یو هېواد د قومي ملاتړ په پایله کې رامنځته کېږي او ملي ځواك له ډېرو ډلو او قبیلو نه جوړ وي، چې په هغو کې یوه ډله پر نورو ټولو ځواکمنه وي او هغه پر هغو نورو ټولو غلبه کوي او راقابو کوي یې تر دې چې ټولې په خپل ځان کې راټولوي، له همدې لارې پر ټولنه او خلکو او حکومتونو واك ترلاسه کېږي. د دې راز په دې کې دی چې په یوه ځانګړې قبیله کې عمومي قومي ملاتړ د یوه ژوندي شي لپاره د مزاج په کچه دی او مزاج له عناصرو نه جوړ دی او دغه مسئله هم ثابته ده چې کله عناصر مساوي او برابر وي نو له هغو نه په هېڅ صورت مزاج نه څرګندېږي بلکې خامخا له هغوی څخه یو پر نورو غالب شي تر څو نور عناصر راټول او سره یو ځای کړي. همدغسې د یوه ځواکمن قومي ځواك شتون اړین دی ترڅو نورې قومي ډلې او قبیلې په خپل وجود کې راټولې او سره یو کړي او یو لوی قومي ځواك ترې جوړ کړي. چې د ټولو سره هغه لوی ځواك هم وي، څکه خو دغه جامع او لوی قومي ځواك د هغو لویو او شریفو کورنیو په شخصیتونو کې وي چې سرداران وي او په هغه کورنۍ کې هم داسې سردار ته اړتیا ده چې پر نورو برلاسی وي. څکه خو دغه مشر او سردار د ټولو قومونو لپاره غوره کېږي څکه چې د دوی کورنۍ پر نورو کورنیو زوروره او برتره وي او دی پخپله هم د ټولو کورنیو پر مشرانو لوړ وي، بیا چې کله د هېواد مشري ده نه ورکړای شي نو د حیواني فطرت ځانګړتیا غرور او ویاړ دی، څکه خو د نورو نه اطاعت او په پاچاهۍ کې ګوتې وهل ورته له زغمه وتلي وي او د ده په مزاج کې غرور را پیدا کېږي چې دا د انساني مزاج ځانګړتیا ده او سیاست هم ځانګړی یو حاکم غواړي څکه چې که واکمنان ډېر وي نو د هېواد په نظم کې فسا رامنځته کېږي، د سیاست شان او شوکت کمېږي او د ملي ځواك ابرو تویېږي، له همدې لامله قومي ملاتړ په واکمنۍ کې د لوی مشر سره د واك په شراکت کې دعوه نه کوي او د هغو طبیعت او مزاج له داسې جرئت نه ډډه کوي او تورې یې پڅېږي. په همدې دلیل پاچا په هېواد کې یو تن وي او څومره یې چې توان وي نو په حکومت او واکمنۍ کې بل چا ته یوه ذره هومره واك او رول هم نه پرېږدي، کله کله مطلق حکومت او واکمني د یوه هېواد لومړني پاچا ته په لاس ورشي، کله بیا یوه برخه دوهم او درېیم پاچا ته ورسېږي خو په حکومتونو کې دغه ځانګړتیا باید خامخا وي. دا د خدای سنت دی چې د خپلو بندګانو په منځ کې یې ایښی او خدای تعالی پر هر څه پوه او عالم دی.

# يوولسم فصل

## عياشي او آرامي غوښتل د حکومتولی ځانګړتيا ده

د دې سبب دا دی چې کله کوم قوم واک ترلاسه کوي او لومړی پر حکومت بريا مومي نو د هغو خزانه هم د دوی لاس ته لوېږي، ښکاره ده چې مال زيات شي له هغو سره عياشي، تجملي ژوند او آرام طلبي هم راځي، په همدې سبب د واکمن قوم لګښتونه او نعمتونه هم ښه ورسره پرېمانه کېږي، د هغوی د ژوندانه اړتياوې ډېرې زياتېږي او هغوی له معمولي او عادي اړتياو څخه اوړي د سينګار او تجملي اړتياو پوره کولو تر بريده رسېږي او د پخوانيو حکومتونو عادتونه او دودونه غوره کوي او له هغو سره سيالي کوي.

دوی تر اړتيا زيات شيان د خپل ژوند په اړينو شيانو کې شاملوي او د هغوی د دغه رييسانه ژوندانه نښې د ژوند په هره برخه کې راښکاره کېږي. ډوډۍ يې د سردارانو په څېر، جامې يې د اميرانو او شتمنو په څېر، د کورونو سينګار او ډول يې د پاچاهانو په څېر، د کارولو لوښي او وسايل يې ټول د سپينو او سرو زرو، په دې ټولو شيانو او وسايلو کې هغوی يو له بل وړاندې کېږي او پرې وياړي، په ښه خوراك او جامو کې، په آرامۍ د سپرلۍ په وسايلو او ګاډيو کې پر نورو قومونو ځانونه لوړ ګڼي او د دوی اولادونه بيا تر پلرونو هم په دې سيالۍ کې وړاندې کېږي. څومره چې حکومت په ښه وضعه کې وي په هماغه کچه په ولس کې هم آرام طلبي راځي، بيا چې حکومت ډېر پرمختګ وکړي نو د ولس عيش او آرامي هم لوړې کچې ته رسېږي او د لومړنيو حکومتونو له عادتونو نه د دوی عادتونه او خويونه هم رنګ اخلي، په دنيا کې د الله تعالی همدغه طريقه کار کوي او الله تعالی عالم او خبر دی.

# دوولسم فصل

## استراحت طلبي او سکون د حکومتولی طبیعي ځانګړتیا ده

د دې سبب دا دی چې یوه قوم ته له زیاتو هڅو وروسته حکومت په لاس ورځي او په ډېر زحمت او زیار د هېواد واکمني ترلاسه کوي، خو چې کله دې موخې ته ورسېږي نو هڅې یې کمې شي او د غوښتنو پښې په ټپه ودرېږي، لکه چې شاعران وايي:

«زه د وخت په هڅو حیرانېږم چې په ما او هغه کې دوام لري، بیا چې زموږ وضعیت ښه شو او وخت هم چوپ کیناست».

د دې لپاره چې کله هېواد ترلاسه شي نو خلك هغه سختۍ او زحمتونه چې د هېواد د ترلاسه کولو لپاره یې ګالل نور پرېږدي، عیش، استراحت او آرامي غوره ګڼي او د هېواد د حاصل او مېوې د ترلاسه کولو لپاره هڅې کوي، ودانۍ جوړوي، ماڼۍ او کورونه جوړوي او غوره جامې ګنډي صندوقونه ترې ډکوي، داسې ماڼۍ جوړوي چې انسان یې په لیدو حیرانېږي، هغه ښکلې کوي او ویالې پکې تېروي، زړه وړونکي او ښکلي باغونه پکې لګوي، او د دنیا له نعمتونو نه بشپړه ګټه اوچتوي، نور له زحمت نه کرکه او له راحت او استراحت سره مینه کوي او چې څومره یې توان وي په دوړو کې، په جامو کې او په خوراك په لوښو کې او په فرشونو کې له تظاهر څخه کار اخلي او د ځان ښودلو له ژوند سره عادي کېږي، په دوی پسې نسلونو ته دغه د ځان ښکارولو او تظاهر دود په میراث پرېږدي، چې په هغو کې دغه تشریفاتي کارونه نور هم زیاتېږي، تر دې چې د الله تعالی په حکم یوه ورځ حکومت ختم شي او له هغو سره یې څواکمن شان او دبدبه هم ختمه شي. الله تر ټولو غوره واکمن دی.

Scanned with CamScanner

# دیارلسم فصل

## کله چې هېواد د مستۍ او عیش اوج ته ورسېږي نو د زوال په لور گام ږدي

د دې څو دلایل شته

**لومړی دلیل**

لومړی دلیل دا دی چې حکومت په لویوالي کې غوارې ځانگړتیاوې ولري او دغه سیادت او لویوالی څرنگه چې د ولس د ټولو قبیلو د شریکو هڅو پایله وي نو د دوی ارادې پر نورو قومونو د برلاسی ترلاسه کولو لپاره لوړېږي او د هېواد د ساتنې لپاره ټول د هغو په مخه کې ډال گرځي او د هېواد پرمختگ او اوچتېدل د خپلې شتمنۍ، عزت، دولت، ابرو او څواك او پیاوړتیا سبب گڼي. د لویۍ په رغولو ټول سرور کولو ته چمتو وي، د سر په قربانۍ هېواد له فتنو او جگړو خوندي ساتي، که د عزت اوج ته یو تن ورسېږي او شخصي واکمني وي نو هغه د ولس نورې قبیلې تر پښنو لاندې کوي او له هغوی نه آزادي اخلي، ټولې شتمنۍ او مالونه خپل ملکیت گڼي، پایله دا چې نور په درناوي او عزت کې ناتواني ښيي او څواکمني او پر نورو برلاسي یې په سستۍ او ناتوانۍ بدلېږي او داسې فکر کوي چې کومه تنخواه چې د پاچا له لوري ورکول کېږي دا یې له هغه سره د مرستې او ملاتړ اجوره او مزد دی، د دوی دوهم نسل هم په همدې ډول روزل کېږي، له دې پرته نور څه د دوی په عقل کې نه ځائېږي، څرگنده ده چې هېڅوك هم د ځان په قربانولو اجوره او تنخواه نه اخلي، خامخا په داسې حکومت کې کمزوري پیدا کېږي او څواك یې کمزوری کېږي او چې کله د حکومت په خلکو کې د مېړانې جذبه مړه شي نو قومي ملاتړ هم له منځه ځي، په هغو کې فساد زیاتېږي او حکومت د زوال او ذلت په لور درومي.

**دوهم دلیل**

دوهم دلیل دا دی چې د حکومتولی طبیعت عیش او په نعمتونو کې تجملي ژوند دی لکه چې پاس مو یې یادونه کړې څکه خو د حکومت په خلکو کې ډېر دودونه او عادتونه را پیدا کېږي چې لگښت یې تر تنخواه زیاتېږي. د دوی تنخواوې او عاید د دوی دغه لگښتونه نه شي پوره کولای، څکه خو بې وزلي او غریبان ورځ تر بلې له ستونزو سره مخ کېږي او شتمن خپل مال او شتمني په عیش او ظاهري کش و فش لگوي، بیا دغه ظاهري آرام ژوند او د عیش او راحت دود د دوی په اولادونو کې زیاتېږي خو د هغوی تنخوا او عاید د هغوی د عیاشۍ او خرمستۍ لگښتونه نشي پوره کولای او هغوی د خوښۍ او عیش ژوندانه له تېرولو نه ناتوانه کېږي، پاچا هغوی دې ته اړ کوي چې خپلې تنخواوې او عاید د پوځ او جگړې په چارو کې ولگوي، خو هغوی له دې تنگسې د وتلو لاره نه لري. پاچا پر هغوی درنې جریمې ټاکي تر څو هغه پیسې چې دوی د عیاشۍ لپاره را ټولې کړې ترې واخلي او چارواکیو چې د ځانونو د سوکالۍ او یا د اولاد لپاره پیسې راټولې کړې وي او یا یې

د دولت پر روزل شویو کسانو لگولې ټولې ببرته ترې اخیستل کېږي او په پایله کې هغه بې وسه کېږي او د دوی له کمزوري کېدو سره پخپله پاچا هم کمزوری کېږي.

**درېیم دلیل**

پر دې سربېره کله چې په حکومت کې استراحت طلبي او عیاشي لوړ کچ ته ورسېږي او د دوی تنخواوې د دوی اړتیاوې او لگښتونه پوره نکړای شي نو پاچا د هغوی تنخواوې ورزیاتوي تر څو د دوی اړتیاوې ورپوره کړي او په ژوند کې یې ستونزې رانشي، د عاید او مالیې اندازه هم معلومه ده چې په هغو کې زیاتوالی نه راځي، که په مالیه او باج کې زیاتوالی راشي بیا هم عاید محدود پاتې کېږي، کله چې دغه عاید پر تنخواوو ووېشل شي او د هر یوه د لگښتونو او عیش په پرتله د هغوی تنخواوې ور زیاتې شي نو په دې صورت کې باید د پوځ او ساتونکیو شمېر را کم کړای شي. تر څو د هېواد له عایداتو نه تنخواوې پوره شي، بیا چې عیاشي او تشریفاتي ژوند نور هم رنگین شي پر هماغه کچه تنخواوې باید ور زیاتې کړای شي او په پوځ کې کمی راشي په دې ډول دغه لړۍ تر هغه دوام کوي چې ډېر لږ شمېر پوځ پاتې شي او د هېواد څواک ډېر زیات کمزوری بلکې له منځه لاړ شي، چې گاونډیان او یا په کور دننه محکوم لوري ورته راوپارېږي او خدای تعالی چې خپلو بندگانو ته بربادي لیکلې وي پرې راشي.

**څلورم دلیل**

دا چې عیاشي او آرام ژوند خلك بېلارې کوي څکه چې له دې په انسان کې ډول ډول بد عادتونه، ناپوهي او له شرمه ډك کړه وړه را پیدا کېږي، چې د ښاریتوب په فصل کې به رڼا پرې واچوو، بلاخره په خلکو کې غوره اخلاق نه پاتې کېږي چې د فاتحو هېوادونو او قومونو ځانگړتیاوې، د دې پرخلاف په هغوی کې بد عادتونه را پیدا کېږي چې د ذلت او د هېواد د زوال سبب کېږي پکې پخېږي، الله تعالی د بریالیو او ماتو خوړلیو لپاره همدغه نښې ټاکلې دي، بیا حکومت د بربادۍ د کندې پر څنډه درېږي او ورځ په ورځ یې وضعه خرابېږي او په هغو کې د بوډاتوب او زوال ناروغي را پیدا کېږي چې قبر ته یې ورسره وړي او بلاخره را نسکور شي.

**پنځم دلیل**

پنځم دلیل دا دی چې هېواد په ټوله کې له آرامۍ او سکون سره روږدی شي او آرامي غواړي لکه چې پاس مو بیا ن کړه، کله چې د ولس خلك له ارامۍ او عیش سره روږدي شي نو دا یې د فطرت برخه وگرځي، دا د ټولو عادتونو حالت او پر هغو د روږدی کېدو پایله ده، څکه خو نوی راټوکېدلی نسل عیاشۍ او آرامۍ په سمسور چاپېریال کې راټولېږي او د خوښیو او عیاشیو په زانگو کې ټالونه خوري، ځنگلي او سارایي شډل عادتونه او اخلاق بدلېږي او هېرېږي چې د هغو په زور یې حکومت او واکمني ترلاسه کړې وي، زړورتوب او غیرت، په غرونو او دښتو کې گرځېدل، ښکار کول او په آزاده فضا کې تفریح د ناز او نعمت د آرام ژوندانه په څپو کې هېروي. د دوی او ښاریانو ترمنځ اوس یوازې له کلتور او کمال او حکومتي نښو پرته توپیر نه پاتې

کیږي. په پایله کې د هېواد د ساتنې او دفاع ځواك کمزوری کیږي او زړورتیا له لاسه ورکوي او شان او دبدبه له لاسه ورکوي چې بدې پایلې یې حکومت ته رسیږي، ځکه دغه وضعه دولت د بوډاتوب او شړېدو پرکنده دروي، دغه مهال واکمن پاړکی لا هم د تجملي او عیاشانه ژوند په رنګینیو کې ډوبیږي او په دې آرامی او عیاشیو کې د سارایي ژوندانه له عاداتو او شډلتوب نه نور هم لرې کیږي او ورو ورو هغه ځانګړتیاوې بشپړې له لاسه ورکوي، دا چې د مېړانې او زړورتیا خصلت چې د هېواد د دفاع او ساتنې سرچینه ده هېروي، تر دې چې په پردیو پوځونو تکیه کوي (که یې ولري) که د نړۍ د ولسونو تاریخ ولولو دغسې ساري به ډېر پکې ومومو چې زموږ دغه نظر به بشپړ تائید کړي او د شك هېڅ ځای به پاتې نشي. (زموږ وروستي حکومتونه یې ژوندي ساري دي) (پښتو ژباړن)

## د حکومت د زوال د مخنیوي یوه اغېزناکه لاره

کله چې په کوم حکومت کې د عیاشۍ او راحت طلبۍ په سبب کمزوري او ناتواني را پیدا شي نو ډېر ځله داسې هم کیږي چې حکومت کوم بل قام خپل خواخوږی دوست ګڼي او د هغو مرسته ترلاسه کوي، او د هغه قوم زحمت کش، زیار ایستونکی او د ستونزو له زغملو سره عادت وي، د لوږې او تندې سختی تېرولای شي او هر ډول مصیبتونه زغملای شي. د هغه قام له ځوانانو نه پوځ جوړوي چې جګړه کوي او د جګړې پر ډګر مقاومت کولای شي، دا د مخ پر زوال حکومت چې پر دوی راغلی دی د ذلت د مخنیوي یوه لاره او تدبیر دی، چې هغه تر ټاکلي مودې مخکې له منځه تلو څخه خوندي کوي، د دې ساری د ختیځ د ترکانو حکومت دی، ترکي حکومت خپل پوځ له هغو غلامانو نه چې له بهر نه راغلي وو جوړ کړ چې په هغو کې پلي هم وو او سپاره هم. دغه پوځ په جګړه کې بېساري زړور ثابت شول، په ستونزو او مصیبتونو کې د زغم او صبر خاوندان وو دوی د هغو محکومو له اولادې نه زیات د زغم خاوندان وختل چې تر دوی مخکې تېر شوي وو او د نعمتونو په ځل بل او د واك او ځواك په جم او جوش کې د پاچا تر سیوري لاندې را لوی شوي وو.

په افریقا کې د موحدینو حکومت هم له دغسې وضعې سره مخامخ شو. ځکه چې د دوی چاروکیو زیاتره زناته او عربان ګومارل او پوځ یې زیاتره له هغو قومونو څخه جوړ ؤ، حکومت خپل کسان په پوځ کې نه ګومارل ځکه چې هغوی له آرامۍ او عیاشۍ سره عادت شوي وو، په دې تدبیر حکومت د یوه نوي ژوند په بڼه رابښکاره کیږي چې له کمزورۍ او بوډاتوبه خوندي وي او خدای تعالی د ځمکې او پر هغو د اوسېدونکیو وارث دی.

# څوارلسم فصل

## د خلکو په څېر حکومت هم طبيعي عمر لري

په یاد ولرئ چې د ډاکترانو او نجومیانو په اند د انسان طبيعي ژوند ۱۲۰ کاله دی، د لمريز کال په حساب د ستوريو پيژندونکيو له نظره پکې لړوالی او ډېروالی راځي او د خلکو عمر په هر نسل کې د ستوريو د برجونو (قرانو) په حساب توپير لري او د طبيعي عمر نه زيات او کم کېدای شي، څکه خو په څينو قرانو کې طبيعي عمر سل کاله په څينو کې اويا او اتيا کاله دی، په څينو کې پنځوس کاله ته راښکته شوی دی، د ربښتيني حديث شريف له مخې د مسلمانانو عمرونه زياتره له شپېته تر اتيا کاله پورې دي او د چا عمر تر ۱۲۰ کاله زيات نه وي، خو که کوم چېرته کوم ساری وليدل شي بېله خبره ده، د ستوريو پيژندونکيو (نجوميانو) له نظره د څينې ځانګړي اسماني بدلون او وضعې په سبب ډېر لږ دا کېدای شي لکه د حضرت نوح عليه السلام عمر چې اوږد ؤ، او د عاديانو او ثموديانو عمرونه اوږده وو، که څه هم د حکومتونو عمرونه هم د ستوريو د برجونو (قرانو) له حيثه توپير لري خو د يوه حکومت ژوند تر درې نسلونو نه زياتېږي، او له نسل نه د يوه سړي د عمر منځنی حد مراد دی چې ۴۰ کاله دی، څکه چې دا د انسان د غوړېدو او لويېدو موده ده، الله تعالی فرمايي تر دې چې هغه خواني ته ورسېږي او څلويښت کلنی ته ورسېږي، څکه خو موږ وايو چې د يوه نسل عمر د يوه کس عمر دی، زموږ دغه نظر د تيه په دښته کې د بني اسراييلو ۴۰ کاله سرګردانه ژوند دی، هغوی بې چې ۴۰ کاله په نوموړي ميدان کې پرېښودل حکمت يې دا ؤ چې نسل يې بدل شي او د پخوانيو ځای يې اولادونه ونيسي چې د محکوميت او غلامۍ وخت يې نه دی ليدلی او نه هغوی غلامي پېژني، معلومه شوه چې د يوه نسل ۴۰ کاله عمر د يوه سړي منځنی عمر دی، دا ربښتيا دي.

## د دې دليل چې کوم حکومت تر درې نسله زيات عمر نه کوي

پاتې شوه دا خبره چې د کوم حکومت تر درې نسلونو زيات عمر نه وي، د دې دليل دا دی چې لومړی نسل يې د سارايي او ځنګلي ژوندانه خويونه لري، زيارکښ، زړور، توندوالی او د لوړې ارادې خاوند وي او په عزت او لويۍ کې د حکومت ټول شامل کسان شريك وي څکه خو د حکومت د ملاتړ ولولې او جوش پر ځای وي، تېغ يې تېره او پر خلکو يې رعب پروت وي، عام ولس مطيع وي. د دوهم نسل حکومت د ښه حالت او آرام ژوندانه په سبب له ځنګلي توبه د ښاري توب په لور او د بې وزلۍ، توندۍ او تنګلاسۍ له لوري د خوښۍ او راحت لوري ته مخه راګرځوي، په داسې حال کې چې په لومړي سر کې ټول په عزت او شرف کې شريك وو، اوس عزت او دولتي غرور او دبدبه د يوه تن لپاره ځانګړې کېږي، او نور خلك د عزت او مقام د ترلاسه کولو لپاره همت بايلي او لټان کېږي، سرلوړي او عزت پرېږدي د سرټيټۍ له ذلت سره روږدي کېږي. څکه خو د قومي ملاتړ په احساساتو کې يو څه کمزوري را پيدا کېږي او په هغو کې يو څه اضمحلال راځي، وګړي په ذلت او اطاعت کې خوښ پاتې کېږي خو ډېر کسان داسې وي چې د لومړي نسل وګړي يې ليدلي کتلي دي

او د هغو له وضعې څخه ښه خبر وي، هغوی یې لیدلي چې زموږ نیکونو په څومره زیار او زحمت ګاللو او ستونزو عزت او غرور ترلاسه کړی ؤ، په دې لاره کې یې څومره سربښندنې او هڅې کړې وې او د هېواد په ساتنه کې یې څومره سترې قربانۍ ورکړې دي. ځکه خو د دوهم نسل دغه ډول کسان په بشپړ ډول د خپلو پلرونو عادتونه نه پرېږدي، که څه هم ځینې عادتونه ترې پاتې کېږي خو د دوی دا هیله ډېره وي چې ښایي د لومړي نسل وضعه بیا راوګرځي او پر هېواد د لومړیو وختونو پسرلی بیا راوګرځي، یا په دې ګومان کې وي چې د پخوا حالت اوس هم دی.

خو دریم نسل د سارایي ژوند له ستونزو او زحمتونو ډك وختونه بلکل هېروي، ګواکې سارایي شدلتوب او ناخوالې دوی هېڅ لېدلې نه وي او دوی د قومي ملاتړ او عزت له خوږوالي څخه هم محروم وي، ځکه چې د حکومت تر واك لاندې ډېر کېږي او په دوی کې لټې او آرامي زښت زیاته شي، ځکه چې په نعمتونو او عیش او آرام کې پراته وي او د دفاع او ساتنې پر مهال د ښځو او ماشومانو په څېر حکومت ته اړ وي، دغه مهال قومي ملاتړ او د عصبیت احساس بشپړ له منځه ځي او هغوی د حکومت دفاع او ساتنه او پر نورو د خپلو حقوقو منل بلکل هېروي، یوازې جامو، د بدن وضعې او پر اسونو سپارلیو او مهذب او شیك اوسېدلو کې ډېر وړاندې وي او خلکو ته ځانونه ښیي په داسې حال کې چې د اسونو پر شا د دوی ډېری برخه تر ښځو هم ډېر ډارن او بې همته وي. که څوك د دوی سره جګړې ته راووزي نو دوی دفاع هم نشي کولای، ځکه خو د دوی واکمن دې ته اړ کېږي چې د نورو قومونو له زړورو کسانو څخه پوځ جوړ کړي او داسې خلك په پوځ کې ګوماري چې هېواد ته یې یو څه ګټه خامخا رسېږي. تر دې چې د الله تعالی په حکم د حکومت د عمر کاسه ډکه شي او مرګ په کومي کې ورولېږي، وموليدل چې په دې درې نسلونو کې حکومت بوډاتوب او ناتوانۍ ته رسېږي او دریم نسل یې همدغه د بوډاتوب او ناتوانۍ دوران وي، په دې ډول نبیره هم په څلورم نسل کې ختمېږي لکه چې پاس یې یادونه وشوه او د هغو په اثبات کې موکافي او طبیعي دلایل راوړل او دا په هغو مقدمو ولاړ وو چې مخکې مو منظمې کړې وې، نو په دې تړاو فکر وکړه او که عادل وې نو هېڅکله به د حق له رښتینې لارې وانه وړې.

## یو حکومت ډېر لږ تر ۱۲۰ کاله اوږي

د دې درې نسلونو عمر ۱۲۰ کاله کېږي، تقریباً حکومتونه تر دې عمر زیات نه پاتې کېږي مګر دا چې کوم خنډ را پیدا شي او کومه ستونزه را مخې ته شي، لکه دا چې د حکومت د عمر وروستۍ شپې وي خو د حکومت کوم دعوه دار پیدا نشي، که دعوه دار را پیدا شي هم نو هغه د حکومت ساتونکي خپل نکړای شي، ځکه خو د انسان په څېر د حکومت لومړنی عمر تر ۴۰ کلونو پورې دی او بیا د ځای پر ځای درېدو عمر ته رسېږي او بیا یې زوال پیلېږي او د راګرځېدو عمر ته رسېږي، ځکه خو دا د عامو خلکو ترمنځ مشهوره ده چې د حکومت عمر سل کاله وي، د دې مطلب هماغه دی چې موږ مخکې بیان کړ.

Scanned with CamScanner

## د شجرې قانون

تاسو دا په ذهن کې راولئ او د شجرې قانون جوړ کړئ، د شجرې په قانون کې د نسب سلسله د تېرو کلونو د شمېر له مخې معلومېږي، که د نسب په لړۍ کې کومه کړۍ زیاته وي هم له همدې معلومېږي، په دې لړ کې د نسب درې پښته په سلو کلونو کې راځي، اوس که د چا د نسب په لړۍ کې د سلو کلونو په حساب کومه کړۍ زیاته وي، نو د نسب د شجرې یو پښت غلط دی، که دواړه په حساب برابر راغلل نو د نسب شجره رښتینې او حقایقو ته نږدې ده، په دې حساب که د کلونو شمېر معلوم وي، د نسب د لړۍ شمېر ترې معلومېدای شي چې غالباً دا سم وي او خدای تعالی شپه او ورځ اندازه کوي.

# پنځلسم فصل

## له کليوالي ټولنې ښاري ټولنې ته د حکومت لېږد

باید وپوهېږو چې دغه د کليوالي او ښاري بدلونونه د یوه حکومت لپاره طبيعي دي، ځکه چې پر نورو د غلبې کولو او برلاسي ترلاسه کولو په پايله کې چې پاچاهي جوړېږي د تونډ خويي، مرګ ژوبلې، زړورتيا او وحشت تقاضا کوي او دغه ځانګړتياوې په سارايي او کليوالي ټولنه او قومونو کې وي، نو د حکومت پيل له کليوالي ټولنې او سارايي ژوندانه کېږي، وروسته چې پاچاهي ترلاسه شي او د هېواد نظم جوړ شي نو له هغه وروسته د ژوندانه په غوره ګوښو کې د ښاري ژوندانه بڼه راځي.

## ښاريتوب څه شی دی

ښاريتوب څه شئ دی؟ رنګارنګ عيش او آرام، ډول ډول کارخانې دي چې د ژوند په هر اړخ کې اسانی او تجملياتو ته وده ورکوي. ښاريتوب رنګارنګ خوراکونه، ډول ډول جامې، بېل بېل ښکلي کورونه، رنګارنګ فرشونه، جګې ودانۍ او د هغو بېلابېل ډيزاينونه په غېږ کې رانيسي، د لومړنيو اړتياؤ د پوره کېدو لپاره په هره يوه کې د نوښت، ښکلا او نفاست راوستلو لپاره کارخانې او صنعتونه پراختيا مومي، چې ښکلي او په زړه پورې جوړ وي او څل او بل يې څو چنده زياتوي، په دې تړاو هره ورځ نوي صنعتونه او کارخانې ايجادېږي، څومره چې د خلکو د ژوند کچه لوړېږي او ښه کېږي په هماغه کچه د دوی غوښتنې زياتېږي، لومړيتوبونه يې بدلېږي او د نويو شيانو هيله يې زياتېږي، په همدې حساب په هېواد کې نوې کارخانې جوړېږي او نوي صنعتونه رامنځته کېږي او دودېږي. د اخلاقو له بدلېدو سره د صنعتونو رنګ هم بدلېږي ځکه خو هېواد ته پر کليوالي او ځنګلي ژوندانه پسې ښاريتوب او عصريتوب راځي، دا چې د حکومت لپاره آرامي او سوکالي ضروري ده او چارواکي تل د حکومت له لومړی ورځې د ښاريتوب رسم او دود پالي او د ښاريانو ژوند ژواك غوره کوي، هغه تر دوی مخکې حکومتونو ته ګوري او له هغوی سره په کړو وړو او د ژوند په رنګينيو کې سيالي کوي، په دغسې وضعه کې پر عربانو سوکالي راغله، کله چې دوی هېوادونه ونيول او فارس او روم يې لاندې کړل او د هغوی له زامنو او لوڼو نه يې خدمتګاران ونيول، تر هغو وړاندې پر دوی د ښاريتوب شمال هم نه ؤ لګېدلی، وايي چې دوی ته يې کله ډوډۍ راوړه نو د ډوډۍ پر ټيکلې يې د جامو د ټوټو ګومان وکړ، همدغسې چې کله دوی د کسرا په خزانو کې کافور وليدل نو فکر يې کاوه چې دا مالګه ده او په اوړو کې يې ګډ کړل، دغه ډول ډېر ساري شته کله چې واکمن او پاچاهان دوی مات کړل او د دوی تر حکم لاندې شول هغوی يې د خپلو کورونو په چارو وګومارل او په دې ډول چارو کې يې برلاسي استاذان وګومارل چې هغوی ټولې چارې او هنرونه عربو ته ور وښودل، دوی د ناز او نعمت د وسايلو کارول او د هغو د جوړولو ځرنګوالی عربو ته ور زده کړل. ځرنګه چې عياشي د عربو شغل ؤ دوی غوښتل د عيش او آرام په هره برخه کې نوښت او رنګيني راوړي، عجمي غلامانو دوی ته د عيش او مستيو نوې نوې طريقې وکارولې، ځکه خو د عربو د ژوند په هر اړخ کې د

Scanned with CamScanner

عیش ځرکونه ښکارېدل، د دوی په خوراکونو، جامو، لوښو، ودانیو او نورو نعمتونو کې د نوښت رنګونه او د ښاریتوب اغېزې ډېرې ژورې شوې. د دوی د ژوند هره ګوښه د ښاریتوب په رنګ رنګ شوه، اوس یې ذوقونو د لا ښه توب هیلې درلودې، دوی تر ټولو غوره شراب (مشروب)، تر ټولو شیکې جامې، ډېرې ښکلې ماڼۍ، ګرانبیه غالۍ او پردې، ډېر د جګې بیې لوښي، غرض دا چې ټول د ژوند او کور د اړتیا وړ شیان تر ټولو ښه کارول، په ودونو او خوښیو کې یې په مېلمستیاو کې له یو بل سره سیالۍ کولې او په ژوند کې ځان ښودنه او پر ټولو نورو قومونو په سیالیو کې پښه اړول یې دود شول.

## د مامون د واده لګښتونه

په دې برخه کې چې مسعودي، طبري او نورو رانقل کړي دي فکر وکړئ چې کله مامون له پوران بنت حسن بن سهل سره واده وکړ، روایت دی چې کله مامون د حسن کور ته د رویباری لپاره فم الصلح ته د هغه کور ته ورغی او په کېښتیو کې کیناست نو د ناوې پلار حسن د مامون په نوکرانو او خدمتګارانو پیسې د اوبو په څېر ور وبهولې او هغه څه چې حسن ولګول او بیا مامون په مهر کې او په مېلمستیاوو کې څومره لګښتونه وکړل د حیرانۍ وړ دي، په هغه ورځ چې حسن د مامون پر غلامانو او خدمتګارانو چې څومره مال ولګاوه د هغو تفصیل دا دی چې په ورا کې یې پر حاضرو کسانو د لوړ پاړکې په کسانو د موشکو ګولۍ واورولې، چې په هغو کې نغښتې کاغذونه وو او په هر یوه کې د ځمکو او جایدادونو سندونه وو، د چا لاس ته چې کومه ګولۍ ورغله په هغو کې لیکل شوی جایداد او ځمکې د همغو وې، په دوهم پاړکې یې د اشرفیو کڅوړې وشیندلې چې په هره یوه کې لس لس زره اشرفۍ وې، د دریم پوړ په کسانو یې د درهمو کڅوړې اورولې چې په هره یوه کې لس لس زره درهمونه وو. پر دې سربېره څومره وخت چې مامون د دوی په کور کې ؤ څو چنده زیات لګښتونه یې پرې وکړل، پر دې سربېره د واده په شپه مامون پوران ته په مهر کې زر دانې د یاقوتو غمي ورکړل او د عنبرو شمعې یې بلې کړې او په هره یوه یې سل سل منه عنبر وسوځول، چې یو من یې د پونډ دوه پر درې برخه ؤ او پوران ته یې داسې فرش وغوړاوه چې تارونه یې د سرو زرو وو او په هغو کې مروارید او یاقوت پېيل شوي وو، مامون چې دغه فرش ولید وې ویل: خدای دې ابو نواس مړ کړي ګواکې هغه د شرابو په ستاینه کې دغه فرش لیدلی ؤ، هغه د شرابو په ستاینه کې ویلي وو:

«ګواکې د هغه شرابو وړوکې او لوی (حبابونه) داسې ښکاري لکه په زرینه ځمکه چې غمي شیندلي وي».

د واده د ورځې د خوړو د پخولو لپاره یې له یوه کال راهیسې د ورځې ۱۴۰ کچرو درې درې باره لرګي راچلول، چې دغه لرګي په هغه شپه ټول تمام شول، بیا یې خواړه په وړوکیو لرګیو د زیتون تیل ورشیندل او پرې پاخه یې کړل، زیاتې کیښتۍ یې تیارې کړې چې له بغداد نه د دجلې له لارې د مامون ځانګړي مېلمانه په ښار کې شاهي ماڼیو ته ورسوي چې د واده په مراسمو کې ګډون وکړي، د دې لپاره یې دیرش زره جنګي کیښتۍ تیارې کړې او په وروستیو ورځو کې په همدې کیښتیو له سینده تېر شول، دغه ډول ساري ډېر دي.

## د مامون بن ذولنون په واده کې اسراف

په دې ډول د مامون بن ذولنون په واده کې هم پیسې د اوبو په څېر وبهول شوې، دغه واده په طلیطله کې ترسره شو چې ابن بسام په خپل کتاب الذخیره کې او ابن حیان هم راوړي دي، خو همدغو عربو په پیل کې د سارایي ژوندانه هماغه ساده دودونه او ژوند درلود د دوی په ژوند کې د ځان ښودلو او تظاهر هېڅ نښه هم نه وه، ځکه چې د هغو وسایل یې نه درلودل.

## د حجاج د یوې مېلمستیا پېښه

وایي چې حجاج یو زوی ختنه (سنت) کړ، یو شمېر بزرگان یې راوغوښتل او وې پوښتل چې پارسیان خوښۍ څه ډول نمانځي او وې ویل چې ماته تر ټولو د لوی محفل سترگو لیدلی حال ووایې! یوه کلیوال وویل چې زه د کسرا د امیرانو څخه د یوه د خوښۍ په محفل کې شریك وم هغه د سپینو زرو په میزونو د سرو زرو په پتنوسونو کې مېلمنو ته ډوډۍ کېښوده، پر هر میز د سرو زرو څلور څلور پیالې وې او میز به څلورو څلورو مینځو راواخیست او د مېلمنو مخې ته به یې کېښود، پر هر میز څلورو څلورو مېلمنو ډوډۍ خوړله او چې له ډوډۍ نه به وزگار شول نو دغو څلورو مینځو به دغه میز د هغه کور ته رساوه، حجاج وویل اتیا اوښان حلال کړئ او خلکو ته ډوډۍ ورکړئ بزگران وپوهېدل چې حجاج ساده ډوډۍ ورکوي او بیا همداسې وشول.

## د امویانو سوغاتونه

په همدې باب کې د امویانو سوغاتونه او ډالۍ دي، ځکه چې د عربو له پخوانیو رواجونو او د سارایي ژوندانه سره سم امویانو په ډالۍ او سوغات کې زیاتره اوښان ورکول، بیا د عباسیانو په زمانه کې او تر هغو وروسته د عبیدیانو پر مهال د ډالۍ شیان بدل شول، تاسو ته معلومه ده چې مال به یې د هغه کور ته رساوه چې د ټوکر بسته تانونه او نور شیان به پر اسونو بارېدل او په افریقا کې د کتامه وضعه د اغلبیانو په پرتله او په مصر کې د طنج کورنۍ، د لمتونه وضعه د اندلس د موحدینو د امیرانو او د زناته ۋ د موحدینو په پرتله، هماغسې د امویانو په پرتله د عباسیانو په څېر وه.

## برحال حکومت د پخواني تمدن غوره کوي

له پخواني حکومت څخه تمدن ځایناستي حکومت ته رالېږدي، لکه چې د ایران د کسرا مدنیت د عربو اموي او عباسي حکومتونو ته راولېږدېد او په اندلس کې د امویانو تمدن د لوېدیز د هغه مهال پاچاهانو لکه موحدینو او زناته ۋ ته ولېږدېد. او د عباسیانو تمدن د یلمیانو او ورپسې په ترتیب ترکي سلجوقیانو او ترکانو ته مصر او تاتار ته ولېږدول شو، همدغسې عربي او عجمي عراق ته ولېږدېد. د یوه هېواد تمدن او کلتور د هغه د پراختیا او لویې په اندازه وي، ځکه چې کلتور او تمدن د سوکالۍ او پرمختگ له توکیو څخه دي او دغه سوکالي او د

ښه ژوندانه مظاهر له شتمنی او مال او نعمتونو سره تړاو لري چې بیا دا د حکومت د واك او برلاسی او ښې حکومتولی تر سیوري لاندې وي چې په ټوله کې دا د یوه هېواد لویوالی او یا کوچنیتوب ټاکي، نو دغه ډول مطالب باید په پام کې ونیول شي او فکر پرې وشي او هغه ښه درك کړو او فکر پکې وکړو، هغه مهال به بې په ټولنه او پرمختګ کې پلي کېدل ښه ومومو، او الله تعالی د ځمکې او د ځمکې د ټولو شیانو وارث او مالك او هغه تر ټولو غوره ولي دی.

# شپاړسم فصل

## په پيل کې په حکومت کې ناز او نعمت هېواد پياوړی کوي

د دې دليل دا دی چې کله قبيلې او قومونه حکومت او واك ته ورسېږي د هغوی په منځ کې د اولادونو زېږون او د کورنيو جوړول زياتېږي په پايله کې د قبيلې د وګړو په شمېر کې زياتوالی راځي، چې بيا واکمنې کورنۍ د خپلو اولادونو لپاره دايې او پر تنخواو نوکران ګوماري او د دې قوم نسلونه په آرامۍ او په ناز او نعمت کې پالل کېږي، د همدغه چاپېريال په سبب د دولت د خلکو شمېر ډېر زياتېږي او بل ځواك ور اضافه کېږي.

خو چې لومړی او دوهم نسل تېر شي او حکومت زوړ او بوډاتوب پرې راشي، دريم نسل مخ پر زوال شي، د دغه حکومت تنخواه خواره او پالل شوي نوکران نشي کولای چې بيا له سره د حکومت پايې ټينګې کړي، ځکه هغوی له حکومت سره هېڅ لېوالتيا نه لري، هغوی پخپله حکومت ته اړ او محتاج وو. نو چې ريښې وچې شي څانګې کله پر خپل ځای پاتې کېدای شي، خامخا هغه ختمېږي او د حکومت ځواك هم ختمېږي.

## دغه حالت په اسلامي حکومت کې وګورئ

زموږ دغه معياري نظريه په اسلامي حکومت کې وارځوئ. موږ مخکې ويلي چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم او خلافت پر مهال د مسلمانانو شمېر يو لك او پنځوس زره ته ؤ. چې په هغو کې د مضر او قحطان قبيلې شاملې وې، بيا چې د عيش او آرام ژوند پيل او مال او شتمني زياته شوه، د مسلمانانو نفوس مخ پر زياتېدو شو او خليفه ګانو غلامان او نوکران وګومارل نو د دوی شمېر څو چنده زيات شو، ويل کېږي چې کله معتصم پر عموريه يرغل وکړ او ويې نيوله نو د هغه پوځ هغه مهال نهه لکه تنه ؤ، دغه شمېر ناشونی نه دی او رښتيا ښکاري، کله چې د هغوی خواخوږي او پلويان په لرې او نږدې سرحدونو کې په ختيځ او لوېديځ لوري کې خپاره وو د دوی ګومارل شوي مامورين او پوځونه د مرکز له پوځ سره وګورو او د نوکرانو او تنخواه خورو مامورينو شمېر ته يې وګورو د پوځ د ياد شمېر په باب شك نه پاتې کېږي.

مسعودي روايت کوي چې د عباس بن عبدالمطلب د اولاد د ماما په زمانه کې سر شمېرنه وشوه چې هغوی ته خېره او تنخواوې وټاکل شي، نو هغوی ديرش زره وو ښځې او سړي دواړه پکې شامل وو. فکر وکړئ چې تر دوه سوه کاله په لږ موده کې د دوی شمېر څومره زيات شو. د دې سبب د دوی سوکاله او آسوده په نعمتونو کې مالامال ژوند ؤ چې هغه مهال حکومت درلود او د دوی اولاده د هغو تر سيوري لاندې پالل کېده، په داسې حال کې چې د برياؤ په پيل کې د عربو شمېر دغو شمېر ته ور نږدې هم نه ؤ. الله تعالی هست کوونکی او پر هر څه عالم او پوه دی.

Scanned with CamScanner

# اوولسم فصل

## د حکومت بېلابېلې طریقې او پر رعیت او وضعه د هغو اغېزې

وګورئ حکومت له نوې وضعې او حالت سره مخ کېږي بېلابېل پړاوونه پرې راځي او د حکومت چلوونکيو په وضعیت کې هم له هغو بدلونونو سره بدلونونه راځي، ځکه چې اخلاق په طبیعي ډول د هغه چاپېریال په مزاج پسې وي په کوم چاپېریال کې چې انسان پیدا شوی وي.

د کوم حکومت په وضعه کې له پنځه ډوله زیات بدلون نه راځي:

### لومړی حالت

د کوم حکومت وضعه او حالت له پنځو حالتونو نه اوړي، لومړی حالت یې بریا او فتحه ده، پر دښمنانو او لاندې کړای شویو خلکو تسلط او برلاسي، پر هېواد تسلط او له نورو د هېواد لاسته راوړل دي، دغه حالت چې ترلاسه کړي فاتح قوم ټول د لوېې او عزت خاوند ګرځي، همدغسې د شتمنی په ترلاسه کولو کې. د حکومت د دوام او ساتنې او دفاع په لړ کې ټول اوړه پر اوږه اوسېږي او پاچا په هېڅ مسئله کې هم تر نورو ممتاز نه وي، له قوم سر یو ځای وي ځکه چې د حکومت لاسته راوړل د ملي ملاتړ له لارې ممکن شوي وي چې د هغو په واسطه برلاسي او بری لاسته راغلی او دغه ځواك هماغسې پر ځای دی.

### دوهم حالت

دوهم ډول یې دا دی چې په پاچا کې د شخصي واکمنی او د ظالم دیکتاتور احساس را پیدا شي، هغه د چا شراکت نشي زغملای او د هېواد یوازینی خپلسری واکمن ګرځي، په دې دوران کې د خلکو کفالت ته پام کوي او غلامان او په تنخواه مامورین او خدمتګاران ګوماري او په ډېر شمېر یې ګوماري چې د هغو په واسطه د خپلو پخوانیو ملاتړ کوونکیو او د کورنی د سیالانو زور راکم کړي ځکه چې له هغو څخه په یوه شکل د خطر احساس کوي، دا چې هغوی کوم وخت په حکومت کې ونډه ترې وانه خلي او یا پخپله د حکومت دعوه ونه کړي، ځکه خو هغوی ته د هېواد په چارو کې د لېوالتیا زمینه نه برابروي او له هغوی څخه د لرې ګرځېدو هڅه کوي. هغوی ټېل وهي چې په وړوکیو چارو کې هم ورشریك او برخه وال نشي، تر څو د هېواد واك بشپړ د ده په لاس کې پاتې شي او واکمني د دوی په کورنی کې پاتې شي او پر واکمنی بشپړ واك او انحصار د همده پاتې شي. ځکه خو په دغه حالت کې پاچا د خپلو رقیبانو په خپلو او منزوي کولو کې همدومره زیار او زحمت ګالي، لکه د حکومت بنسټګرو چې په پیل کې تېر کړي وي، بلکې تر لومړي پړاو ځکه زیات زحمتونه ګالي چې په پیل کې له ده سره قومي ملاتړ وي او مبارزه یې له پردیو سره وي، خو په دې دوهم حالت کې د ده جګړه له خپلو قومي کسانو سره ده او هغه له واکه غورځوي او شړي یې، چې په دې کار کې له ده سره له

وړوکي ډلې پرته د قوم او کورنی هېڅ ملاتړ نشته، یوازې یو وړوکی بهرنی لوری به یې ملاتړ کوي. له همدې لامله پاچهي په دې حالت کې له ستونزمن حالت سره لاس او ګریوان وي.

## دریېیم حالت

دریېیم حالت د هېواد د ګټو او مېوو ترلاسه کولو د راحت او آرامۍ حالت دی چې انسان په فطري ډول دې ته تمایل ښیي چې ډېره شتمني ترلاسه کړي او د واك او پاچاهۍ نه په همدې کې کار واخلي، څکه خو پاچا دغه مهال ډېره مالیه راټولوي، خپل عاید او لګښت منظموي لګښتونه اندازه کوي او په دې کې اعتدال غوره کوي، لویې او پخې ماڼۍ جوړوي، لویې کارخانې پرانیستل کېږي، پراخ ښارونه جوړېږي، د جګو منارو لرونکي جوماتونه رغېږي، د شریفو قومونو او وتلیو قبیلو له لارې د پلاویو د راتلو لړۍ پیلېږي او پاچا د خپلې کورنۍ د ژوند د ښه کولو هڅې کوي، هغوی په مال او مقامونو سرلوړي کوي، په پوځ کې نظم راولي، هغوی ته مناسبې میاشتنۍ تنخواوې ورکوي، او په ښښنو او ډالیو کې عدالت او برابري رعایت کوي تر دې چې پایلې یې پر پوځ، د هغوی په جامو، د هغو پر وسلو او د هغوی په ښه کې، کله چې د کومې خوښۍ لمانځلو پر مهال څانونه جوړوي او راوزي، برالا ښکاري.
بیا نو دوست هېوادونه د هغه ستاینه کوي او پرې ویاړي او دښمن هېوادونه ویرېږي او په اندېښنه کې لوېږي. د خپلواکو حکومتو د خپلواکۍ دا وروستي او ډېر مهم پړاو وي، څکه چې د واك خاوند په دې دوره کې خپل نظر او رایه لري، د خپل عزت بنسټګر وي او د راتلونکیو لپاره لاره هواروي.

## څلورم حالت

څلورم ډول د قناعت او سولې ژوند خوښونې دوران دی. په دې پړاو کې پاچا له خپلو مشرانو نه په ترلاسه کړي عزت تکیه کوي تر څو د نړۍ له پاچاهانو سره په سوله کې ژوند وکړي، که یې هغه دوستان وي او که دښمنان.
پاچا د اسلام پر پله پل ږدي، د خپلو مشرانو ګام پر ګام پیروي کوي او پر دې یې باور وي چې که له دې لارې کاږه شي نو حکومت به یې په فساد ککړ او د بربادۍ په لور روان شي او پر دې یې هم بشپړ باور وي چې مشران یې تر دوی زیات هوښیاران او د تجربو خاوندان وو.

## پنځم حالت

دا د اسراف او بېځایه لګښتونو دوران دی، په دې دوران کې پاچا د خپلو مشرانو له لوري راټول شوی مال او دولت لګوي، د خپل څان په عیشونو، د خپل حرم پر خپلوانو، پر خپلو محفلونو او پر خپلو بدو او ناوړه انډیوالانو، بدماشانو او لنډغرو یې بربادوي، هغه نااهله خلکو ته د حکومت لوی لوی مقامونه ورکوي چې هغوی د هغو مقامونو له مسوولیتونو نشي وتلی او پر دې نه پوهېږي چې څه وکړي او څه ونه کړي، دوی د وطندوستو او لویو شخصیتونو کارنامې ویجاړوي او د پخوانیو نومونه ورکوي. تر دې چې خلك له پاچا سره

کینه کوي او د هغه له ملاتړه لاس اخلي، بل لوري ته پوځ هم له منځه ځي ځکه چې د هېواد خزانه په ناروا خرمستیو لوټوي او د پوځ تنخواوې بندوي، پاچا پخپله پوځ معاینه کولای، پاللای او ارځولای نشي، ځکه خو په کوم دولت چې مشرانو هغه جوړ کړی وي دی یې بربادوي او د هغوی رغول شوې ودانۍ راغورځوي، په دې دوران کې پر حکومت د بوډاتوب ژمی راځي او داسې ناروغي چې له هغو د رغېدو ډېر لږ چانس وي پرې راځي، تر دې چې وروستی سلګۍ وکړي چې موږ به یې وروسته بیان کړو الله تعالی تر ټولو غوره وارث دی.

Scanned with CamScanner

# اتلسم فصل

## د حکومت ټول اثار د هغو د اصلي ځواك په سبب دي

د دې لامل دا دی چې اثار او يادگارونه هغه ځواك ښيي چې د حکومت په پيل کې رامنځته شوی ؤ او دغه اثار د هغو پر ځواکمنی او يا کمزوری دلالت کوي. په دې اثارو او نښو کې لويې لويې ودانۍ او شاندار جوماتونه او عبادتخايونه هم شامل دي، دغه نښې او يادگارونه هم د حکومت اصلي عظمت، لويی او بنسټيز ځواك او دبدبې ته فرياد کوي، ځکه چې دغه لوی اثار پر دې دلالت کوي چې حکومت په پراخه خمکه واکمني درلوده، زيات کارگران او هنرمندان يې درلودل چې دومره ستر او شانداره اثار ترې پاتې شوي دي. تاسو د عاد او ثمود پر قومونو فکر وکړئ او د هغوی پرېښي اثار نه گورئ او هغه پېښې نه لولئ چې قرانکريم د دغو دوو قومونو په باب بيان کړي دي.

### د کسرا پر مانۍ غور

نن مو پخپلو سترگو د کسرا مانۍ وگورئ او د پارسيانو د ځواکمنی اټکل ترې وکړئ، د هغو د پياوړتيا په باب پوښتنه وکړئ، يو ځل هارون الرشيد د هغو د راغورځولو اراده وکړه او د ويجاړولو لپاره يې مزدوران وگومارل او په ورانولو يې کار پيل کړ خو گومارل شوي مزدوران د هغو له ورانولو ناتوانه شول، بيا په دې تړاو رشيد له يحيی بن خالد نه مشوره وغوښتله چې د تاريخ په کتابونو کې مشهوره ده. اوس فکر وکړئ چې هغه حکومت به څومره ځواکمن وي چې دغسې ودانۍ به يې جوړولې چې بل حکومت ړنگولای نشوای، په داسې حال کې چې جوړول گران او ورانول آسانه دي. له دې تاسو د دواړو حکومتونو د ځواك اټکل کولای شئ او د دواړو توپير هم ښکاري.

### د نړۍ پر عجايبو غور او فکر

اوس راشئ د وليد د مانۍ (بلاط الوليد، په دمشق کې د جومات نوم دی) په لوري چې په دمشق کې يې جوړه کړې وه، او د امويانو جومات ته راشئ چې په قرطبه کې يې جوړ کړی دی. او د قرطبې په دره کې يې چې کوم بل پل جوړ کړی دی، لږ پر هغو فکر وکړئ. همدارنگه د اوبو د لېږد طاقونه چې کارتاژ ته يې اوبه وړلې، د سرشال اثار په مغرب کې او د مصر اهرام هم او ډېر نور دغه ډول اثار چې موږ وينو بايد په غور يې وگورو، دا ټول ښيي چې دولتونه په زور او توان کې څه ډول يو له بل سره توپير لري.

### د کيسه ويونکيو له مبالغو ډکې کيسې

وگورئ په پخوا وختونو کې دغه ډول کارونه د هندسي وسايلو او د ماهرو کارگرانو په لاسو ترسره شوي دي، ځکه خو د لرغونو زمانو ودانۍ ډېرې کلکې او مضبوطې او باورې دي، دغه خبره نه ده چې گواکي پخواني

خلك په قد او بدن کې تر موږ ډېر لوی او ډېر غښتلي وو، ځکه چې د پخوانیو او وروستنیو انسانانو په قدونو کې دومره توپیرونه نشته لکه په ودانیو کې چې دي. دغه غلطې خبرې کیسه کوونکیو خپرې کړې دي. (ځکه چې تر څو په کیسه کې مبالغه ونشي مزه داره نه وي) ګورئ چې کیسه کوونکیو د عاد او عمالقه قومونو په باب څومره دروغ او بې بنسټه پیښې په کیسو کې ځای کړې دي، چې په خلکو کې مشهورې دي.

## د عوج بن عناق کیسه

تر ټولو بې بنسټه کیسه په دې کې عوج بن عناق (یاعوج بن عوق، یا عوج بن عنق) ده، دا د عمالقه قوم د یوه تن کیسه ده چې بني اسراییل په شام کې ورسره جنګېدلي دي. د خلکو ګومان دا دی چې دغه سړی دومره جګ ؤ چې کب به یې راونیو او بیا به یې په لمر پخاوه. له دې پېښې ښکاري چې کیسه ویونکي نه یوازې د انسانانو بلکې د سیارو له وضعیته هم ناخبره وو، ځکه چې دوی په دې باور وو چې په لمر کې تودوخه ده او لمر ته نژدې تودوخه ډېره زیاتېږي. دوی نه پوهېدل چې د رڼا له وړانګو تودوخه پیدا کېږي او دغه تودوخه د رڼا د وړانګو له غبرګون سره لا زیاتېږي، ځکه خو حرارت په ځمکه کې دی، پاس په وریځو او فضا کې حرارت نشته او لمر نه سوړ دی او نه ګرم، یو نوراني ټیکلی دی او بس. (دا د متقدمینو نظریه ده هغوی لمر همداسې تعریفاوه، چې وروسته غلطه ثابته شوه، پښتو ژباړن) په هر صورت عوج بن عناق د دوی په قول د عمالقه ؤ یو سړی ؤ یا د کنعان دی چې د بني اسراییلو له لاسه یې ماته وخوړه، هغه مهال چې هغوی شام ونیو. د هغه وخت د اسراییلیانو قدونه زموږ د اوس په شان وو، چې د بیت المقدس دروازې پرې ګواه دي، که څه هم بیت المقدس څو ځلې وران شو، خو د بېرته رغولو پر مهال یې دروازې په بڼه او اندازه په هماغه لومړني کچه دي. نو بیا د عوج بن عناق او د هغه د هممهالو ترمنځ په قد کې دومره ستر توپیر کله کېدای شي؟
بېشکه چې د دوی د دغه اټکل اصلي لامل د هغو قومونو د لویو یادګارونو او ودانیو لیدل دي، د هغوی د ودانیو شان او عظمت چې ګوري د هغوی د قد او اندام په باب اټکلونه کوي، چې څومره دغه ودانۍ دنګې او لویې دي، هومره به د هغوی قدونه جګ وو، چې دا بلکل غلط اټکلونه دي.

## د مسعودي او فیلسوفانو د یوه نظر نقد

مسعودي یو نامستند نظر له فیلسوفانو نه رانقل کړی دی چې له بې دلیله وینا پرته بل څه نه ګڼل کېږي، دا چې خدای تعالی له انسان سره هغه ماده پیدا کړه چې د ټولو اجسامو تومنه ده، دغه ماده لومړی د ځمکې د کرې پر مخ بشپړه او په ډېر زور کې وه او د خلکو عمرونه هم ډېر اوږده وو او بدنونه یې له همدې درکه ډېر څواکمن وو ځکه چې په دې ماده کې ډېر جوش ؤ او مرګ د دې طبیعي قوې ضایع کېدو په مانا دی، نو که د شته شیانو طبیعت څواکمن وي عمر به یې هم زیات وي، نو نړۍ د پیدایښت په پیل کې همدغسې وه چې په هغو کې شته شیان بشپړ او له نیمګړتیا پرته وو، خو وروسته چې دغه طبیعي څواك زیانمن شو او په جوش کې یې کمی راغی په هماغه پرتله په څواك کې کمی راغی او عمرونه لنډېدل تر دې چې په اوس وخت کې د څواك او عمر

Scanned with CamScanner

وضعه داسې حالت ته را رسېدلې چې وينو يې، دا چې هغه طبيعي ماده او ځواك مخ پر كمېدو دى نو د خلكو په ځواك او بدنونو كې هم كمى راځي او دغه لړۍ به د نړۍ تر پايته رسېدو پورې دوام كوي.
دغه نظريه كوم عقلي دليل نه لري، همدغسې كوم طبيعي لامل او منطقي دليل هم نه لري، ځكه موږ د پخوانيو خلكو ودانۍ او كورونه ګورو، د هغوى د كورونو دروازې، لارې او كوڅې وينو، همدغسې د دوى جوړ شوي كورونه، جوماتونه او ودانۍ ګورو او د هغو دروازې ګورو، لكه د ثموديانو د قوم چې غرونه يې تراشلي او كورونه يې جوړ كړي دي. د هغو كورونه او دروازې وړوكي او تنګې دي. او له مبارك حديث څخه ښكاري چې دا د هغوى كورونه دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغوى له ځاګانو نه د اوبو د څكلو څخه صحابه منعه كړي دي او حكم يې وكړ چې كه په دې اوبو اوړه لانده شوي وي هغه وغورځوي او اوبه تويې كړئ او يا هغه اوړه اوښانو ته واچوئ چې ويې خوري. رسول الله و فرمايل چې د هغوى كورونو ته ژړه غوني ننوزئ، داسې نشي چې پر تاسې هم عذاب راشي. همدغسې د عاديانو، مصريانو، د شام د اوسېدونكيو او د نړۍ په هر ګوټ كې د نورو قومونو كورونه شته، كه په ختيځ كې دي كه په لوېديز كې رښتيا خبره هغه ده چې موږ ثابته كړه. د حكومتونو په نښو او يادګارونو كې د ودونو او خوښيو د مراسمو او نورو رسمونو چې پكې دود وو نښې پاتې دي. لكه چې موږ د پوران د واده په باب او د حجاج او ذولنون په باب پاس يادونه كړې ده، د حكومتونو ډالۍ او انعامونه هم په دغو اثارو كې شامل دي. او دغه خبره هم چې ډالۍ او انعامونه د حكومت د كمزورۍ او ځواكمنۍ سره برابر او يو شان وي، كه حكومت مخ پر زوال هم وي، واكمن سوغاتونه او ډالۍ وركوي كه څه هم حكومت د زوال په لور درومي، ځكه چې د دوى لوړې ارادې د خپل خپل حكومت د واك او برلاسى له حيثيته سره وي او ارادې او زغم د دوى تر زواله پرلپسې ورسره وي.

**د ابن ذي يزن ډالۍ**

په دې ډاليو او بخښنو كې د ابن ذي يزن د ډاليو اټكل وكړئ، چې هغه د قريشو پلاوي ته وركړې وې، هغه د پلاوي هر غړي ته لس لس (رطل) سره او سپين زر او لس لس غلامان او لس لس وينځې وركړې، د عنبرو يو يو صندوق يې هم ور ډالۍ كړ او د عبدالمطلب د پلاوي مشر ته يې تر نورو لس چنده زيات وركړل، په داسې حال كې چې هغه مهال د نوموړي حكومت تر يمن پورې را ايسار ؤ او د پارسيانو تر اطاعت لاندې ؤ، خو د هغه ارادې لوړې وې ځكه چې د ده د قوم تبابعه واكمني او برلاسي په تېرو وختونو كې ډېره پراخه وه چې په هغو كې دواړه عراقونه «عرب او عجم» هند او د المغرب ډېرې برخې شاملې وې.
همدغسې كله به چې په افريقا كې د زناته حاكم د پلاوي په دود د صنهاجه پاچاهانو په حضور مشرف كېدو نو هغوى به هم په مالونو بار كچرې، د ټوكرانو تانونه او زيات اصيل او د ښه نسل اسونه وركول. په دې باره كې د ابن رفيق په تاريخ كې ډېرې پيښې رانقل شوې دي. همدغسې د برمكيانو، ډالۍ او انعامونه او لګښتونه وو، برمكيانو به چې كوم بې وزلي ته يو څه وركول نو دومره اندازه به يې وركول چې هغو ته به له يوه نسل نه بل ته پاتې شول، نه يوازې هغوى بلكې د هغوى د بچيانو اولادونه به د شتو او مال خاوندان شول. داسې څه به يې نه

ورکول چې یو- دوه ساعته او یا یوه یا دوې شپې وروسته ختم شي. په دې تړاو د برمکیانو په تاریخونو کې ډېرې پېښې لیکل شوې دي، په هر صورت دا هر څه د حکومت په څواك ترسره کېدل.
همدارنګه جوهر صقلبي کاتب، د عبیدیانو د پوځ مشر چې کله د مصر د فتحې لپاره هغه لور ته وخوځېد، له قیروان نه یې زر باره مالونه او (نغدي سره او سپین) ورسره چمتو کړل، اوس مهال یو حکومت دومره لوړو انعامونو ته نشي رسېدای او په خزانو کې دومره مال نه لري.

## د مامون په زمانه کې د حکومت د مالیې تفصیل

د احمد بن محمد بن عبدالحمید یو شمېر د هغه ځانګړې لیکنې موندل شوې چې په هغو کې د مامون د واکمنۍ پر مهال د هېواد له ګوټ ګوټ نه د راټولو شویو مالیو تفصیل راغلی دی چې بغداد ته را استول کېدو. ما د حکومت له دفترونو هغه رانقل کړي دي چې په دې ډول دي:

۱- د سواد غلې، په کال کې دوه ځله (۲۷۷۸۰۰۰۰) درهمه، بېلابېلې نورې مالیې (۱۴۸۰۰۰۰۰درهمه) دوه سوه نجراني جوړې جامې، ۲۴۰ پونډه د لیکونو د مهر کولو ختې.
۲- د کسکر (۱۱۶۰۰۰۰۰) درهمه په کال دوه ځله
۳- د دجلې ښارونه (۲۰۰۰۰۰۰۸) درهمه
۴- حلوان (۴۸۰۰۰۰۰) درهمه
۵- اهواز په کال کې یو ځل ۲۵ زره درهمه او ۳۰۰۰۰ پونډه بوره (شکره)
٦- فارس (۲۷۰۰۰۰۰۰ درهمه) د ګلابو شیره ۳۰ زره بوتلونه، او تېل (غوړي) ۲۰ زره پونډه
۷- کرمان (۴۲۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله، ۵۰۰ یمني تانونه، شل زره پونډه کجورې
۸- مکران ۴۰۰۰۰۰ درهمه په کال کې یو ځل
۹- سند او د هغه شاوخوا (۱۱۵۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله او هندي عود ۱۵۰ پونډه
۱۰- سجستان (۴۰۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله، د نازکو ټوکرانو ۳۰۰ تانه، او ۲۰ پونډه ګوړه
۱۱- خراسان (۲۸۰۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله، د سپینو زرو ۲۰۰۰ سکې، ۴۰۰۰ کچرې، زر تنه غلامان، ۲۷ زره جوړې جامې، ۳۰ زره پونډه طبي بوټي
۱۲- ګرګان (۱۲۰۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله، او د ورېښمو یو زر غوټې
۱۳- قومس (۱۰۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله، او ۵۰۰۰۰ د سپینو زرو سکې
۱۴- طبرستان، رومان او نهاوند (٦۳۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله، ٦۰۰ ټوکه طبري فرشونه، ٦۰۰ کمبلې، ۲۰۰ تانه ټوکر، ۳۰۰ لونګی، ۳۰۰ دانې زرین جامونه
۱۵- ری (۱۲۰۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله او ۱۲ زره پونډه شات
۱٦- همدان (۱۱۳۰۰۰۰۰) درهمه، د انارو مربا ... پونډه او ۱۲۰۰۰ پونډه شات
۱۷- د بصرې او کوفې ترمنځ سیمې (۱۰۷۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله

Scanned with CamScanner

۱۸- ماسیذان او دینور (۴۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله
۱۹- د زور ښار (۶۷۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله
۲۰- موصل او شاوخوا سیمې (۲۴۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله او سپین شات (۲۰۰۰۰۰۰) پونډه
۲۱- آذربایجان (۴۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله
۲۲- جزیره او د فرات شاوخوا (۳۴۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله، زر تنه غلامان، ۱۲ زره مشکه شات، ښکاري بازان ۱۰ وزره، ۲۰ جوړې چپنې
۲۳- ارمینیا (ارمنستان)، (۱۳۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله، فرشونه شل ګېډۍ، شورماهي (مالګین کبان) لس زره پونډه، دوه سوه سره کچرې، طریخ (د کبانو یو ډول دی) لس زره پونډه
۲۴- قنسرین (۴۰۰۰۰۰) دیناره، یو زر د اوښانو بارونه زیتون
۲۵- دمشق (۴۲۰۰۰۰) دیناره
۲۶- اردن (۹۷۰۰۰) دیناره
۲۷- فلسطین (۳۱۰۰۰۰) دیناره او ۳۰۰۰۰۰ پونډه زیتون
۲۸- مصر (۱۹۲۰۰۰۰) دیناره
۲۹- برقه (۱۰۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله
۳۰- افریقا (۱۳۰۰۰۰۰) درهمه په کال کې دوه ځله، او ۱۳۰ ټوټې فرشونه
۳۱- یمن (۳۷۰۰۰۰) دیناره او پر دې سربېره نور یمني جامې او ټوکران
۳۲- حجاز (۳۰۰۰۰۰) دیناره

**عبدالرحمن الناصر پنځه لکه سکې سره زر پرېښودل**

د اندلس رښتینو مؤرخانو لیکلي چې عبدالرحمن الناصر د امویانو اتم پاچا چې ځانته یې د خلافت نوم غوره کړ، په خزانه کې پنځه لکه د سرو زرو سکې پرېښودې، ما د هارون رشید په باب په کوم کتاب کې ولوستل چې د هغه د حکومت پر مهال د نوموړي د حکومت کلنی مالیه او عاید (۷۵۰۰) قنطاره سره زر وو چې بیت المال ته به راتلل.

## د کوم حکومت د ځواکمنۍ د ارزولو لپاره معاملاتو او اثارو ته نظر وکړئ

که د دوو او یا زیاتو حکومتونو د عاید او د ځواك او کمزورۍ د اندازه کولو لپاره یې یو له بل سره پرتله کړئ نو د هغوی معاملې او یادګارونه او نښې خامخا باید په نظر کې ونیسئ، وګورئ کوم څه مو چې ونه لیدل او یا ستاسو په زمانه کې نه وي نو د هغوی په سبب د تېرو حکومتونو له کومې مسئلې نه انکار مه کوئ او دا له اټکل نه لرې مه بولئ، که نه د ممکن کارونو له درك څخه به ناتوانه یاست.

کله چې د علم او پوهې خاوندان د پخوانیو حکومتونو په باب داسې خبرې اوري چې پاس مو یې یادونه وکړه، نو سمدستي یې ردوي او انکار ترې کوي، په داسې حال کې چې دا سمه نه ده، ځکه چې د نړۍ په ټولنیزه وضعه کې په بېلابېلو وختونو او ځایونو کې توپیرونه وي، بیا چې کوم چا د کوم حکومت تر ټولو ټیټه او یا منځنۍ کچه لیدلې وي د هغو د لوړې درجې اټکل څه ډول وکولای شي؟

## زموږ د وخت د حکومتونو او د امویانو او عباسیانو د حکومتونو ترمنځ لوی توپیر دی

کله چې موږ د عباسیانو او یا امویانو او یا د عبیدیانو تاریخ لولو له هغو نه په رښتیا انکار نشي کېدای او هغه چې د خپل وخت له حکومتونو سره پرتله کوو چې له پخوانیو حکومتونو نه ډېر کمزوري او بې وزله دي نو د هغوی ترمنځ د ځمکې او اسمان هومره توپیر وینو، د دې سبب دا دی چې په حکومتونو کې د ځواك او ټولنیز حیثیت له اړخه ډېر توپیر وي، پایله دا کېږي چې نښې او یادګارونه د یوه حکومت د اصلي ځواك محصول وي چې پاس مو بیا ن کړه او موږ له دې حقیقت نه انکار نشو کولای، ځکه چې د حکومتونو پېښې او وضعې په ډېر تفصیل بیان شوې او مشهورې شوې دي، ځینې پېښې یې پرلپسې خوله په خوله شوې، چې ودانۍ او نور اثار یې هم شته چې په سترګو یې لیدای شو. ځکه خو په معقول ډول له پاتې اثارو د حکومتونو نه د ځواك او کمزورۍ او د وړوکوالي او لویوالي د مراتبو اټکل په ښه ډول وکړئ.

## د ابن بطوطه کیسه

په دې لړ کې له دې په زړه پورې کیسې څخه عبرت واخلئ چې د (بني مرین له پاچاهانو څخه) د سلطان ابوعنان د حکومت پر مهال د طنجې له مشرانو څخه یو تن د ابن بطوطه په نامه په ختیځ کې له شل کاله تېرولو وروسته مغرب ته لاړ، په ختیځ کې یې عراق، یمن، هندوستان او آن ډیلی چې د هندوستان پلازمینه وه لیدلې وو. هغه مهال د ډیلي پر تخت سلطان محمد شاه ناست ؤ، ابن بطوطه د فیروز شاه تر وخته په ډیلي کې اوسېدو، سلطان د هغه ډېر عزت او درناوی کاوه، پاچا نوموړی د مالکي مذهب قاضي هم ټاکلی ؤ، وروسته ابن بطوطه ډیلی پرېښود او د مغرب په لور لاړ او د سلطان ابولعنان تر درباره ورسېد، هغه په دې سفرونو کې او د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې چې کوم حیرانوونکي شیان لیدلي وو د هغو کیسې به یې کولې، زیاتره به یې د هندوستان د پاچا د حکومت په باره کې کیسې اورولې. د داسې پېښو کیسې به یې کولې چې اوریدونکي به یې حیرانول. هغه به ویل چې کله به د هند پاچا چېرته په سفر روانیدو نو د خپل ښار ټول خلك به یې چې نارینه، ښځې او ماشومان به پکې شامل وو شمېرل او ټولو ته به یې له خپل ځانګړي جیب نه د شپږ میاشتو لګښت ورکاوه او کله به چې له سفره راستون شو (معمولاً به د جمعې په ورځ راستنېدو) نو د ښار، ټول خلك به یې هرکلي ته ور ووتل او له څلورو لوریو به ترې را چاپېر شول او پر هغه به یې طوافونه کول، بیا به په همدغه غونډه کې د پاچا په مخکې منجنیق نصب شو. چې د هغو په واسطه به یې پر خلکو درهمونه او دینارونه ورشیندل، کرۍ شپه به

Scanned with CamScanner

دغه شیندل روان وو تر دې چې پاچا به خپلې شاهي ماڼۍ ته ورننوت، ابن بطوطه دغه ډول نورې پېښې هم بیانولې او خلکو به هغه دروغ ګڼلې.

## د فارس سلطان له وزیر سره لیدل او له هغه نه د ابن بطوطه په باب پوښتنه

دغه مهال ما د سلطان له نومیالي وزیر فارس بن دردا سره ولیدل او له هغه سره مې د دغو پېښو په باب خبرې وکړې، څرنګه چې د خلکو په منځ کې په دروغو مشهورې وې ما هم هغه ته وویل چې دا دروغ راته ښکاري. فارس ما ته وویل چې د دې پېښو او د حکومتونو د وضعې په باب تر هغو اورېدل شوې خبرې دروغ مه ګڼه تر څو دې پخپلو سترګو نه وي لیدلې، که نه ته به هم د هغه وزیر د زوی به څېر شي چې په زندان کې را لوی شوی ؤ.

### د وزیر د زوی کیسه

د وزیر د زوی کیسه داسې ده چې یوه پاچا خپل وزیر زندان ته واچاوه، هغه په زندان کې ډېر کلونه بندي ؤ او په همدې زندان کې یې زوی ځوان شو. بیا چې هلك هوښیار او د عقل خاوند شو نو له پلار نه یې وپوښتل چې پلار جانه! دغه غوښه چې ته یې خورې د څه شي ده؟

وزیر ځواب ورکړ! زویه دا د وزې غوښه ده، ترې وې پوښتل: وزه څه شی وي؟ وزیر ځواب ورکوي چې د وزې بڼه داسې وي او دا دا ښېګڼې لري.

هلك پوښتنه کوي: پلاجانه هغه د موږك په څېر وي؟ وزیر ورته وايي چې نه بچیه، چېرته وزه او چېرته موږك، همدغه پوښتنه او ځواب د غوایه او اوښ په باب هم تکرار شي، دا ځکه چې هلك په زندان کې له موږك پرته بل هېڅ حیوان نه دی لیدلی. ځکه خو یې فکر کاوه چې دا نور حیوانات به هم د موږك په څېر وي.

### د پېښو د ارزولو لپاره اصولو ته ورګرځېدل اړین دي

په عام ډول له هغه شیانو څخه انکار کېږي چې خلکو په خپلو سترګو نه وي لیدلي او دا د زیاترو هغو غلطیو سرچینه ده چې د تاریخ په باب خلك ورسره مخ کېږي. همدارنګه د نورو د حیرانولو لپاره د شمېرو او عددونو په راوړو کې مبالغې کېږي چې خلك دوه زړي کوي چې د کتاب په پیل کې مو بیان کړي دي. ځکه خو د خبرو او پېښو په لړ کې باید انسان اصولو ته ور وګرځي او بې پرې واوسي، په عقل او فکر پرېکړه وکړي، او د شوني او ناشوني په څرنګوالي کې په روغ عقل او فکر د توپیر هڅه وکړي. که خبر د امکان په حد کې وي نو ومنل شي که نه بیا رد کړای شي؟

## له شونتیا څخه مادي شونتیا مراد ده

دلته موله امکان او شونتیا نه عقلي نه بلکې مادي شونتیا موخه ده، څکه چې د عقلي امکان مفهوم ډېر پراخ دی او دا د پېښو حد او برید نشي ټاکلی. مادي شونتیا مو مراده ده، د دې مانا دا ده چې که موږ ته د یوه شي اصلیت، جنس، صفت، ډول او د هغو لویوالی او د ځواك اندازه معلومه وي نو د هغو پر حالت له همدې نسبته حکم کولای شو او چې له دې دایرې نه د باندې وي پر هغو حکم نشو کولای. راځئ خدای تعالی ته دعا وکړو چې یا الله زموږ علم زیات کړې څکه چې ته ډېر مهربانه ذات یې او پر هر څه الله تعالی عالم او خبر دی.

# نولسم فصل

## پاچا د خپل قوم او قبیلې د مقابلې لپاره له غلامانو او تنخوا خورو کار اخلي

وګورئ د پاچا او د ده د حکومت ټول کارونه د ده د قوم او قبیلې په لاس بشپړیږي، لکه چې موړ پاس بیان کړي دي، ځکه خو قوم د ده ملاتړې ډله او ولس دی او د ده په چارو کې مرستندویان وي، د قوم په واسطه نوموړی یاغیان ماتوي او په حکومت کې هغوی ته مهمې کرسی او مقامونه ورکوي. لکه وزارت، د مالیو راټولولو ماموریتونه او داسې نور. ځکه چې د واك د ترلاسه کولو او ساتلو لپاره همدغه د نوموړي مرستندوی ګرځي او د حکومت په شمول وي او په ټولو مهمو چارو کې ورسره یو شان شریك وي، دا حالت د حکومت په لومړیو وختونو کې وي لکه چې پاس مو بیان کړې ده، وروسته چې بل وخت راځي، پاچا خپل قوم له پامه غورځوي او خپلسری کیږي او په زړه کې یې یوازې د ځان د لویې جذبه پالي او هغه خپل قوم د حکومتولی او واکمنی په چارو کې له لاسوهنې او ګډون نه را ایساروي. د دې لپاره نوموړی د نورو خلکو ملاتړ ته اړتیا لري چې له نورو قومونو څخه وي، پاچا اوس غواړي چې له هغو سره اړیکې او راشه او درشه ولري او دوی بیا پاچا ته تر خپل قوم زیات ورنژدې کیږي. او د هغه په ځانګړیو مخلصو کسانو کې راځي، هغوی ته برلاسي او فضلیت ورکوي، ځکه چې اوس نو همدوی پر پاچا خپل سرونه قربانوي او د نوموړي له قوم نه د پاچا دفاع کوي، د پاچا قوم له خپلو حقوقو محروموي او له هغو مقامونو یې هم راغورځوي چې تر دې وړاندې یې په لاس کې وو. پاچا هم همدوی پالي او د خپلو مخلصانو په ډله کې یې راولي او ځانګړي امتیازات ورکوي، په لویو مقامونو یې ګوماري لکه د پوځ مشري، وزارت، د مالیو راټولول او نور. هغه څه چې یوازې د پاچا لپاره ځانګړي وي لکه حکومتي القاب او نور پاچا هغه هم دوی ته وربښي، ځکه چې اوس همدوی د ده په اند د ده نژدې دوستان، غمخواره او خواخوږي دي.

## د حکومت د پایته رسېدو یوه نښه

دغه دردوونکی حالت د حکومت د زوال او رانسکورېدو نښه ده، دا د پخوانۍ ناروغۍ علامه ده، ځکه چې له دې نه په قومي ملاتړ کې فساد راپیدا کیږي چې د برلاسۍ او وړتیا وداني پرې درېدلې ده، هلته چې د قوم خلك دا ګوري چې پاچا دوی ته په سپکه او خواره سترګه ګوري او دښمنان یې ګڼي نو د دوی په زړونو کې هم د پاچا پرخلاف کرکه او د دښمنۍ احساس را پیدا کیږي او هغوی هم له ده سره کینه کوي او نوموړي ته وار ګوري او د وخت د بدلون په انتظار وي. د دې زیان حکومت ته رسیږي او له دې ناروغۍ نه د حکومت د روغ وتلو تمه نشي کېدای ځکه چې دغه ناروغي له یوه نسل نه بل ته لېږدي، تر دې چې د حکومت جنازه قبر ته کوزه کړي.

## ځو مثالونه

دغه حالت د امویانو په حکومت کې لیدلای شو چې د دوی واکمنو څه ډول د جګړې پر ډګر او د ولایاتو په اداره کې یوازې پر عربو تکیه درلوده، لکه عمر بن سعد بن ابي وقاص «رض»، عبدالله بن زیاد، حجاج بن یوسف، مهلب بن ابي صغره، خالد بن عبدالله قسري، ابن هبیره، موسی بن نصیر، بلال بن برده بن ابو موسی اشعري او نصر بن سیاد او نورو.

همدارنګه د عباسیانو د حکومت په پیل کې هم له عربو څخه په ملکي چارو او جګړو کې مرسته غوښتل کېدله. بیا چې حکومت خپلسری او د استبدادي واکمنۍ پړاو ته ورسېد او عرب په ولایاتو کې له واکمنۍ نه را ایسار کړای شول، وزارتونه عجمیانو ته ورکړای شول او تنخوا خواره مامورین له نورو قومونو څخه وګومارل شول. لکه برمکیانو ته، بني سهل بن نوبخت، طاهریانو ته او د بني بویه کورنۍ او د ترکي غلامانو لکه بغا، صیف او اتامش (انملش)، باکیاك (بارناك) ابوطولون او د هغو زامنو او نورو غیر عربي قومونو ته وسپارل شول. دا ټول عجمي قومونه وو چې د حکومت د بنسټونو په جوړولو کې شریك نه وو، عزت او مقام د داسې چا لاسو ته ورغی چې پخپله یې د دې مقام د ترلاسه کولو لپاره هلې ځلې او زیار نه و ایستلی. او هغوی چې د حکومت په جوړولو کې یې وینې تویې کړې وې له واکه محروم شول. دا د بنده ګانو په منځ کې د الله تعالی سنت دی او الله تعالی پر هر څه عالم او خبر دی.

# شلم فصل

## په حکومتونو کې د غلامانو او پالل شویو کسانو وضعیت

وګورئ د حکومتونو تنخواه خواره کسان له پاچا سره بېلابېلې اړیکې لري، د ځینو تنخواه خورو اړیکې له پاچا سره پخوانۍ او زړې وي او د ځینو بیا نوې پیل شوې وي او سرسري وي. سبب یې دا دی چې د قومي عصبیت په سبب غلبه او برلاسي صورت نیسي ځکه چې خپلوان او د خپل قوم او خپل خلك په طبیعي ډول له یو بل سره د مرستې احساس لري. خو په پردیو خلکو کې دغه جذبه او احساس نه وي چې پاس مو یې یادونه وکړه. له پردیو سره چې کومه مینه او یا راشه درشه پیدا کېږي هغه د محکومیت او یا د ژمنې او تعهد زېږنده وي، هغوی هم په ملاتړ او بریا کې د نسب ځای نه راځي، ځکه چې نسب که څه هم طبیعي شی دی خو په حقیقت کې یو خیال دی.

## د اړیکو پیدا کولو اسباب

دوه شیان دي چې د اړیکې پیدا کېدو سبب کېږي، یو ځای اوسېدل، یو له بل نه دفاع او ناسته ولاړه، پخوانی اړیکي او ګډ ژوند، او د کفالت او شیدو رودلو له وخته د مرګ او ژوند ګډ بهیر. بیا چې کله دغه ډول اړیکې پیدا کېږي نو پخپلو کې د قرباني او ملاتړ جذبه او احساس را پیدا کېږي. دغه خبره په خلکو کې لیدلای شو د پالل شویو کسانو مسئله هم پر همدې اټکل کړئ، ځکه چې د پالل شویو او پالونکیو ترمنځ هم یوه ځانګړې اړیکه او علاقه پیدا کېږي چې په مرسته او ملاتړ کې د نسبي خپلوۍ پر ځای وي. بلکې تر هغو هم پیاوړې او کلکه وي. که څه هم دغه اړیکه نسبي او د خپلوۍ نه وي خو د خپلوۍ او نسب اغېزې پکې ښکاري.

## تر حکومت مخکې اړیکې تر حکومت له وروسته اړیکو زورې او پخې وي

که دغه اړیکې په قبیلو کې او د واکمن قوم په خلکو کې تر حکومت او واکمنۍ مخکې پیدا شي نو تر حکومت وروسته د هغو ریښې ډېرې زورېږي او مضبوطې کېږي او په هغو کې اخلاص او ربښتینولي غوړېږي، د دې دوه دلایل دي په لاندې ډول:

### لومړی دلیل

لومړی دا چې تر حکومت مخکې حالت تر حکومت وروسته حالت نه یوه بېلګه ده، ځکه خو په نسب او نورو اړیکو کې کوم توپیر نه پاتې کېږي، له څو کسانو پرته څوك پر دې خبر هم نه وي چې دغه اړیکې نسبي دي او که د پاللو، ځکه خو د دوی له منځه غوره شوي دوستان د کورنۍ د غړو او د نسبي خپلوانو ځای نیسي او که د پاللو اړیکې د حکومت ترلاسه کولو وروسته هم پر ځای وې نو د حکومت په مراتبو کې د پالونکي او پالل شوي توپیر وي او د خپلوانو او پالل شویو ترمنځ هم توپیر وي، ځکه چې د ریاست او حکومت وضعه توپیر او د مراتبو بېلبېلد ایجابوي، په همدې دلیل پالل شوي چارواکي په حکومت کې د خپلوانو په پرتله پردي

Scanned with CamScanner

بلل کیږي او اړیکې یې هم کمزورې وي، په هر صورت دغه اړیکې حکومت ته د رسېدو له حالته مخکې اړیکو نه کمزورې وي.

**دوهم دلیل**

پر دې سربېره د یوې قبیلې پالل شوي نوکران او خدمتګاران د قبیلې د حکومت تر رسېدو وړاندې اړیکې او د بادار او خدمتګار ترمنځ نژدې توب اوږده موده دوام لري چې بلاخره دغه پالل شوي نوکران د قبیلې د غړيو او نسبي خپلوانو له ډلې څخه ګڼل کیږي. دغه د اوږدې مودې اړیکې پخپله د پخېدو حالت ته درومي، خو حکومت ته تر رسېدو وروسته د پالل شویو خدمتګارانو او بادارانو ترمنځ د اړیکو موده لنډه وي. په دې لنډه موده کې د اعتماد او باور فضا دومره پخه نه وي، دغه اړیکې داسې وي چې ټول پرې خبر وي ځکه په حکومت کې د خپلوانو او کورنۍ د غړيو اړیکې د پالل شویو خدمتګارانو له اړیکو سره توپیر لري او دغه توپیر د نسبي خپلوانو په پرتله ډېر څرګند وي. دغه خبرې تجربه شوې او په سترګو لیدل شوې دي. آن تر دې چې کله حکومت په وروستیو او د زوال په وختونو کې همدغه پالل شویو تنخواه خورو خدمتګارانو ته مخ اړوي او له هغو څخه مرستې او ملاتړ غواړي بیا هم حکومت ته له رسېدو وړاندې نوکرانو او خدمتګارانو مقام او عزت نه ورکول کیږي. ځکه چې یو خو د دوی د اړیکو او پالنې موده لنډه وي، بل دا چې حکومت پخپله له زوال او نسکورېدو سره مخ وي او د تباهۍ کندې ته په ورلوېدو وي.

## غلامانو او پالل شویو نوکرانو ته د حکومت د پاملرنې سبب

حکومت چې پخواني دوستان او خدمتګاران پرېږدي او د نویو نوکرانو لوري ته لېوالتیا پیدا کوي او د هغوی پر غاړه د خپلو ښېګڼو درونډ بار ور اچوي لامل یې دا دی چې د پخوانیو دوستانو او خواخوږو یو په زړونو کې د حکومت پر وړاندې د عزت او غرور احساس را پیدا شوی وي. او د حکومت د حکم منلو ته تیار نه وي او هغوی حکومت ته د دغسې دښمنۍ له نظره ګوري، واکمنو ته د خپلې قبیلې د یوه غړي او دوست په سترګو ګوري، ځکه د دوی اړیکه له پاچا او واکمن سره د پلرونو او نیکونو له وخته د خپلوی او عزیزولۍ نسبي اړیکه وي، ځکه خو په حکم منلو د ګستاخۍ پړاو ته رسېږي او ځانونه د احترام وړ او عزتمن ګڼي، چې بیا د حکومت او واک خاوندان له دوی نه کرکه کوي او د دوی پر ځای نور پردي کسان ګوماري، خو نوي ګومارل شوي کسان چې د پالنې او دوستۍ موده یې لنډه وي، د پردیو په توګه پاتې کیږي او د حکومت د قبیلوي غړيو ځایونه نشي ډکولای، چې دا د حکومتونو د وروستیو وختونو حالت دی، د دوستانو او پلویانو نوم هماغه پخوانیو ته اخیستل کیږي، دا نوي ګومارل شوي خدمتګاران او همکاران یادېږي.

الله د مؤمنانو ولي دی او هغه د هر څه سنبالوونکی دی.

Scanned with CamScanner

# یوویشتم فصل

## کله چې د پاچا له لاسه واك واخيستل شي نو پر حکومت څه ډول حالت راځي

که چې د یوه څانګړي قوم او يا قبيلې چې د حکومت جوړولو په درشل کې وي، په يوه کورنۍ کې حکومت پياوړی شي او هغه کورنۍ يوازې د نورو له ګډون پرته په هېواد کې څانګړې پاته کېږي او نورې کورنۍ له هېواده شړي، حکومت په همدې کورنۍ کې په ميراثي بڼه له يوه کس نه بل ته لېږدول کېږي. نو زياتره د پاچا وزيران او يا سلاکاران د پاچا پر خلاف سرکشي او بغاوت کوي.

### د وزيرانو او جګپوړيو چارواکيو د بغاوت سبب

په عام ډول د دې بغاوت سبب دا دی چې زياتره داسې ماشوم ځايناستي ټاکي چې بلوغ ته نه وي رسېدلی. يا د شاهي کورنۍ کوم د کمزورې ارادې خاوند او بې عقله څوك ولي عهد ټاکي چې د پلار د واکمنۍ پر مهال د ځايناستي توب هيله لري او يا د پلار له مرګه وروسته د خپلوانو په غوښتنه او هڅو ځايناستی ټاکل کېږي. خو چې کله هغه د هېواد اداره په لاس کې واخلي په چلولو کې يې ناتوانه وي، نو د هغه پر ځای د هغه د هوښيارېدو او ورتيا تر مهاله يو مسوول چارواکی واك ترلاسه کوي.

دا به د ولي عهد د پلار وزير وي يا، کوم سلاکار او يا خاص خدمتګار وي او يا د همدې قبيلې يو غړی، هغه خلکو ته دا وايي چې د ولي عهد د بلوغ او کار ته د چمتو کېدو تر وخته به اداره او نظم د ده په لاس کې وي. هغه د حکومت واك ترلاسه کوي او پر ټول هېواد حکم چلوي، دغه ځايناستي توب هغه ته د حکومت وسيله ګرځي، څکه خو دغه ځايناستی وليعهد د خلکو له نظره پټ ساتي او په هېوادنيو چارو کې ونډه نه ورکوي، هغه په عيش او مستيو او آراميو کې رانښکېل ساتي، پخپلو هڅو د هېواد له چارو څخه لرې او د هېواد له ستونزو بې ناخبره ساتي. تر دې چې همدی د هېواد خپلسری او خپلواك واکمن شي او ولي عهد ته دغه نايب دا ور فهمولې وي چې د پاچا په حکومتي چارو کې همدومره رول وي چې په تخت ناست وي خلك په لاس بيعت ورسره وکړي او په (بادار، ټولواك او ....) القابو يې ياد کړي او د پردې تر شا له ښځو سره په عيش او نوش مشغول وي. پاتې شوه د سرو او سپينو واك، د حکومت د قوانينو پلي کول، د هېواد د ستونزو حل او د هغو ترسره کول او د هېواد د ښې بدې څارنه او احوال اخيستل، د پوځ، خزانې او سرحدونو څارنه دا کارونه د وزير دي. لنډه دا چې خپل ټول واك وزير ته سپاري تر دې چې پر هغه د واکمنۍ رنګ غلبه کوي، پر يوه با صلاحيته پاچا بدلېږي او ټول هېواد يې تر فرمان لاندې راځي، بيا نو د هېواد د مقامونو لپاره د خپلې کورنۍ او د حکومت لپاره تر ځان وروسته خپل اولاد غوره کوي چې تر ده وروسته همدغه مقام ته رسېږي. لکه چې په ختيځ کې د بن بويه کورنۍ، ترکانو او کافور اخشيدي او نورو همداسې وکړل او په اندلس کې منصور بن ابو عامر ترسره کړل.

Scanned with CamScanner

**کله کله ناخبره ولیعهد ځان راسنبال کړی هم دی**

کله کله دغه مجبور، او د بل تر برلاسی لاندې راغلی او له واکه لویدلی پاچا او ولي عهد پر خپل دغه دردوونکي حالت فکر کړی او ورته پام یې شوی دی، د بې واکۍ او مجبوری پړی یې له غاړې غورخولی او د باغي وزیر پرخلاف یې پاځون کړی دی او خپل حکومت یې له هغه نه بېرته اخیستی دی. بیا یې له هغه سره خپل حساب کتاب برابر کړی ځینې پکې وژل شوي او ځینې نور یوازې له مقامونو او دندو لرې شوي دي. خو دغه ډول پېښې ډېرې لږ شوي دي. ځکه چې د کوم حکومت وضعه تر دې پورې ورسېږي چې پر هغو وزیر او نور چارواکي برلاسي شي بیا نو حکومت د هغوی لاسو ته ورځي او ډېر لږ د دې امکان وي چې د هغو له لاسه ووزي، په دې دلیل چې معمولاً حکومت هغه مهال دومره کمزوری کېږي چې پاچا او واکمن لټ او په عیش او مستیو کې ډوب شي، د هغه مېړانه او زړورتیا له منځه لاړه شي، کله چې د هېواد حاکم پاړکی په عیش او مستیو کې پریوزي او د آرامۍ په فضا کې د لتۍ او راحت لاره غوره کړي، د ناز او نعمت په ټالونو کې پالل کېږي د هغو په زړونو کې د پاچاهۍ او ریاست هیلې نه راټوکېږي او په زور او ځواك د هېواد د نیولو لېوالتیا نه لري او نه غواړي چې ترې اخیستل شوي واکونه بېرته ترلاسه کړي یوازینی هیله یې همدغه وي چې په عیش او ناز کې ژوند وکړي او په خوندونو کې ډوب وي، پر حکومت پالل شوي خدمتګاران او غلامان منګولې ټینګوي، او شاهي کورنی خپل قوم او خپلوان له حکومتي مقامونو نه لرې کوي او غواړي یوازې د دوی کور پر واك ځانګړی حاکمیت ولري. چې بیا دا دواړه ناروغی (د پاچا د واك محدودیت او نورو ته پر حکومت برلاسي) په حکومت کې خامخا را پیدا کېږي، لکه چې پاس مو بیان کړه، دا داسې ناروغی دي چې حکومتونه روغ نشي ترې وتلی، که چېرته کوم حکومت ترې روغ وتلی وي نو وتلی به وي، او الله تعالی چې هر چا ته وغواړي حکومت او پاچاهي وربښي او هغه ذات جل جلاله پر هر څه عالم او خبر دی.

Scanned with CamScanner

# دوه ویشتم فصل

## پر پاچا غلبه کوونکي شاهي ځانګړي لقبونه نه غوره کوي

د دې سبب دا دی چې حکومت او ځواك د حکومت لومړني بنسټګر ته په پیل کې د خپل قوم او نورو قومونو چې د هغو د اطاعت غوښتونکي شوي دي د ملاتړ په سبب ترلاسه شوی دی. چې بیا همدغسې سوکه سوکه د پاچا او د هغه د کورنۍ غلبه او حاکمیت ټینګ شوی دی او همدغسې یې دوام کړی دی او په همدې دودونو او قوانینو د حکومت دوام ساتل شوی او خوندي شوی دی.

### پر حکومت دغه ډول غلبه څوك کوي؟

پر حکومت غلبه کوونکی به لومړی د شاهي کورنۍ کوم غړی وي یا به پالل شوی او نوکر وي، نو د هغه قومي ملاتړ به د پاچا د قومي ځواك سره یو ځای شي، په دې مانا چې د پاچا د کورنۍ د قومي ملاتړ تابع نه وي او د پاچاهي کورنۍ رنګ به نه لري. هغه به په دې خپلسرۍ کې دغه اراده نه لري چې براالا او علني پاچاهي د ځان وبولي، بلکې هڅه کوي چې د حکومت په فرمانونو او حکمونو کې او په سرو او سپینو کې یې واك وي او له هغو ګټه اوچته کړي. په دې ډول هغه خلکو ته ښیي چې پخپله د واك لېوال نه دی او د پاچا د حکم اطاعت کوي او دی له خپل لوري شاهي احکام صادروي، ځکه خو هغه تر ممکن حده له شاهي القابو کارولو څخه ډډه کوي او په دې ډول ځان له تورونو او ملامتی لرې ساتي. تر څو څوك دا تور پرې پورې نه کړي چې دی د شاهي تخت لېوالتيا لري، خو د پردې تر شا بشپړ واك او خپلواکي هغه ترلاسه کړې خو پر دې خپلواکۍ یې پخپله پاچا پرده اچولې ځکه چې په دروغو دا ادعا کوي چې دی خو د پاچا نیابت کوي، پاچا په عیاشیو کې ډوب دی او د پاچاهۍ ټول بار یې د ده پر اوږو وراچولی دی او پر حکومت مسلط شوی. دغه کس چې د پاچاهي ځانګړتیاو سره په ټکر کې شي نو د حکومت نور مشران به هغه د دې مقام لپاره وړ ونه بولي او هڅه به وکړي چې هغه له واکه لرې کړي او ځانونه یې پر ځای وټاکي، په دې دلیل چې د نومووړي لپاره په هیڅ ډول دا شرایط برابر نه دي چې پاچاهي یې ټینګه شي تر څو نور ځان ته تابع او سلامي کړي، د شخړې او اختلاف په هماغه لومړیو شېبو کې به له منځه لاړ شي. له دغه ډول حالت سره عبدالرحمن بن ناصر بن منصور بن ابي عامر مخ شو. هغه مهال چې نومووړي هڅه وکړه چې له هشام او کورنۍ سره یې د خلافت په لقب کې شریك شي، په هغه واك او ځواك یې چې پلار او ورور یې پرې قناعت درلود لکه د حل او عقد او د هغو اړوند نورو دودونو په باب یې اکتفا ونکړه، د خپل وخت له خلیفه هشام نه یې وغوښتل چې نومووړی د خلافت په منصب کې خپل ځایناستی وټاکي، خو دغه خبره د مروان په کورنۍ او د قریشو په نورو کورنیو درنه تمامه شوه او دی یې وړ ونه وباله، ځکه یې د هشام د تره له زوی محمد بن عبدالجبار سره بیعت وکړ او له عبدالرحمن او کورنۍ سره یې مخالفت وکړ او همدغه اختلاف د عامریانو د حکومت د نسکورېدو او د دوی د خلیفه المؤید د وژل کېدو سبب شو. د هغه حکومت تر وروستۍ ورځې چې رانسکور شو، د دوی پر ځای د حکومتي ادارې له شهزادګانو او واکمنې کورنۍ نه نور کسان انتخاب شول. خدای تعالی د ځمکې تر ټولو غوره وارث دی.

Scanned with CamScanner

# درویشتم فصل

## د حکومت حقیقت او د هغو ډولونه

حکومت او دولت د انسان یو طبیعي منصب دی ځکه چې په تېرو فصلونو کې مو ثابته کړه چې انسان له ټولنې پرته خپل ژوندانه ته دوام نشي ورکولای، ځکه چې یو د بل سره په مرسته خپله روزي لاسته راوړي او خپلې نورې اړتیاوې پوره کوي.

کله چې انسانان ټولنې جوړې کړي نو بیا یې معاملو ته اړتیا رامخې ته شي او ځینې یې د ځینو نورو اړتیاوې پوره کوي. په دې حساب چې د انسان په حیواني فطرت کې ظلم او تیری هم شته نو د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره پر یو بل ظلم هم کوي چې مظلوم بیا د خپل حق لپاره جګړه کوي چې بلاخره خبره شخړې او جنجالونو ته رسیږي او جګړه بیا ډېرې وژنې، بربادی او خرابی راوړي تر دې چې د انساني نسل د لړۍ د شلېدو وېره پیدا شي. په داسې حال کې چې د نسل د بقا ضمانت لوی خدای تعالی کړی دی. نو د انساني نسل بقا او دوام د ګډوډۍ، جنجالونو او خپلسریو په دوام کې، چې حاکم او پاچا ونه لري ناشونی دی، ځکه خو بشر داسې حاکم او پاچا ته اړتیا لري چې دوی یو پر بل له ظلم او تیري ځخه راوګرځوي او ظالم په خپل قهریه ځواك مغلوب کړي، د انساني طبیعت له غوښتنو سره سم دغه حاکم ته پاچا ویل کېږي چې پر ټولو برلاسی او حاکم وي، د حکومت د لاسته راوړو او ساتنې لپاره له ملاتړ پرته چاره نشته لکه چې پاس مو بیان کړي دي. پاچا باید د قومي ملاتړ او عصبیت خاوند وي ځکه چې د حکومت پراختیا او ساتنه له ملي او قومي ملاتړ پرته ناشونې ده، پاچا د حکومت ساتنې او دفاع ته اړ دی او دفاع له قومي (ملي) ملاتړه پرته ناشونې ده او یو ګام وړاندې هم نشي تلای، بیا په عصبیتونو کې هم توپیر وي او هر قومي عصبیت پر خپله قبیله او تر لاس لاندې وګړو برلاسې او حاکمه وي، خو پاچاهي پر ټولو قبیلو پورې تړاو نه لري، مانا دا چې هره قبیله چې د مالیې په راټولولو، پر خلکو د حکم چلولو او له هېواد او خاورې د دفاع په لاره کې، پر دښمنانو برلاسې او غالبه وي. حکومت هم د هغو لاسو ته لوېږي او همدغه د پاچا او حکومت مانا او مفهوم دی.

ځکه خو که د چا قومي ملاتړ داسې پړاو ته ونه رسېږي چې ځینې پاس یاد شرایط پوره کړي، د ساري په توګه د سرحدونو ساتنه، یا د مالیې او باج راټولول یا د پوځ جوړول، نو داسې ځوك به نیمګړی واکمن او پاچا وي او رښتینی پاچا نشو ورته ویلای، په دې حساب په قیروان کې د اغلبیانو په دولت کې د بربریانو پاچاهان او د عباسیانو د خلافت په پیل کې د عجمیانو پاچاهان همدغسې نیمګړي وو او د بشپړې پاچاهی اطلاق پر هغوی نه کېدو، همدغه ډول د چا قومي ملاتړ چې نور قومي ځواکونه تابع او تر لاس لاندې نکړای شي او په دې برلاسي کې ناتوانه شي او د دوی له فرمان پرته بل فرمان او حکم هم وي بیا هم پاچاهي نیمګړې ده او د هغو حقیقي مفهوم ته نه ده رسېدلې، لکه په شاوخوا کې چې رییسان او امیران اوسېږي او د یوه حکومت تابع او تر حکم لاندې وي، په زیاترو پراخو هېوادونو کې چې لمن یې پراخه غځېدلې وي شاوخوا ته امیران او رییسان وي، یانې د هېواد په لرې ګوټونو کې د هر قوم خپل خپل پاچا (امیر او رییس) وي، چې دوی ټول بیا د یوه

Scanned with CamScanner

لوی حکومت تر لاس لاندې وي. لکه صنهاجه چې د عبیدیانو په حکومت کې وو او زناته چې یو وخت د (اندلس) د امویانو تر حکم لاندې وو. او د پارس ملوك الطوايفي چې د یوناني سکندر تر حکم لاندې یې واکمني کوله، دغسې نیمګړي پاچاهان په تاریخ کې زیات موندلای شو، تاسو هم د تاریخ له لوستلو سره د هغوی درك لګولی شئ. الله تعالی پر خپلو بندګانو غالب دی.

Scanned with CamScanner

# څلورويشتم فصل

## توندي او تاوتريخوالی پاچا ته زيانمن او د بربادۍ لامل دی

بايد وپوهېږو چې د رعيت مصلحت له پاچا سره د هغه د ذات او بدن او د مخ له ښکلا او يا د بدن له پياوړتيا او يا ډېرې پوهې او يا ښکلي خدوخال او يا د هغه د روښانه ذهن سره تړاو نه لري، بلکې د خلکو ښېګڼه او مصلحت له هغه سره اړونده ده چې پاچا يې له ولس نه ترلاسه کوي. ځکه چې حکومت او پاچاهي يو اضافي شی دی او له هغه نسبت سره تړاو لري چې د دوو لوريو ترمنځ ټينګېږي. له همدې ځايه د پاچا د مفهوم حقيقت دا دی چې هغه د رعيت خاوند او د هغوی د چارو مسوول دی، ځکه خو پاچا هغه څوك دی چې رعيت ولري او رعيت هغه ډلې ته وايي چې د يوه پاچا تر فرمان لاندې ژوند وکړي او له هغوی سره چې د تړاو کوم صفت لري هغه «هېواد» بلل کېږي او هغه د رعيت د مالکيت لرلو په مانا دی. په بله وينا پاچا هغه دی چې رعيت ولري او رعيت هغه دی چې پاچا ولري.

بيا چې دغه هېواد او حکومت او د هغو لوازم د لوړې مرتبې وي نو له پاچا څخه چې کوم مراد دی او د هغه چې کوم حق دی هغه به پوره شي. ځکه که حکومت د غوره قانون لرونکی او ښه وي نو د عامو خلکو لپاره په ښتيا د سوکالۍ او غوره ژوند سبب وي. که حکومت ښه نه وي او ظالم وي نو زيان يې ولس او خلکو ته راګرځي او رعيت به ورسره تباه شي.

### نرم چلن او ښه اخلاق د ښه حکومت ريښې دي

د حکومت د ښه توب او غوره والي ريښه نرمي او ښه اخلاق وي، ځکه چې که پاچا تونده خويه او سخت ګير وي د خلکو عيبونه به پلټي او د هغوی يوه يوه غلطي به په خپلو مازغو کې خوندي ساتي، نو پر رعيت به وېره او ذلت خپور وي، په دروغو، په چل او دوکه او چالاکۍ به له هغه نه ځانونه ساتي او دوی به له مجبورۍ دغه بد خويونه غوره کوي چې په پايله کې به يې ذهنيتونه هم ورسره خراب شي او عادتونه هم. هغوی به بيا پاچا د جګړې پر ډګر يوازې پرېږدي او ترې وبه تښتي او په نازکه وضعه کې به د هېواد او حکومت ساتنې او دفاع ته چمتو نه وي.

له همدې لامله به په نيتونو کې له بدګومانيو راتلو سره په مرسته او ملاتړ کې هم فساد راشي. چې کله په همدې سبب خلك د پاچا پر وژلو سره سلا شي. ځکه خو په حکومت کې ګډوډي راشي او د هېواد په نظام کې فساد خپور شي، که د پاچا تونده چلن تر ډېره ورځو دوام وکړي نو که فرضاً ولس هېڅ هم ونه کړي نو لږ تر لږه په قومونو کې فساد خپرېږي، لکه چې مخکې مو بيان کړل د هېواد په ريښو کې به فساد خپور شي او پاچا به له قومي ملاتړ څخه محروم شي. خو که پاچا له ولس سره نرم چلن غوره کړي او د هغوی تېروتنې معافوي نو رعيت له هغه سره مينه کوي. رعيت په سختو ورځو کې هغه ته پناه وروړي، د پاچا مينه د رعيت په زړونو کې ځای نيسي او رعيت د جګړې په ډګر د خپل ګران پاچا په مخ کې ځانونه قربانوي په دې ډول د

هېواد په هر گوټ کې د امن او آرامۍ دوران راځي. پاتې شو د ښه او ستاينې وړ حکومت لازمي توکي، هغه دا دي چې پاچا ولس ته نعمتونه او انعامونه ویشي او د هغوی د سر او مال داسې ساتنه کوي چې حق یې دی، د پاچا د لفظ د مفهوم حقیقت د دغه ساتنې په درجو بشپړېږي. راغله د نیکۍ او ښېنې او انعام خبره، دا د ښه چلن او نرمۍ په مفهوم کې شامل دی او له هغوی سره د ژوند او ژواك د غوره والي لپاره داسې کوي. دا د رعیت د مینې ترلاسه کولو یوه غوره لاره ده.

## بیدار مغزه او ذهین پاچاهان نرم خویه نه وي

باید وپوهېږو چې د مهربانۍ او نرمۍ خوی په ځیرکو او ډېرو هوښیارو خلکو کې لږ موندل کېږي، بلکې په ساده زړیو، غافلو او بې تجربو خلکو کې دغه نرمي او مهرباني زیاته وي، دا چې بیدار مغزه او ذهین پاچاهان د خپل تېز هوش او ذهن او لرې نظر په سبب د یوه کار په پایله مخکې پوهېږي چې د عامو خلکو نظر هغو ته نه رسېږي او پر عام رعیت د دوی له توان نه زیات بوج اچوي. له دې سببه رعیت دومره له سختیو سره مخ کوي چې د مرگونو سبب یې کېږي. له همدې لامله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي (سِیرُوا عَلٰی سَیرِ اَضعَفِکُم) یانې تر ټولو د کمزوري په قدم لاړ شه. په همدې دلیل رسول الله د حاکم لپاره دا شرط ایښی چې په هوښیارۍ کې افراط ونه لري.

**د زیاد ېښه**

د دې دلیل د زیاد بن سفیان پېښه ده چې حضرت عمر فاروق «رض» له عراق نه عزل کړ. وې ویل: ای امیرالمؤمنینه، زه دې ولې عزل کړم، آیا د ناتوانۍ په سبب او که د خیانت او غدارۍ؟ حضرت عمر فاروق «رض» وویل چې ته مې پر دې کوم دلیل نه یې لرې کړی خو ما ته دا ښه ښکاره نه شوه چې ستا غیر معمولي هوښیاري د خلکو پر اوږو ور واچوم! له دې نه برالا ښکاري چې حاکم ډېر سیاسي، ځیرك او هوښیار نه وي لکه زیاد بن سفیان او عمرو بن عاص چې د داسې خلکو حاکمیت توند چلن، سخت گیري او پر ولس د غیر معمولي بوج سبب کېږي. خلك په داسې چارو چې له مزاج سره یې جوړې نه دي مجبور وي، څکه خو د داسې واکمن حکومت ښه نه وي چې د دې کتاب په پای کې به رڼا پرې واچوو.

له دې څخه دا هم ثابتېږي چې فوق العاده ذکاوت او هوښیاري د سیاستوالو لپاره عیب دی څکه چې دا د فکري تېزوالي ښه ده، لکه غبي توب او ذهني کندي چې د غیر معمولي فکري جمود ښه ده او په انساني صفاتو کې دا دواړه بریدونه د ستاینې وړ نه دي بلکې په عیبونو او نیمگړتیاو کې شمېرل کېږي. د ستاینې وړ د اعتدال درجه ده لکه د اسراف او کنجوسۍ ترمنځ چې د سخاوت درجه ده. او د بې غیرتۍ او غیر معمولي مېړانې ترمنځ چې زړورتیا ده. په همدې ډول په ټولو انساني صفتونو کې دواړه څنډې د ستاینې وړ نه دي او منځنۍ درجه یې غوره ده. له همدې لامله غیر معمولي هوښیاري شیطانت بلل کېږي. یانې بشپړ شیطان، چالاك او مکار یې بولي. او خدای تعالی چې څه وغواړي پیدا کوي یې، هغه تر ټولو عالم او څواکمن دی.

# پنځه ویشتم فصل

## د امامت او خلافت حقیقت

دا چې د حکومت شتون د انساني ټولنې لپاره ضروري دی او همدغه د حکومت حقیقت دی، حکومت برلاسي او ځواك او غوسه باید ولري او غوسه او زورزیاتی د حیواني ځواك اغېزه ده، ځکه خو د پاچا په حکم کې د حقانیت او عدالت نښې نه ښکاري او د رعیت لپاره زیانمن وي، په ترلاس لاندې خلکو تیری کوي، ځکه چې ډېری وخت هغوی په داسې کارونو ګوماري چې د هغو د ترسره کولو توان او وړتیا نه لري.

داسې کارونه چې د شخصي غرضونو او نفساني غوښتنو نه سرچینه اخلي، او دغه زحمتونه د بېلابېلو پاچاهانو د موخو د بېلوالي په سبب توپیر پیدا کوي او یو شان نه وي، ځکه خو د دوی حکم منل د رعیت لپاره ستونزمن کېږي ځکه چې واکمن هغوی د خپلو موخو ترلاسه کولو لپاره ګوماري. په دغسې حالت کې یو ځواکمن قومي غورځنګ راپورته کېږي چې وژنې او ګډوډۍ ورسره عامې شي. ځکه خو د فتنو او ګډوډیو د آراموولو لپاره قوانینو ته اړتیا پېښېږي. چې جوړ شي او پر هغو عمل وکړای شي. هغه قوانین هم باید داسې وي چې عام خلك يې ومني او د پلي کېدو امکان یې وي او د هغو په مخکې عام خلك د اطاعت سر ټیټ کړي او په وړاندې يې د راپورته کېدو جرئت ونه کړي. لکه د پارسیانو او نورو قومونو پاچاهانو چې درلودل چې پر هغو عمل کېدو. که کوم حکومت له سیاسي قوانینو څخه محروم وي او یا قوانین ولري خو واکمن د هغو له پلي کولو ناتوانه وي نو د هغو وقار او عزت نه پاتې کېږي او د هغو واکمني او پاچاهي هم نه بشپړېږي بلکې نیمګړې پاتې کېږي په هغو قومونو کې چې پخوا تېر شوي دي دا د الله دستور دی، او تر قیامته به دوام لري.

### په سیاست او شریعت کې توپیر

که دغه قوانین د اهل حل او عقد شورا خاوندان، د هېواد مشران، علما او د عقل او پوهې خاوندان او سیاسي مشران جوړ کړي نو دې ته عقلي سیاست وایي او که دغه اصول او قوانین د وحی له لارې د الله تعالی له لوري غوره کړای شي نو دې ته بیا شریعت او یا دیني سیاست وایي، چې د دنیا او آخرت دواړو د ژوند لپاره په کار راځي.

### د انسان د پیدا کېدو اصلي موخه

د انسان د پیدا کولو موخه یوازې دنیاوي ژوند نه دی، ځکه چې دنیا خو سر تر پایه باطله او بې ګټې ده په دې دلیل چې پایله یې مرګ او له منځه تلل دي. الله تعالی فرمایي چې «آیا مو ږ؛ تاسو بې ګټې او عبث پیدا کړي یاست، او تاسو به بېرته زما لور ته نه راستنېږئ» ځکه خو د خلکو د پیدا کولو موخه د دیني نېکمرغی ترلاسه کول دي، چې له هغو څخه د آخرت د ژوند غوره توب او بریا ترلاسه کېږي. دا د الله لاره ده، چې د کائناتو پر هره ذره یې حکومت او واکمني ده.

Scanned with CamScanner

## دین د شریعت پر احکامو سربېره سیاست هم دربښیي

په همدې سبب شریعت رامنځته شو چې په ټولو اړخونو کې له عبادتونو نیولې تر معاملو او آن تر حکومتولۍ چې انساني ټولنې ته یوه طبیعي اړتیا ده دوی په ښه لاره ور برابر کړي، پیغمبرانو علیه السلامو په دین کې سیاسي قوانین هم مخې ته کړي دي تر څو د حاکم او شریعت پلي کوونکي پام د دین او دنیا د ټولو شیانو خوندیتابه ته وي او د الله تعالی ټول مخلوق د پیغمبرانو پیروان شي او دواړه دنیاوې یې آبادې او سوکاله شي.

له همدې ځایه کوم حکومت چې په ظلم او تیري او زورزیاتي ترلاسه شي او په هغو کې ملي ملاتړ ته پام نه وي شوی هغو ته شریعت د ظلم، تیري او زورزیاتي نوم ورکوي او د شریعت له مخې هغه د غندنې او کرکې وړ دی، لکه چې د سیاسي تدبر غوښتنه هم ده، ځکه چې شریعت د دې لپاره راغلی چې خلك له ظلم او تیري نه وژغوري او هغوی د عدالت او برابرۍ پر لاره بوځي، پاچا چې دغه چارې د دنیوي سیاست له غوښتنو سره سم پر مخ وړي، ځکه یوازې د دنیوي ژوند په ظاهري چارو پوهېږي. د شریعت له نظره هغه هم ښه نه دی ځکه چې هغه د الله تعالی له لوري د را استول شوې لارښوونې په رڼا کې چارې نه ترسره کوي، بیا نو چې له چا سره د الله هدایت نه وي هغه هېڅ لارښود نه لري. ځکه چې شارع د آخرت په مصلحتونو چې د عامو خلکو له نظره پټ دي تر ټولو ښه خبر دی او د انسانانو ټول کړه وړه له حکومتولۍ نیولې تر نورو اعمالو په آخرت کې بېرته ورته راګرځي، لکه چې پیغمبر علیه السلام فرمایلي دي چې دا ستاسو کړه وړه دي چې بیا درته راګرځي.

## د پیغمبرانو او خلفاؤ منصبي دندې

په داسې حال کې چې سیاسي احکام یوازې د دې دنیا د مصلحتونو د څارنې لپاره دي، خو د شریعت د خاوندانو موخه د خلکو د آخرت د ژوند سنبالول او اصلاح ده. ځکه خو د شرعي احکامو منلو او اطاعت ته د خلکو هڅول اړین دي، که د هغو تړاو له دنیاوي چارو سره وي او که د آخرت، دغه د خلکو بلنه او هڅونه د شریعت د خاوندانو دنده ده چې پیغمبران علیه السلام دي او یا هغه کسان چې د دوی وارثان او ځایناستي کېږي یانې خلیفه ګان.

زموږ له دې یادونې څخه د خلیفه مانا څرګنده شوه. دا هم څرګنده شوه چې طبیعي حکومت او واکمني خلك د هوسونو او نفساني غوښتنو په لور هڅوي او سیاسي حکومت خلك له عقلي نظره د دنیاوي ګټو ترلاسه کولو او د هغو له زیانونو نه د ځان ساتلو خوا ته هڅوي، خو خلافت بیا خلك د شریعت له مخې د دنیا او آخرت د دواړو د خلاصون او نېکمرغۍ لور ته ور بولي، ځکه چې دنیاوي چارې هم د آخرت لور ته ورګرځي، په دنیا کې چې څه ترسره کېږي هغه د شریعت له نظره د آخرت لپاره کېږي. ځکه خو خلافت په حقیقت کې د شریعت د خاوند نیابت دی، تر څو خلیفه د دین ساتنه وکړي او دنیاوي حکومت د شریعت سره سم جوړ کړي، ځکه خو تاسو د طبیعي حکومت، سیاسي حکومت او خلافت او یا امامت ماناوې په ذهن کې وساتئ چې په راتلونکیو بحثونو کې به مو په کار راشي. الله تعالی د لوی حکمت خاوند او د ډېر پراخ علم لرونکی دی.

Scanned with CamScanner

# شپږویشتم فصل

## خلافت او د خلافت په شرطونو کې اختلاف

### د خلافت او امامت مفهوم

موږ چې د خلافت حقیقت بیان کړ او دا هم چې خلافت د دین د ساتنې او د دنیا د حکومتولی او سیاست لپاره د شریعت د خاوندانو نیابت او استازولي ده، ځکه خو دې ځایناستي او نیابت ته خلافت او امامت وايي او څوك چې دغه مقام سنبالوي هغه ته خلیفه یا امام وايي.

### خلیفه ته د امام ویلو سبب

خلیفه ته امام د دې لپاره ویل کېږي چې د لمانځه د امام سره ورته بلل کېږي، لکه په مقتدي چې د امام متابعت واجب دی، همدغسې پر ټولو تابعیت لرونکیو د امام اطاعت لازم دی، ځکه خو خلافت ته لوی امامت هم ویل کېږي او خلیفه د دې لپاره ورته ویل کېږي چې په امت کې د پیغمبر د نیابت فریضه ادا کوي. خلیفه ته کله کله د رسول الله خلیفه هم ویل کېږي او کله به بیا یوازې خلیفه له څه اضافت پرته ورته ویل کېږي.

### آیا خلیفه ته خلیفة الله هم ویلای شو؟

په دې کې اختلاف دی ځینو علماؤ د دې اجازه هم ورکړې ځکه چې په قرآنکریم کې انسان ته عامه خلافت ثابت دی. الله تعالی فرمايي: (إِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الأَرَضِ خَلِيفَةً) یانې زه په ځمکه کې یو خلیفه پیدا کوم. بل ځای فرمايي: (جَعَلَكُمْ خَلاَئِفَ الأَرضِ) یانې الله تاسو په ځمکه کې خلیفه غوره کړي یاست. خو زیاتره علما له خلیفة الله څخه منع کوي، ځکه چې په آیتونو کې دغه اصطلاحي خلیفه موخه نه دی. یو ځل صدیق اکبر رضی الله عنه ته چا خلیفة الله وویل: نوموړي هغه منع کړ او وې فرمایل چې د الله خلیفه نه یم د رسول الله خلیفه یم، پر دې سربېره خلافت او نیابت د هغه چا کېږي چې غایب وي او شته نه وي الله تعالی خو شته دی، ځکه خو د خدای خلیفه ویل بې مانا او بې مناسبته دي.

### آیا د امام ټاکل ضروري دي

د امام ټاکل ضروري دي، وجوب یې په شریعت کې او د صحابه ؤ او تابعینو په اجماع ثابت دی، ځکه چې د رحمة للعلمین صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته درنو صحابه کرامو د هغه مبارك له خاورو ته سپارلو مخکې لومړی همدغه کار ترسره کړ، حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه یې خلیفه وټاکه او ټولې هېوادنۍ چارې یې هغه ته وسپارلې، بیا تر رسول الله وروسته هم په هره زمانه کې دغه کار شوی دی او خلك په یوه وخت کې هم خپلسري او له خلیفه پرته نه دي پرېښودل شوي، له همدې ځایه د خلیفه په ټاکلو کې د امت اجماع ده.

## د امام په ټاکنه کې عقلي دليل او د هغو غلطۍ ته اشاره

ځينو ښاغليو د امام د ټاکلو په باب عقلي دليل هم وړاندې کړی دی او وايي چې د امامت له اجماع نه په عقلي دليل کې زيات پخوالی راځي او دغه اجماع د عقلي حکم له مخې منځته راغلي ده. د عقل له مخې خلافت او امامت ځکه واجب دی چې انسان له ټولنې پرته چاره نه لري او دغه ټولنيز ژوند له خلافت پرته نشي کېدای، بلکل ګران دی او په ټولنه کې فساد رامنځته کېږي ځکه چې د خلکو موخې او غرضونه يو له بله ټکر کېږي، که د دوی په منځ کې حاکم نه وي نو يو بل به ووژني او د انساني نسل د ختمېدو سبب به شي، په داسې حال کې چې د شريعت يو مهم هدف د بشريت د نسل خونديتوب دی او دا ډېر اړين دی، له همدې لامله حکيمانو د انسان لپاره د پيغمبرانو او نبوت شتون واجب ګڼلی او د اړتيا لپاره يې همدا دليل راوړي.

موږ د دې دليل غلطۍ ته اشاره کړې ده او دا مو ياده کړې چې ځرنګه چې حاکم د الله تعالی په شريعت ولاړ وي ځکه خو ولس د ايماني عقيدې په ځېر د هغه اطاعت ته غاړه ږدي. خو دغه خبره حتمي نه ده ځکه چې کله کله کېدای شي حاکم په زور او جبر او برلاسی پر ولس غلبه وکړي او پاچاهي نيسي او هغه د شريعت پابند هم نه وي، لکه په مجوسيانو او نورو ټولنو کې اهل کتاب نه وو او يا هغوی چې د دين بلنه نه وه ورته رسېدلې، پر دې سربېره ويلای شو چې د جګړو د کولو او يا د هغو د پايته رسولو لپاره د هر چا لپاره د عقل له مخې د ظلم نارواتوب بس دی. ياني هر سړی د عقل له مخې ظلم حرام او ناروا ګڼي. ځکه خو دغه دعوه چې جګړې به پيل کې ختمېږي او د هغو د ختمولو لپاره د امام ټاکل اړين دي سمه خبره نه ده. بلکې په کوم ډول چې د امام له ټاکلو سره لانجې پايته رسېږي په همدغه ډول د زور له لارې ريسان هم هغه پايته رسوي او د ولس لخوا هم لانجې درول کېږي او پايته رسېږي. ځکه خو ويلای شو چې د حکيمانو په دغه عقلي دليل چې کوم استدلال شوی دی هغه ډېر ځواکمن نه دی، معلومه شوه چې د امام د وجوب د دليل سرچينه يوازې شريعت دی، عقل نه دی او هغه اجماع ده چې پاس مو بيان کړه.

### د امام د ټاکلو اړتيا د نشتوالي دلايل لږ دي

ځينو کسانو ويلي چې د امام ټاکل د کوم دليل له مخې لازم نه دي، نه د عقل له مخې او نه د شريعت له مخې، دغه قول ډېر کمزوری او د اعتبار وړ نه دی، دا د معتزله ؤ د اصم او د خوارجو نظر دی، د دې کسانو په اند يوازې دا واجب دي چې په خلکو کې شريعت پلی شي، د دې لپاره چې د امت په عدالت او برابری او د شرعي احکامو بر پلي کولو اتفاق او يووالي راشي نو د امام ټاکلو ته هېڅ اړتيا نشته او ټاکل يې واجب نه دي، خو دغه ښاغلي د ټولنې په مانا نه پوهېږي.

## د دې قول انګېزه او مفهوم

د دې قول سبب او انګېزه د حکومت او د هغو له تورو کارنامو (لاس اچول، زورزياتي او د دنيا په عيش او مستۍ کې ډوبېدل) نه تېښته ده، ځکه په شريعت کې د هغو ټولو يادو کړو د ناوړه توب په باب بشپړ دلايل دي،

او داسې خلکو (واکمنو) ته د عذاب زيرى او خلکو ته د هغو په نه کولو حکم دى. ځکه خو هغوى د امام ټاکل ضروري نه دي ګڼلي، که په ژور نظر ورته وګورو نو دغه حقيقت به راته ځرګند شي چې شريعت د حکومت د دغه ذات په سبب بد نه دي ويلي او نه يې مسلمانان د حکومتونو له جوړولو نه منع کړي دي، بلکې پر دغو ناوړه کارونو (غوسه، تاوتريخوالى، ظلم او عيش او نوش) يې بد ويلي دي.

چې د دې سرچينه دا ده چې د حکومت په سبب دغه خرابى پيدا کيږي. بېشکه چې په ظلم او تيري کې او د دنيا په حرامو خوندونو کې ډېرې لويې خرابۍ پټې دي چې دا حرامې دي خو دغه خرابى د حکومت له عوارضو او ستونزو څخه دي. لکه الله تعالى چې د عدل او برابرۍ پر ټينګولو او د دين په ملاتړ د حکومت ستاينه کړې او په بدل کې يې د ثواب او اجر ژمنه کړې دا ټولې خبرې د حکومت له عوارضو څخه دي ذاتي نه دي. دلته دغه حقيقت مخې ته راځي چې حکومت له يوه اړخه ښه هم دى که واکمن بدې چارې پرېږدي او د عدل او برابرۍ لاره غوره کړي نو داسې حکومت سل ځله د ستاينې وړ دى، حکومت ذاتاً بد نه دى او نه په شريعت کې د هغو پر پېښودو حکم شوى، لکه په مکلفو خلکو کې چې د شيطاني نفسونو او غوسې بدې ښودل شوې مانا يې دا نه ده چې دغه دواړه غريزې دې بلکل پرېښودل شي ځکه چې کله کله دې دواړو ته اړتيا هم پېښيږي. بلکې موخه دا ده چې په عدالت او برابرۍ په دغو دواړو غريزو کې تصرف وشي.

حضرت داوود عليه السلام او حضرت سليمان عليه السلام بېساري حکومتونه درلودل چې تراوسه بل چا ته په برخه نه شول، په داسې حال کې چې دا دواړه د الله تعالى پيغمبران او نبيان وو او الله تعالى ته دواړه د عزت او درناوي خاوندان وو.

په دې سربېره دلته پوښتنه کوو چې ايا د امام ټاکل چې واجب نه بولئ او له حکومته تښتئ دا ستاسو په خير ده؟ نه، هېڅکله نه! ځکه چې د شرعي احکامو پر وجوب چې تاسو هم قايل ياست د دغه شرعي احکامو پلي کول له قومي ځواك او ملاتړ پرته ناشوني دي او دغه قومي ملاتړ د حکومت غوښتنه کوي ځکه خو د پاچا او حاکم شتون ضروري دى، که امام ونه ټاکل شي دا هغه کنده ده چې تاسو ترې تښتئ.

## د امام غوره کول فرض کفايي دي، فرض عين نه دي

اوس نو چې دغه خبره ثابته شوه چې د امام غوره کول ضروري دي او پر دې اجماع ده نو پر دې هم وپوهېږئ چې دغه فرض فرض کفايي دى، فرض عين نه دى، پر اهل حل او عقد دا فرض ده او دا د دوى مسووليت دى او پر ټولو خلکو بيا د امام اطاعت واجب دى. ځکه چې د الله تعالى فرمان دى: د الله تعالى اطاعت وکړئ، د الله د رسول اطاعت وکړئ او له تاسو څخه د (امير) اطاعت وکړئ.

## په يوه وخت کې دوه امامان او يا خليفه ګان ټاکل روا نه دي

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مبارك حديث ارشاد دى چې په مسلم کتاب الاماره کې راغلي دى پردې دلالت کوي چې په يوه وخت کې د دوو امامانو يا خليفه ګانو غوره کول روا نه دي، ځکه چې د فتنو سبب کيږي.

Scanned with CamScanner

ځینې علماؤ ویلي چې د دوو خلیفه ګانو د نه جواز نه مطلب دا دی چې په یوه هېواد او یا څو ګاونډیو هېوادونو خلافت کوي، خو کله چې اسلامي هېوادونه یو له بله لرې وي او امام او خلیفه ونه توانېږي چې په لرې هېوادونو کې چارو ته ځان ورسوي نو بیا روا ده چې بل امام او خلیفه په هغه لرې هېوادونو کې وټاکل شي چې عام مصلحتونه په پام کې ونیسي، له نومیالیو علماؤ څخه چې د دغه نظر پلویان دي یو استاذ ابواسحاق اسفرایني دی چې د کلام علم له مشرانو څخه دی او د حرمینو امام په خپل کتاب الارشاد کې د دې نظر پلوی شوی دی.
د اندلس او المغرب د علماؤ په نظریو او عقایدو کې هم دې نظر ته لېوالتیا له ورایه ښکاري، دا چې د اندلس علما لویه ډله وه او د اندلس له امویانو سره یې بیعت کړی ؤ او الناصر عبدالرحمن او د هغه زامن یې چې د دې لړی له خلیفه ګانو څخه وو د امیرالمؤمنین په لقب چې د خلافت ځانګړې نښه ده یاد کړل. وروسته به د یادې نښې په باب رڼا واچوو.
همدارنګه موحدین په امویانو پسې په مغرب کې خلافت ته ورسېدل، ځینو دغه نظر په اجماع سره رد کړی دی خو د هغوی دلیل روښانه نه دی، که په دې برخه کې اجماع شته وی استاذ ابواسحق او د حرمینو امام به چې د اجماع په پېژندلو کې تر ټولو پوه او خبر دي مخالفت نه کاوه.
په دې برخه کې ویلای شو چې مازري او نودي د حدیث د ظاهري مانا له مخې د حرمینو د امام نظر رد کړی دی او له وروستیو علماؤ څخه زیات شمېر د قرآنکریم دغه ایت (که په هغو کې د یوه خدای پر ځای دوه خدایان وای نو تباه شوې به وه) د دوو خلفاؤ په منع دلیل راوړی دی، خو په دې برخه کې نشو کولای چې پر مبارك آیت دلیل راوړو. ځکه چې د هغو دلالت عقلي دی او په دې خاطر یې زموږ پام ور اړولی چې د توحید مسئله موږ ته روښانه کړي چې موږ ته یې پر هغو د ایمان درلودو حکم کړی دی او موږ یې په عقلي دلایلو درك کړو چې مفهوم یې زموږ په ذهن کې کلك پاتې شي.
خو د امامت په باب زموږ موخه دا ده چې پر دې وپوهېږو چې د دوو امامانو ګومارل منعه شوي دي که نه؟ دا دیني او شرعي حکم دی په دې برخه کې دلیل او استدلال تر هغو نه بشپړېږي تر څو په شرعي لحاظ ثابت نشي چې منع دی او د هغو د اثبات لپاره بله مقدمه راوړل شي. داسې چې ووایو: د امامانو زیاتوالی د فساد سبب کېږي او له هغه څه چې پایله یې فساد وي منعه یوو. په دې صورت کې استدلال شرعي بڼه خپلوي او الله تعالی پر هر څه باخبره او پوه دی.

## د امامت شرطونه

د امامت شرطونه څلور دي (۱) علم (۲) عدالت (۳) کفایت او وړتیا (۴) د بدن او حواسو روغتیا چې په نظر او عمل کې اغېز کوي. په پنځم شرط (قریشي نسبه) کې اختلاف دی. د علم شرط خو ښکاره دی ځکه چې امام د الله تعالی احکام هغه وخت پلي کولای شي چې پر هغه عالم او پوه هم وي، ځکه په امامت کې پر عالم جاهل او ناپوه غوره بلل او د هغه امام کول ناوړه کار دی، امام په علم کې هم د اجتهاد درجې ته باید رسېدلی وي د بل چا مقلد نه وي ځکه چې پیروي او تقلید کمزوري او عیب دی او امامت په ځانګړتیاؤ او صفتونو کې

د کمال درجه غواړي. د عدالت شرط د دې لپاره دی چې امامت یوه دیني دنده ده او امام د هغو ټولو دندو او مقامونو ساتونکی وي چې عدالت په هغو کې شرط وي ځکه خو په امام کې لومړی درجه عدالت باید وي. په دې کې هم اختلاف نشته چې که د چا په غړیو کې د فسق او ګناه په سبب او د حرامو کارونو د ترسره کولو په سبب (د حد د پلي کېدو په سبب) په غړیو کې توپیر راشي نو د هغه عدالت هم له منځه ځي.

## ایا بدعتي امام کېدای شي؟

که د چا په عقیده کې بدعت وموندل شي نو آیا د هغه عدالت به هم له منځه لاړ شي؟ په دې کې د علماؤ اختلاف دی. کفایت او وړتیا د دې لپاره شرط دی چې له وړتیا پرته د امام کېدل او نه کېدل یو شان دي.

### د کفایت مانا

د وړتیا او کفایت مانا دا ده چې امام د حدودو د پلي کولو جرئت او وړتیا ولري. په جګړه کې بېغیرته نه وي او بېساري زړورتیا ولري، د جګړې په ټولو هسکو ټیټو او ستونزو خبر وي، خپل مسوولیتونه او دندې ورته معلومې وي او خلك جګړې ته وهڅول شي او خلکو ته د جهاد جذبه ورکړای شي او جګړو ته یې پخپله خوښه او مینه راوستلای شي.

له قومي او سیاسي چارو ښه خبر وي او په سیاسي چارو کې د سختیو او مصیبتونو ګاللو ته پیاوړی وي تر څو د خپلو مسوولیتونو په ښه ترسره کولو کې بریالی وي. د دین بشپړه ساتنه وکړای شي او له دښمن سره په جهاد کې د لوړ عزم او ارادې خاوند وي. شرعي احکام نافذ کړي او عامه خدمتونه ترسره کړای شي.

د غړیو او بدن د سلامتۍ شرط د دې لپاره دی (یانې دا چې په بدن او غړیو کې یې نیمګړتیا نه وي او داسې هم نه چې له خایه یې غړي بشپړ نه وي، لکه لېونتوب، ړندوالی، کونوالی، ګونګ او د هغو غړیو نه درلودل چې په نشتوالي کې یې په کار کې خرابي راځي لکه د دواړو لاسونو، دواړو پښو او یا دواړو خصیو نه درلودل. غرض دا چې دا ټول شیان باید روغ وي او سلامتي یې شرط ده. ځکه چې له دې سره هغه کارونه ترسره کېدای شي چې د امام په دندو کې شامل دي او د ده له مسوولیتونو څخه شمېرل کېږي. که د امام په ښه او څېره کې کومه نیمګړتیا را پیدا شي لکه یو لاس یا یوه پښه یې چې غوڅه شي، نو دا کومه نیمګړتیا نه ده که څه هم په ښه به بد ښکاره شي خو په چارو کې یې زیان نه راځي.

### پر تصرف پابندي د غړیو د نشتوالي په مانا دی

د غړیو څخه په محرومۍ کې د امام تصرف هم شامل دی، داسې چې که کوم امام په هېواد کې له تصرف څخه را ایسار کړای شي نو هغه هم له غړیو څخه د بې برخې کېدو په ډله کې راځي.

Scanned with CamScanner

## په تصرف کې پابندي په دوه ډوله ده

پر تصرف پابندي دوه ډوله ده، له یو ډول پابندۍ او بندیز نه د امام خوندیتوب لازمي دی، او دا واجب شرط دی، یانې چې هغه ونیول شي، زندان ته واچول شي او پر دې مجبور کړای ش چې د هېوادنیو چارو او تصرفاتو نه ناتوانه شي. دوهم ډول دا ده چې د ده تر حکم لاندې کسان د اختلاف او سرغړاوي نه پرته پر ده غالب او برلاسي شي او له ده نه یې واکونه او صلاحیتونه واخلي او خلیفه بېچاره له واکه محروم کړای شي. په دې حالت کې پر نوموړي د مسلط شوي کس حالت ته کتل کېږي. که هغه په شرع برابر عمل کوي او د عدالت پر بنسټ کړنې ترسره کوي او نظام د ستاینې وړ ډول چلوي او حکومت کوي نو د هغه برحال پاتې کېدل روا دي او که نه وي بیا د برحق خلیفه ملاتړ پر مسلمانانو فرض دی چې د هغه حکومت او امامت له غاصب نه ترې واخلي تر څو د امام ناروغي ختمه او له دې جنجاله راووزي او په هېواد کې په چارو کې د تصرف وړ شي.

### د امام لپاره د قریشي نسب د شرط استدلال او د هغو ځواب

د قریشي نسبه شرط د دې لپاره دی چې د بني ساعده د سقیفې په ورځ د صحابه ؤ غونډه جوړه شوه او په دې ورځ د سعد بن عباده انصاري رضي الله عنه سره بیعت کېدونکی ؤ او داسې ارادې ښودل کېدې چې دوه خلیفه ګان وټاکل شي، یو د انصارو څخه او دوهم د قریشو څخه، نو قریشو د امامت د حق لپاره د رسول الله پر درانه فرمان استدلال وکړ چې (الائمه من قریش) امام به د قریشو څخه وي، او دا یې هم ویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته وصیت کړی دی چې موږ به ستاسو له مخلصانو سره ښه چلن کوو او بد کرداره ته به مو ښنه کوو، که امارت او امامت په تاسو کې وای بیا به یې موږ ته د تاسو (انصارو) په اړه وصیت نه کاوه. انصارو دغه دلیل ومانه او د امامت له دعوې نه تېر شول او د حضرت سعد رضی الله عنه له بیعته شا ته شول. له دې پرته په یوه صحیح حدیث کې راغلي (لایزال هذا الامر فی هذا الحی من قریش) دغه خلافت به د قریشو په قبیله کې تل پاتې شي. په دې ډول په دې مسله کې ډېر حدیثونه شته، خو کله چې قریش ناتوانه شول او په دوی کې قومي ځواک پاتې نه شو څکه چې د حکومت په ناز او نعمتونو کې ډوب شول او اسلامي حکومت د نړۍ ګوټ ګوټ ته خپور شو لکه څنګه چې د حکومت غوښتنه وه نو دوی د خلافت بوج اوچت نکړای شو او ترې ناتوانه شول. بیا نو پر دوی عجمیان برلاسي شول او حل او عقد شورا د دوی لاسونو ته ور ولوېده، په دې سبب د څېړنو خاوندان په شك کې ولوېدل او آن د امام د قریشي توب له شرط یې انکار وکړ. هغوی په دې برخه کې د دلایلو پر برسېرنه مانا تکیه وکړه لکه چې رسول الله فرمایلي دي«واورئ او اطاعت وکړی که څه هم پر تاسو داسې حبشي غلام حاکم وټاکل شي چې سره یې د انګور په اندازه وي.» په داسې حال کې چې دغه حدیث دلته دلیل نشو راوړای او دغه حدیث د تمثیل په منزله چې موخه ترې د اولامر اطاعت او د هغو د فرمان اورېدل دي، او دا د حضرت عمر رضی الله عنه د دې قول په څېر دی چې: که د حذیفه آزاد کړای شوی غلام سالم ژوندی وای نو هغه به مې والي ټاکلی ؤ او یا دا چې د هغه په باب به مې بدګومان نه ؤ کړی.

خو دغه خبره هم ګټوره نه ده، ځکه چې تاسو پوهېږئ چې د ایت په مقابل کې د صحابي وینا دلیل نشي کېدای. پر دې سربېره د قوم مولا (آزاد کړای شوی غلام) له قوم څخه وي. سالم د قوم آزاد کړای شوی غلام ؤ د قریشو په کورنۍ کې هغه د ژمنې (ولاء) له مخې منل شوی ؤ او حضرت عمر فاروق سوچه نسب په خلافت کې مهم ونه باله. ځکه خو له نسبه قومي تړاو ته ګټه ده چې سالم ته رسېدله. ښکاره ده چې د حضرت عمر فاروق نظر د مسلمانانو د خیر ښېګڼې په لورې ؤ او پر دې هم ؤ چې د خلافت بوج د داسې چا پر اوږو ور واچوئ چې د خلافت په چارو کې له ملامتۍ نه وېره ونه لري او د هغه لمن هم له ملامتۍ او عیبونو پاکه وي. قاضي ابوبکر باقلاني هم دا نه مني چې امام دې قریشي وي، ځکه چې د هغه په زمانه کې د قریشي قومي ملاتړ او څواک ختم شوی ؤ او کمزوري او زوال پرې راغلی ؤ. پر خلیفه ګانو د عجمو پاچاهان برلاسي شوي وو، ځکه خو قاضي صاحب د قریشي توب شرط له منځه یووړ. که څه هم دا د خوارجو مذهب ؤ خو هغه د دې پروا هم ونه کړه ځکه چې د ده د هممهاله خلیفه ګانو ټول حالت ته یې پام ؤ، خو جمهور علما پر دې ولاړ وو چې امامت د قریشي حق دی که څه هم پر هغوی د مسلمانانو وضعه راسنبال نکړای شي. خو نوموړي قاضي په دې دلیل د جمهورو علماؤ نظر رد کړ چې که قریشي توب شرط ومنل شي، بیا خو د کفایت او وړتیا شرط له منځه ځي چې خلیفه باید په څواکمنی چارو ته اقدام وکړي. ځکه چې که د قومي ملاتړ د شړېدو له لامله د خلیفه څواک کمزوری شي معلومه ده چې وړتیا او کفایت ته یې زیان رسېږي. که وړتیا او کفایت له منځه لاړ شي نو د علم او دین شرایطو ته هم زیان رسېږي او د دې مقام شرایط به بې ارزښته او بې اعتباره شي چې دا د اجماع خلاف ده.

## د نسب د شرط حکمت څه دی؟

راځئ چې د نسب د شرط پر حکمت ځانونه وپوهوو، ترڅو له دې قولونو څخه ربښتیني قول هم معلوم کړو، په یاد ولرئ چې د ټولو شرعي احکامو پر موخو سربېره مصالح هم په پام نیول شوي دي او شارع هغه په پام کې نیولي دي. که مونږ د قریشي د شرط په باب د شارع مصلحت او موخې وارزوو وبه ګورو چې د شارع موخه یوازې د پیغمبر د کورنۍ تبرک نه دی لکه چې مشهوره شوې ده، که هر څومره دغه ویاړ او تړاو له هغو سره شته خو دغه ویاړ له شرعي موخو څخه نه دی لکه چې پرې وپوهېدو. نو بیا خو بل مصلحت وګورو چې په دې کې د شارع علیه السلام په پام کې ؤ. که پر دغه موضوع فکر وکړو، وې ارزوو او وبې څېړو له قومي ملاتړ پرته به بل لامل ونه مومو ځکه چې د هغو په سبب د خوندیتوب او پراختیا او ملاتړ امکان ترلاسه کېدای شي او د دغه منصب د خاوند په باب په خلکو کې د اختلاف مخه نیول کېږي. ملت او ولس له امام څخه راضي کېږي او د هغه له لوري بشپړ ډاډ ترلاسه کوي. ځکه چې «قریش» د مضر قبیلې مهمه ډله او اصلي ریښه بلل کېدله او ټول برلاسي فاتحان له همدوی څخه وو او د شمېر د زیاتوالي او قومي ملاتړ او شرف له اړخه د قبیلې تر ټولو ډلو دوی ډېر دروندوالي او عزت درلود چې ټولوعربو د دوی په دې مقام اعتراف کاوه او د دوی د برلاسی او دبدبې په مخکې مات وو، که د خلافت مقام له دوی پرته بلې قبیلې ته ورکړای شوی وای نو دا د حیرانۍ ځای

Scanned with CamScanner

نه دی چې تر منځ به یې اختلاف راتلو او عربو به له قریشو پرته د بلې قبیلې مخالفت کاوه او سرونه به یې په اطاعت ورته نه وو ټیټ کړي. د مضر نورو قبیلو عربان له داسې مخالفته نه شوای راګرځولای او نه چا عرب د جهاد لپاره راپورته کولای شوای، ځکه خو په ټولنه کې درز لوېدو او هېواد به له ګډوډیو سره مخ شوی ؤ. شارع علیه السلام له اختلاف او بېلوالي څخه خپل امت وېراوه او په قوم کې یې د یووالي او وروروليٰ جذبه او احساس راپاراوه. غوښتل یې چې خپلمنځي اختلافونه او لانجې یې ختمې شي. تر څو د یووالي ریښې پیاوړې او قومي وحدت یې ټینګ وي او د حقونو د غوښتنې او یو د بل د ملاتړ جذبه یې په ښه ډول فعاله وي، ځکه خو چې قریش په قول او عمل کې متحد او د خلافت خاوندان شول، نو ټوله مضر قبیله متحده او په یوه کتار کې ولاړه وه، چې بیا په ټولو عربو کې دا د وحدت او یووالي لامل شو، هېچا هم د اختلاف او لانجې توان او جرئت ونه درلود. نورو ولسونو هم له دې احکامو او مذهب نه پیروي کوله او اسلام یې راوړ د دوی پوځونه چې په هر لوري تلل د نړۍ تر هر ګوټ پورې بریالي ورسېدل، لکه چې د فتحو په دوران کې ډېر هېوادونه دوی ونیول، چې وروسته د امویانو او عباسیانو د واکمنیو پر مهال هم دې بریاؤ دوام وکړ، تر دې چې د خلافت مانۍ رانسکوره شوه او د عربو قومي ځواك وشړېد او له منځه لاړ.

کوم کسان چې د عربو تاریخ او د هغوی سیرتونه مطالعه کوي هغوی پر دې ښه پوهېږي چې قریش اکثریت وو او پر مضر قبیله د دوی برلاسي وه، ابن اسحق په خپل کتاب ابن السیر کې پر دې رڼا اچولې ده، نورو مؤرخینو هم پرې لیکنې کړې دي.

## د قریشي توب له شرطه یې د وړتیا د شرط حکم کړی

کله چې دغه خبره وڅېړل شوه چې د امام د قریشي توب شرط د شخړو د پایته رسولو لپاره دی ځکه چې هغه د عصبیه ځواك او د حکومتي غلبې خاوندان دي او موږ ته دا هم معلومه ده چې شرعي احکام د قوم ځانګړي قوم او یا کورنۍ د پاره نه وي، نو د دغو دوو ټکیو له یو ځای کولو څخه د وړتیا شرط هم ثابتېږي، مانا دا چې د قریشي توب شرط اصلاً د اهلیت او وړتیا شرط دی ځکه چې په دواړو کې بشپړ قومي ملاتړ او ځواك دی. د همدې لپاره دا شرط ږدو چې امام یا خلیفه له داسې قوم نه باید وټاکل شي چې د ځواکمن قومي ملاتړ څخه برخمن وي په داسې ښه چې د دوی قومي عصبیت د خپل وخت پر نورو قومي عصبیتونو برلاسي ومومي، تر څو نور دې ته اړ کړي چې د دوی اطاعت وکړي او ټول په ښه ډول سره یو او متحد شي. هغه مهال بل هیڅ قوم د قریشو د قوم په کچه قومي ځواك او ملاتړ نه درلود او نه یې تر اوسه لرلی دی، ځکه چې د اسلامي بلنې چینه په دوی کې راوخوټېده او بیا د نړۍ هر ګوټ ته ورسېده، د عربو ټول قومي ځواکونه د قریشو په عصبیت کې سره راټول شول، ځکه خو عرب پر ټولو قومونو برلاسي او غالب شول، خو اوس قریش له قومي ځواکه بې برخې دي، ځکه خو اوس مهال په هر هېواد کې د خلافت او امامت مقام داسې چا ته سپارل کېږي چې په خپل هېواد کې پر نورو برلاسی او ځواکمن وي او نور قومونه تر خپل اطاعت لاندې راولي، که د خلافت په باب د خدای تعالی د حکمت پر راز پوه شو تر دې زیات څه پکې نشو موندلای ځکه چې الله تعالی خلیفه

خپل ځايناستی بولي چې د بندګانو چارې يې سنبال کړي او د هغوی ستونزې ور حل او په ښه لوري رهبري کړي. داسې تدبيرونه غوره کړي چې د الله بندګان د سوکاله ژوند خاوندان شي. او معلومه ده چې خدای تعالی دې کار ته داسې څوك مخاطب کوي چې قومي ملاتړ او ځواك ولري او هېڅکله داسې څوك نه مخاطب کوي چې کمزوری او ناتوانه وي تاسو وګورئ امام فخرالدين رازي (ابن خطيب) د ښځو په باب ويلي دي چې هغوی يې په ډېرو شرعي احکامو کې د نارينه ؤ تابع ګرځولي دي، ښځې په خاص ډول په کوم امر کې نه دي مخاطب شوې بلکې دوی يې دنارينه ؤ په قياس کې راوړې دي ځکه چې د نارينه تابع دي او نارينه د دوی ټول کارونه ترسره کوي او د دوی لپاره هر څه برابر وي، يوازې په عباداتو کې دوی نېغ په نېغه مخاطبې دي ځکه چې هر څوك عبادت پخپله کوي، له همدې لامله په عباداتو کې دوی ته خطاب شوی دی او بالواسطه مخاطبې نه دي، پر دې تاريخي پېښې هم ګواه دي چې امام بايد د قومي ملاتړ خاوند وي، ځکه چې د يوه قوم اداره او واك د هغو کسانو پر اوږو وي چې پر نورو برلاسي او مسلط وي او شرعي حکم د واقعيت خلاف نشي کېدای الله تعالی پر هر څه عالم دی.

# اووه ویشتم فصل

## د امامت په باب د شیعه مذاهبو نظریات

### د شیعه لفظ لغوي او اصطلاحي څېړنه

شیعه د لغت په اعتبار ملگریو او پیروانو ته ویل کېږي، خو د لومړنیو او وروستیو فقهي علماؤ او پوهانو له نظره په اصطلاح کې د شیعه لفظ اطلاق د حضرت علي کرم الله وجهه او د هغه اولادې پر پیروانو کېږي.

### د شیعه گانو په اند امامت د دین له ارکانو څخه دی

د امامت په باب د اهل تشیع مذهب چې ټول پرې متفق دي دا دی چې امامت په هغو عامو مصلحتونو کې شامل نه دی چې انتخاب یې امت ته پرېښودل شي او د دې مقام غوره کول د عامو خلکو په رایه نه دی، بلکې دغه مقام د دین رکن او د اسلام یوه ستنه ده او پیغمبر ته روانه ده چې په دې کې غفلت وکړي او نه دا چې امت ته یې پرېږدي، بلکې پر پیغمبر واجب ده چې امام خپل امت ته وټاکي داسې امام چې له کبیره او صغیره گناهونو نه معصوم او پاك وي.

### د شیعه په اند امام معصوم او امام علي رضی الله عنه دی

حضرت علي رضی الله عنه هماغه څوك دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم پر دې مقام گومارلی او په دې اړه دوی روایتونه نقل کوي او هغو ته بیا د خپل مذهب له غوښتنې سره سم تعبیر او تأویل ورکوي.

### د حضرت علي په امامت په موضوعي او کمزوریو احادیثو استدلال

د علي رضی الله عنه د امامت په باب دوی ځیني احادیث رانقلوي چې روایت کوونکي یې شیعه گان دي دوی د خپل مذهب له مخې د هغو مانا او تعبیر راباسي. له دغه روایتونو د احادیثو نقد کوونکي عالمان او د شریعت روایت کوونکي حافظان خبر نه دي، بلکې د هغو زیاتره دروغ او له ځانه جوړ شوي دي، یا یې سندونه سم نه دي او جرح شوي دي او یا له هغو غلطو تأویلونو او ماناو نه ډېر لرې دي. د شیعه د پیروانو په اند دغه روایتونه دوه ډوله دي: (۱) جلي، (۲) خفي. جلي یا څرگند لکه (من کنت مولاه فعلی مولاه علی رضی الله عنه) یانې زه چې د چا آغا او پیشوا یم نو علي یې هم بادار او پیشوا دی. (دوی وایي) چې دغه ولایت یې له حضرت علي رضی الله عنه پرته بل چا ته عام نه دی کړی، څکه خو حضرت عمر رضی الله عنه حضرت علي ته فرمایلي وو: (اصبحت مولیٰ کل مؤمن و مؤمنة) یانې ته د هر مسلمان او مسلمانې ښځې مولا شوې یا د حضرت رسول الله دغه قول چې (اقضا کم علی) یانې علي په قضاوت کې پر تاسو ټولو برتر دی او د امامت مانا هم همدغه ده چې د الله تعالی له حکم پرته پر بل څه حکم ونشي. دوی (شیعه علما) وایي چې په (اَطِیعو الله وَ اطِعو الرسول وَ اولی لامر منکم) مبارك ایت کې له اولی الامر څخه مراد علي کرم الله وجهه دی او د اولی الامر

Scanned with CamScanner

اطاعت لازم دی او په دې ایت کې په حکم او پریکړه کې حق پیروي مراد ده، څکه خو د بني ساعده په سقیفه کې د امامت په مسئله کې حکمیت او قضاوت حضرت علي رضی الله عنه ته وسپارل شو، نور چا ته نه.

د جلي دلایلو څخه بل دا دی چې رسول الله فرمایلي دي (من یبا یعنی علی روحه وهو وصی و ولی هذا الامر من بعدی فلم یبا یعتم الاعلی) یانې څوك چې له ما سره د سر قربانولو بیعت وکړي هماغه تر ما وروسته د خلافت حقدار دی او هماغه د خلافت وصي دی (یانې ما د هغه د خلافت وصیت کړی دی) دا چې له علی رضی الله عنه پرته بل چا له رسول الله سره بیعت نه ؤ کړی. له شیعه بناغلیو سره خفي روایت دا دی چې کله برائت سوره نازله شوه نو د حج په ورځو کې حضرت رسول الله علي رضی الله عنه وگوماره چې دغه سوره خلکو ته واوروي. رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړی ابوبکر صدیق رضی الله عنه واستاوه، بیا وحی پرې راغله چې دغه تبلیغ به داسې څوك کوي چې هغه ستا نژدې عزیز او خپلوان وي، څکه یې بیا حضرت علي رضی الله عنه واستاوه چې هغه سوره خلکو ته واوروي او د هغو تبلیغ وکړي، دوی وایي چې له دې نه د حضرت علي لومړیتوب ثابتیږي.

### په حضرت علي رضی الله عنه کوم صحابي لومړی شوی نه دی

شیعه گان وایي چې رسول الله پر حضرت علي بل صحابي ته لومړیتوب نه دی ورکړی په داسې حال کې چې په دوو غزاگانو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم پر ابوبکر رضی الله عنه او عمر فاروق رضی الله عنه دوه تنه اوچت کړي دي چې یو ځل اسامه بن زید رضی الله عنه او بل ځل عمر بن عاص رضی الله عنه دي او دا تو د خلافت لپاره د علي کرم الله وجه د تاکلو عیني دلایل دي. خو له دې دلایلو څخه څینې ډېر مشهور نه دي او څینې له تاویل څخه ډېر لرې دي.

### د یادو روایتونو له مخې د علي د اولادې پر امامت استدلال

څینې شیعه ډلې فکر کوي چې دغه روایتونه چې په کوم ډول د خلافت لپاره د حضرت علي پر غوره کولو دلالت کوي، همدغسې تر دوی وروسته د دوی د اولادې پر تاکلو هم دلالت کوي.

## امامیه او زیدیه فرقه

امامیه فرقه له حضرت ابوبکر صدیق او عمر فاروق رض الله عنهم دواړو څخه کرکه کوي څکه چې د دوی په اند هغوی حضرت علي رضی الله عنه د خلافت لپاره وړاندې نه کړ او د هغو روایتونو له مخې یې ورسره بیعت ونه کړ، دوی د هغو دواړو خلافت هم نه مني، خو د دغه سخت دریځو شیعه گانو (غالیانو) چې د دغو دوو درنو صحابه ؤ په شان کې بې ادبي او گستاخي کوي او د هغوی په شخصیتونو کې عیب لټوي، نه یوازې زموږ په اند بلکې د امامیه ؤ په اند هم غلط دی. څینې شیعه مذهبي په دې نظر دي چې پاس یاد شوي روایتونه د حضرت علي غوره کول د صفت له لحاظه کوي له شخصي لحاظه نه، یانې دغه صفتونه او ځانگړتیاوې د

Scanned with CamScanner

حضرت علي په وجود کې موندل کيږي، صحابه ؤ په دې سبب چې صفت يې پر موصوف نه دی اينبی نو قصور يې کړی دی، دغه فرقه زيديه نوميږي، هغوی له شېخينو (حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه) کرکه نه کوي او امامت او خلافت يې سپك نه بولي، خو دا وايي چې حضرت علي رضی الله عنه تر هغوی غوره ؤ.

## دغه قول هم د جمهورو علماؤ خلاف دی

د زيديه ؤ په اند د افضل په شتون کې د مفضول امامت روا نه دی، د دغه شيعه مذهبو له حضرت علي رضی الله عنه وروسته د امامت په باب نظرونه بېلابېل دي، د ځينو په اند د دليل له مخې خلافت بايد د بي بي فاطمې رضی الله عنه په اولاده کې له يوه نه بل ته ولېږدول شي، دې فرقې ته هم اماميه وايي، ځکه چې د دوی له نظره د امام غوره کول او د هغو پېژندل د ايمان رکن دی، د ځينو په اند امامت بايد د فاطمې رضی الله عنه په اولاده کې وي خو امام به د فاطمې رضی الله عنه د اولادې مشران ټاکي او دغه واك له هغوی سره دی. د دوی له نظره د فاطمې په اولاده کې د امام شرط دا دی چې هغه عالم، پرهېزگار، زړور او سخي وي او د امامت دعوه دار هم وي او په خلکو کې د امامت تحريك هم وچلوي، دغه فرقه هم زيديه ده. زيديه د مذهب لرونکيو لوري ته منسوبه ده. يانې زيد بني علي رضی الله عنه بن حسين رضی الله عنه (د رسول الله شهيد لمسي) ته منسوبه ده.

## د امامت د اعلان د شرط په باب د زيد او محمد مناظره

دا هغه زيد دی چې له خپل ورور محمد باقر سره يې پر دې چې د امام لپاره د امامت اعلان لازم دی په جوماتونو کې بحثونه کول. امام باقر پر ده ملامتي اچوله چې د همدې شرط په سبب زموږ بابا زين العابدين امام نه ثابتيږي ځکه چې هغه هېڅکله د امامت دعوه نه ده کړې او نه يې کله د امامت خيال په ذهن کې راغلی دی او امام محمد د معتزله ؤ د مذهب ترديد کاوه او خپل ورور زيد ته به يې ويل چې دغه نظر دې له معتزله ؤ نه اخيستی يانې له واصل بن عطا نه چې د معتزله ؤ سرلاري دی.

### رافضيان او د هغو د نومونې سبب

کله چې اماميه ښاغليو له زيد سره د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه او عمر فاروق رضی الله عنه د امامت په باره کې بحث وکړ او هغوی وليدل چې زيد د شېخينو امامت مني او له هغوی سره کينه او کرکه نه کوي نو هغه يې پرېښود او د امام له دايرې يې ويوست، ځکه هغوی ته رافضي وايي.

### کیسانیه فرقه

ځینې یې د حضرت علي کرم الله وجهه، حضرت حسن او حضرت حسین (د رسول الله لمسیان) نه وروسته د دوی دواړو د ورور محمد بن حنیفه حق بولي ورپسې د محمد بن حنیفه د اولادې، دې ډلې ته کیسانیه وایي، کیسان د محمد بن حنیفه غلام ؤ چې دغه ډله هغه ته منسوبه ده. د شیعه ؤ په دې فرقو کې ډېر لږ اختلافات دي، چې د کتاب د حجم د ډېرېدو په سبب ترې تېرېږو.

### غالي شیعه

په شیعه مذهبو کې ځینې غلو کوونکې فرقې هم شته، هغو ته غالي شیعه وایي، دوی د عقل او ایمان له حدودو نه وتلي دي او خپل مشران امامان د خدایی د صفاتو خاوندان بولي، د دوی په اند سره له دې چې امامان بې انسانان دي خو د خدایی صفات پکې دي، یا دا چې الله د بشر په ذات کې حلول کړی دی (نعوذوبالله) دا د حلول مذهب دی چې د حضرت عیسی علیه السلام په باب یې عیسویان لري. حضرت علي رضی الله عنه داسې کسان چې د نوموړي په باب داسې عقیده درلوده په اور کې وسوځول او چې محمد بن حنیفه واورېدل چې مختار بن ابوعبید د ده په باب دغسې نظر لري نو نوموړی ډېر پرې غوسه شو او برالا یې پرې لعنت ووایه او کرکه یې ترې وښوده. امام جعفر صادق هم چې کله خبر شو چې یو سړی دغسې عقیده لري ډېر پرې خپه شو او پر هغو یې لعنت ووایه.

### ځینې شیعه ګان وایي چې د امام روح نوي امام ته لېږدول کېږي

ځینې شیعه ګان داسې عقیده لري چې امام کوم کمال لري هغه له امام پرته په بل چا کې نشته، بیا چې امام وفات شي نو د هغه روح بل امام ته ورځي تر څو په هغه کې هم هغه کمال پیدا شي چې په لومړي امام کې ؤ، دا د تناسخ (هندوانو) د پیروانو عقیده ده.

### واقفیه فرقه

د غالي شیعه ګانو یوه فرقه په یوه امام عقیده لري چې هغه غوره کوي، دې ډلې ته واقفیه فرقه وایي.

## د ځینو په اند حضرت علي رضی الله عنه ژوندی دی او په وریځو کې اوسي او محمد بن حنیفه په رضوا غره کې ژوندی دی

د ځینو شیعه ګانو په اند امام مرګ نه لري بلکې د خلکو له نظره ورکېږي، دوی د حضرت خضر په کیسه استدلال کوي. دوی د حضرت علي مرتضیٰ «رض» په باب همدغسې عقیده لري چې تراوسه ژوندی دی او په وریځو کې دی، د وریځو تنا د ده غږ دی او برېښنا د ده متروکه ده، دوی د محمد بن حنیفه په باب هم همدغسې عقیده لري چې هغه د حجاز په سیمه کې د رضوا په غره کې دی. د دوی یو شاعر وایي:

Scanned with CamScanner

(۱) وپوهېږه چې د قریشو امامان او د حق امیران څلور تنه دي چې ټول یو له بل سره برابر دي.
(۲) علي او درې زامن يې دوی د رسول لمسيان دي او ابهام پکې نشته
(۳) يو لمسی د ايمان او نيکی لمسی دی او يو لمسی کربلا پټ کړی دی.
(۴) او يوه لمسي ته مرگ نه راځي تر دې چې د پوځ مشر شي او بيرغ يې په مخ ورپېږي.
(۵) دا يوه اوږده موده پټ دی او په رضوا غره کې دی او شات او اوبه ورسره دي.

## د ځينو په اند امام محمد بن حسن عسکري به قيامت ته نژدې له سمڅې راووزي

د غالي اماميه په ځانگړې توگه د دوولس امامه فرقې دا عقيده ده چې دوولسم امام محمد بن عسکري چې په مهدي لقب مشهور دی، د عراق په (حله) کې د خپل کور په سمڅه کې له خپلې مور سره پټ دی، قيامت ته به نژدې وخت کې به راووزي او را ښکاره به شي، نوموړی به پر ځمکه عدالت ټينگ کړي، په دې کې دوی هغه حديث ته اشاره کوي چې په ترمذي کې د امام مهدي په باب راغلی دی، دغه خلك تراوسه د هغه انتظار کوي ځکه خو دې ته «منتظر» وايي، دوی هره شپه د ماښام تر لمانځه وروسته په سپرليو کې راځي د هغه تاکاوی له دروازې تېرېږي او د نوموړي امام نوم اخلي او غږ پرې کوي چې جنابه راووزه تر دې چې اسمان په ستوريو ډك شي بيا بېرته ستانه شي او فکر کوي چې سبا ته به راووزي، تر ننه په هغوی کې دغه دود روان دی.

## د ځينو په اند مړه شوي امامان به بيا راشي

ځينې شيعه گان په دې عقيده دي چې د دوی امامان چې وفات شوي دي هغوی به بېرته را ژوندي شي او بيا به راشي او د دې عقيدې په تائيد د قرآنکريم د اصحاب کهف (د سمڅې ياران) کيسه دليل راوړي. همدارنگه هغه کيسه چې په يوه کلي کې تېره شوې ده (د حضرت عزير عليه السلام کيسه) او د اسراييلي وژل شوي کيسه چې د ذبح شوي غوايه د غوښې ټوټه يې پرې ووهله (دغه دواړه کيسې په بقره سوره کې دي) او د دې په څېر نورې کيسې چې د خوارقو او معجزو په بڼه پېښې شوې دي دليل راوړي. خو پر معجزو له خپل ځای پرته پر بل ځای استدلال او استشهاد صحيح نه دی، د دې فرقې يو شاعر سيد حميدي وايي:

ژباړه:(۱) کله چې د انسان وېښتان سپين شي او برمنځ کوونکي يې په نکريزو رنگ کړي
(۲) نو د هغو تازگي ختمه شي او هغه له منځه ځي، نو ياره راځه چې د ځوانی پر تلو وژاړو.
(۳) او تر هغه پورې وژاړو په کومه ورځ چې تر قيامت مخکې خلک د خپلې نړی په لور راوگرځي.
(۴) ځکه چې هغه څه چې تلونکي دي هغه چا ته د راگرځېدو تر ورځې راتلونکي نه دي.
(۵) زما ايمان دی چې همدغه رښتينی دين دی او زه له مرگ وروسته په ژوند شك نه کوم.
(۶) الله همدغسې خبر راکړی چې له خاورې کېدو وروسته به خلك بيا راژوندي شي.

موږ د هغو غالي شيعه گانو سره خوله نه وهو ځکه د اهل تشيع خپلې فرقې د هغوی د ځواب لپاره کافي دي چې د غاليانو ترديد کوي او د هغوی له خبرو انکار کوي.

**هاشمیه فرقه**

د کیسانیه فرقې په اند له محمد بن حنیفه وروسته امامت د هغه د زوی ابو هاشم حق دی. دې ډلې ته هاشمیه فرقه وايي.

## د امام په باب د شیعه ګانو بېلابېل نظرونه

کیسانیه ډلې له ابوهاشم وروسته په اختلاف اوښتې، یوه ډله یې له ابوهاشم وروسته د هغه ورور علي او تر هغه وروسته یې زوی حسن بن علي امام ګڼي او بله ډله بیا په دې عقیده ده چې څرنګه چې ابوهاشم له سوریې نه د راستنېدو پر مهال په «شراة» سیمه کې مړ شو وصیت یې وکړ چې د ده ځایناستی دې محمد بن علي بن عبدالله بن عباس وي او محمد وصیت وکړ چې تر ده وروسته یې زوی ابراهیم چې په امام مشهور ؤ د ده ځایناستی شي، ابراهیم امامت خپل ورور عبدالله بن حارثیهٔ ته ورکړ، چې سفاح یې لقب ؤ، سفاح وصیت وکړ چې ورور یې عبدالله ابوجعفر چې لقب یې منصور ؤ په امامت ومني او همدغسې امامت د هغه زامنو ته په سند او ژمنه یو له بله ولېږدید. دغه مذهب د (هاشمي) ډلې څخه دي چې د عباسیانو د دولت بنسټګر وو او ابومسلم خراساني، سلیمان بن کثیر او ابو سلمه حلال او نور چې د عباسیانو د حکومت له ځانګړو ملاتړ کوونکیو او دوستانو څخه وو. دغه خلك خپل نظر په دې هم پیاوړی کوي چې دوی ته د امامت حق د حضرت عباس له لوري هم رسېږي، ځکه چې حضرت عباس د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات پر مهال ژوندی ؤ او دا چې کاکا یې ؤ نو د وراثت زیات حقدار یې ؤ. خو زیدیه ډله وايي چې خلافت د حل او عقد د خاوندانو لخوا تاکل کېږي د دلیل او سند له درکه نه، ځکه خو وايي چې لومړی امام علي «رض» ؤ، بیا حضرت حسن رضی الله عنه ورپسې حضرت حسین «رض»، بیا امام زین العابدین (رح) ورپسې د هغه زوی زید بن علي چې زیدیه هغه ته منسوب دی.

زیدیه په کوفه کې د امامت دعوه وکړه خو په پای کې په کناسه کې په دار وځړول شو، زیدیه د هغه تر وژل کېدو وروسته د هغه د زوی یحیٰ په امامت باور لري چې خراسان ته لاړ او په جوزجان کې ووژل شو، نوموړي د محمد بن عبدالله بن حسن بن حسن د امامت وصیت وکړ چې نیکه یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمسی ؤ، محمد په نفس زکیه ملقب ؤ نوموړي په حجاز کې د امامت دعوه وکړه او په مهدي لقب مشهور شو، خو منصور لښکر ورپسې واستاوه چې ماته یې وخوړه او ووژل شو. نفس زکیه خپل ورور ابراهیم ځایناستی وټاکه، ابراهیم د عیسی بن زید بن علي په ملګرتیا پاڅون وکړ، خو منصور لښکر ورپسې واستاوه هغوی یې سره تیت پرك کړل او عیسیٰ او ابراهیم یې ووژل او جعفر صادق (رح) د دې پېښو په باب مخکې خبر ورکړی ؤ چې دا د نوموړي په کرامت کې حسابېږي.

د زیدیانو یوې ډلې بله لاره غوره کړه، دوی دا عقیده درلوده چې له محمد بن عبدالله زکیه نه وروسته امام محمد بن قاسم بن علي بن عمر دی، (دغه عمر د زید بن علي ورور دی) محمد بن قاسم په تالقان کې د امامت

دعوه وکړه، خو د خلیفه پلویانو هغه ونیو او معتصم ته یې ور ووست، معتصم زندان ته واچاوه تر دې چې هماله مړ شو.

د زیدیانو بله ډله وایي چې امامت له یحیٰ وروسته د هغه ورور عیسی ته رسېږي چې د ابراهیم بن عبدالله په پاڅون کې یې د منصور پرخلاف له ده سره ملګرتیا کړې وه، دغه ډله امامت له عیسیٰ وروسته د هغه اولادې ته ځانګړې بولي، د زنګیانو دعوه دار هم نوموړي ته منسوب دی چې د زنګیانو د پېښو پر مهال به یې یادونه وکړو.

د ځینو زیدیانو یوه بله ډله په دې نظر وه چې امام له محمد بن عبدالله نه وروسته د هغه ورور ادریس دی، چې مغرب ته وتښتېد او هماله مړ شو او ادریس زوی یې ځایناستی شو چې د فاس ښار بنسټ یې کېښود چې تر هغه وروسته یې زامن په مغرب کې واکمنۍ ته ورسېدل تر دې چې د دوی دوران پای وموند، چې پر خپل ځای به یې یادونه وکړو، تر دې وروسته د زیدیانو بلنه او دعوت نامنظم او ګډوډ شو.

د زیدیانو له ډلې ځخه یوه په دې باور ده چې حسن بن زید بن محمد بن اسماعیل بن حسن بن زید بن علي بن حسین (د رسول الله لمسی) او د هغه ورور محمد بن زید په طبرستان کې امامت ته ورسېدل، بیا په دیلم کې ناصر اطروش په دې بلنه پاڅون وکړ او د امامت دعوه دار شو، د هغه په بلنه د دیلم ټول اوسېدونکي په اسلام مشرف شول، د ناصر اطروش نوم حسن بن علي بن حسین بن علي بن عمر دی او عمر بن علي د زید بن علي ورور ؤ او په دې سبب چې خلکو یې بلنه منلې وه زامنو یې په طبرستان کې حکومت جوړ کړ او د دوی له نسبه د دیلم اوسېدونکي حکومت او واك ته ورسېدل، چې وروسته یې خپلواکي ترلاسه کړه او د بغداد له خلافته خپلواك شول، چې د دوی په تاریخ کې به یې یادونه راشي.

د امامیه فرقې په باور لومړی امام حضرت علي دی چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم وصي ؤ، د ده د وصیت له مخې د ده زوی امام حسین رضی الله عنه امام شو، تر هغه وروسته یې ورور حضرت حسین رضی الله عنه امام شو، ورپسې د هغه زوی علي (زین العابدین) امام دی، ورپسې د هغه زوی امام باقر امام دی. بیا د هغه زوی جعفر صادق (رح) نه وروسته امامیه فرقه دوې برخې کېږي. یوه ډله یې له امام جعفر صادق نه وروسته د هغه زوی اسماعیل امام ګڼي او دوهمه فرقه یې بیا د هغه بل زوی امام موسی کاظم امام ګڼي، لومړۍ فرقې ته اسماعیلیه وایي او دوی اسماعیل د امام په توګه پېژني او دوهمه فرقه د دوولس امامه فرقې په نامه یادېږي، ځکه چې دوی امامان تر دوولسم امام پورې رسوي او بیا یې پای ته رسوي، د دوی په عقیده دوولسم امام له خلکو نه پټ اوسېږي او په آخره زمانه کې به راڅرګندېږي. اسماعیلیه فرقه وایي چې امام اسماعیل د هغه پلار امام جعفر صادق (رح) غوره کړی دی، امام اسماعیل د خپل پلار په ژوند کې وفات شوی دی خو د نوموړي د امامت په باب دا ثابته ده چې امامت یې زوی ته ورسېد، لکه د حضرت موسی او حضرت هارون په باب کې دلیل وایي چې بیا امامت له اسماعیل نه د هغه زوی محمد مکتوم ته رسېدلی دی، دا په پټو شویو امامانو کې لومړنی دی، ځکه چې د دوی له نظره کله امام له ځواکه محروم شي نو پټ شي خو د هغه د امامت د تحریك چلوونکي ښکاره وي تر څو خلکو ته دلیل وي، کله چې د دبدبې او ځواك خاوند شي بیا راڅرګندېږي او په

خلکو کې خپل دعوت ته دوام ورکوي، وايي چې له محمد مکتوم نه وروسته د هغه زوی جعفر صادق او تر هغه وروسته د هغه زوی محمد حبيب امامان شول، محمد په پټو شويو امامانو کې وروستی امام دی، تر هغه وروسته د هغه زوی عبدالله مهدي امام شو چې د هغه داعيه او بلنه په کتامه کې عبدالله شيعي خپره کړه او خلك يو پر بل پسې ورسره يو ځای شول، چې بيا يې بلاخره عبدالله مهدي د سجلماسه له زندانه راويوست او د قيروان او مغرب پاچهي ته ورسېد او زامن يې تر ده وروسته په مصر کې واکمنی ته ورسېدل چې په تاريخ کې په (فاطميانو) مشهور دي. دغه ډله په دې دليل چې د اسماعيل د امامت پيروان دي ځکه (اسماعيليان) بلل کېږي او په دې سبب چې په باطن يا ورك امام باور لري (باطنيه) فرقه بلل کېږي. له دې لامله چې د دوی په نظرياتو او خبرو کې الحادي ډوله خبرې هم شته نو هغوی «ملا حده» هم بولي، د دوی په نظرياتو کې پخواني هم شته او نوي هم، چې حسن بن محمد بن صباح د پنځمې پېړۍ په پای کې خلك دې نظرياتو ته راوبلل او په شام او عراق کې يې ځيني کلاگانې هم ونيولې او هلته يې بلنې يو څه زور واخيست تر دې چې په مصر کې ترکي پاچاهانو او تاتاري پاچاهانو په عراق کې د هغو مرگ وويشه (په گډه يې د هغه د وژلو پرېکړه وکړه) چې بيا يې تحريك له منځه لاړ. د صباح ويناوې او عقايد د شهرستاني په کتاب الملل والنحل کې شته دي.

اثنا عشري (دوولس امامه) فرقه چې د دوی وروستيو علماو په دې نامه مشهور کړي دي، د موسی کاظم بن جعفر صادق په امامت باوري دي. ځکه چې د هغه مشر ورور اسماعيل د خپل پلار جعفر په ژوند کې مړ شوی دی ځکه خو جعفر صادق د موسیٰ پر امامت ټينگار وکړ، بيا د هغه زوی امام علي رضا امام ومنل شو، دا هماغه علي رضا دی چې مامون خپل ولي عهد ټاکلی ؤ او تر مامون مخکې مړ شوی دی ځکه هغه ته امامت او خلافت ونه رسېد. بيا د هغه زوی محمد تقي ورپسې د هغه زوی علي هادي او بيا د هغه زوی محمد حسن عسکري او ورپسې يې زوی محمد مهدي منتظر امامت ته ورسېدل چې مخکې مو يې يادونه کړې ده.

په دې مذهبونو کې په هر يوه کې وړوکي وړوکي ډېر اختلافونه دي مونږ يې مشهور مذهبونه دلته ياد کړل، که څوك غواړي چې په بشپړ ډول د دوی عقايد ولولي بايد ملل ونحل د ابن حزم او يا د شهرستاني او نورو اثار ولولي، په دې کتابونو کې د دوی عقايد او نظريات په تفصيل سره راغلي دي.

او خدای تعالی چې هر څوك وغواړي بې لارې کوي يې او هر څوك چې وغواړي په سمه لاره يې هدايت کوي، او هغه جل جلاله د عظمت او لويې خاوند دی.

Scanned with CamScanner

خلکو کې خپل دعوت ته دوام ورکوي، وايي چې له محمد مکتوم نه وروسته د هغه زوی جعفر صادق او تر هغه وروسته د هغه زوی محمد حبيب امامان شول، محمد په پټو شويو امامانو کې وروستی امام دی، تر هغه وروسته د هغه زوی عبدالله مهدي امام شو چې د هغه داعيه او بلنه په کتامه کې عبدالله شيعي خپره کړه او خلك يو پر بل پسې ورسره يو ځای شول، چې بيا يې بلاخره عبدالله مهدي د سجلماسه له زندانه راوبوست او د قيروان او مغرب پاچهي ته ورسېد او زامن يې تر ده وروسته په مصر کې واکمنی ته ورسېدل چې په تاريخ کې په (فاطميانو) مشهور دي. دغه ډله په دې دليل چې د اسماعيل د امامت پيروان دي ځکه (اسماعيليان) بلل کېږي او په دې سبب چې په باطن يا ورك امام باور لري (باطنيه) فرقه بلل کېږي. له دې لامله چې د دوی په نظرياتو او خبرو کې الحادي ډوله خبرې هم شته نو هغوی «ملا حده» هم بولي، د دوی په نظرياتو کې پخواني هم شته او نوي هم، چې حسن بن محمد بن صباح د پنځمې پېړۍ په پای کې خلك دې نظرياتو ته راوبلل او په شام او عراق کې يې ځينې کلاګانې هم ونيولې او هلته يې بلنې يو څه زور واخيست تر دې چې په مصر کې ترکي پاچاهانو او تاتاري پاچاهانو په عراق کې د هغو مرګ ووېشه (په ګډه يې د هغه د وژلو پرېکړه وکړه) چې بيا يې تحريك له منځه لاړ. د صباح وېناوې او عقايد د شهرستاني په کتاب الملل والنحل کې شته دي.

اثنا عشري (دوولس امامه) فرقه چې د دوی وروستيو علماو په دې نامه مشهور کړي دي، د موسی کاظم بن جعفر صادق په امامت باوري دي. ځکه چې د هغه مشر ورور اسماعيل د خپل پلار جعفر په ژوند کې مړ شوی دی ځکه خو جعفر صادق د موسیٰ پر امامت ټينګار وکړ، بيا د هغه زوی امام علي رضا امام ومنل شو، دا هماغه علي رضا دی چې مامون خپل ولي عهد ټاکلی ؤ او تر مامون مخکې مړ شوی دی ځکه هغه ته امامت او خلافت ونه رسېد. بيا د هغه زوی محمد تقي ورپسې د هغه زوی علي هادي او بيا د هغه زوی محمد حسن عسکري او ورپسې يې زوی محمد مهدي منتظر امامت ته ورسېدل چې مخکې مو يې يادونه کړې ده.

په دې مذهبونو کې په هر يوه کې وړوکي وړوکي ډېر اختلافونه دي مونږ يې مشهور مذهبونه دلته ياد کړل، که څوك غواړي چې په بشپړ ډول د دوی عقايد ولولي بايد ملل ونحل د ابن حزم او يا د شهرستاني او نورو اثار ولولي، په دې کتابونو کې د دوی عقايد او نظريات په تفصيل سره راغلي دي.

او خدای تعالی چې هر څوك وغواړي بې لارې کوي يې او هر څوك چې وغواړي په سمه لاره يې هدايت کوي، او هغه جل جلاله د عظمت او لويې خاوند دی.

دین الحق "محبوب"

Scanned with CamScanner

خلکو کې خپل دعوت ته دوام ورکوي، وايي چې له محمد مکتوم نه وروسته د هغه زوی جعفر صادق او تر هغه وروسته د هغه زوی محمد حبيب امامان شول، محمد په پټو شويو امامانو کې وروستی امام دی، تر هغه وروسته د هغه زوی عبدالله مهدي امام شو چې د هغه داعيه او بلنه په کتامه کې عبدالله شيعي خپره کړه او خلك يو پر بل پسې ورسره يو ځای شول، چې بيا يې بلاخره عبدالله مهدي د سجلماسه له زندانه راوبوست او د قيروان او مغرب پاچهي ته ورسېد او زامن يې تر ده وروسته په مصر کې واکمنی ته ورسېدل چې په تاريخ کې په (فاطميانو) مشهور دي. دغه ډله په دې دليل چې د اسماعيل د امامت پيروان دي ځکه (اسماعيليان) بلل کېږي او په دې سبب چې په باطن يا ورك امام باور لري (باطنيه) فرقه بلل کېږي. له دې لامله چې د دوی په نظرياتو او خبرو کې الحادي ډوله خبرې هم شته نو هغوی «ملا حده» هم بولي، د دوی په نظرياتو کې پخواني هم شته او نوي هم، چې حسن بن محمد بن صباح د پنځمې پېړۍ په پای کې خلك دې نظرياتو ته راوبلل او په شام او عراق کې يې ځيني کلاگانې هم ونيولې او هلته يې بلنې يو څه زور واخيست تر دې چې په مصر کې ترکي پاچاهانو او تاتاري پاچاهانو په عراق کې د هغو مرگ ووېشه (په گډه يې د هغه د وژلو پرېکړه وکړه) چې بيا يې تحريك له منځه لاړ. د صباح ويناوې او عقايد د شهرستاني په کتاب الملل والنحل کې شته دي.

اثنا عشري (دوولس امامه) فرقه چې د دوی وروستيو علماو په دې نامه مشهور کړي دي، د موسی کاظم بن جعفر صادق په امامت باوري دي. ځکه چې د هغه مشر ورور اسماعيل د خپل پلار جعفر په ژوند کې مړ شوی دی ځکه خو جعفر صادق د موسیٰ پر امامت ټينگار وکړ، بيا د هغه زوی امام علي رضا امام ومنل شو، دا هماغه علي رضا دی چې مامون خپل ولي عهد ټاکلی ؤ او تر مامون مخکې مړ شوی دی ځکه هغه ته امامت او خلافت ونه رسېد. بيا د هغه زوی محمد تقي ورپسې د هغه زوی علي هادي او بيا د هغه زوی محمد حسن عسکري او ورپسې يې زوی محمد مهدي منتظر امامت ته ورسېدل چې مخکې مو يې يادونه کړې ده.

په دې مذهبونو کې په هر يوه کې وړوکي وړوکي ډېر اختلافونه دي موږ يې مشهور مذهبونه دلته ياد کړل، که څوك غواړي چې په بشپړ ډول د دوی عقايد ولولي بايد ملل ونحل د ابن حزم او يا د شهرستاني او نورو اثار ولولي، په دې کتابونو کې د دوی عقايد او نظريات په تفصيل سره راغلي دي.

او خدای تعالی چې هر څوك وغواړي بې لارې کوي يې او هر څوك چې وغواړي په سمه لاره يې هدايت کوي، او هغه جل جلاله د عظمت او لويې خاوند دی.

دين الدين "محبوب"

Scanned with CamScanner

# اته ویشتم فصل

## خلافت پر حکومت بدلېدل

### شریعت پر حکومت او قومپالنې بد وایي

باید په یاد ولرو چې حکومت د عصبیت لپاره طبیعي موخه ده، او د قومي ملاتړ له لارې یې پېښېدل اختیاري نه دي، بلکې د نظم او ترتیب شتون یې قومي ملاتړ ایجابوي او دا حتمي چاره ده چې په تېرو فصلونو کې مو پرې رڼا اچولې ده. په شریعت، دین او هره هغه چاره چې عام خلك د هغو عملي کولو ته هڅول کېږي خامخا به قومي ملاتړ لري. څکه د هر کار د بشپړولو لپاره قومي عصبیت ته اړتیا ده لکه چې مخکې مو یادونه کړې ده. څکه خو د مذهب لپاره قومي ملاتړ اړین دی او د قوم په ملاتړ او تکیه د الله تعالی احکام چې د مذهب په بنه پیغمبر راوړي پلي کېږي او غوړېږي. لکه چې په یوه صحیح حدیث کې راغلي چې الله تعالی هر پیغمبر د خپل قوم د ملاتړ او پلویانو په مټ استولی دی.

بل لوري ته شریعت قومي تعصب بد ګڼي او خلك یې د هغو د لرې غورځولو او ترې ډډه کولو ته بللي دي، لکه چې رحمة للعلمین فرمایلي دي «الله تعالی د جاهلیت د زماني کبر او غرور او پر پلرونو او نیکونو ویاړ او غرور چې په هغه زمانه کې دود وو ستاسو له منځه لرې کړي دي، تاسو ټول د یوه آدم علیه السلام اولاده یاست او آدم له خاورې پیدا شوی دی » او الله تعالی فرمایي: ستاسو تر ټولو عزتمن ستاسو پرهېزګاره دی. د ایت شریف ژباړه ده. شریعت د حکومت او د حکومت خاوندان (حاکمان) هم بد ګڼلي او د حکومت د خاوندانو د بې ځایه تصرف او لګښتونو تردید کوي چې حاکمان د شریعت خلاف کارونه کوي، اسراف کوي او منځلاره نه غوره کوي او د الله له سیده لارې نه کږېږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم خلك له یو بل سره دیني مینې او محبت او دوستۍ ته هڅولي او له اختلاف او دلبازۍ څخه یې منع کړي دي.

### له ځینو کړنو څخه د انسان د منعه کولو موخه او غرض

بنه په یاد ولرئ چې دنیا په یوه بڼه د سپرلۍ وسیله ده چې خلك پرې سپرېږي او د آخرت په لور سفر کوي. ښکاره ده چې څوك له سپرلۍ محروم شي هغه به منزل ته ونه رسېږي. په انساني کړو وړو کې شریعت کوم شی منع کوي او یا د هغو بد وایي او یا د هغو د پرېښودو امر کوي نو د دې مطلب دا نه دی چې هغه بلکل پرېښودل شي یا یې ریښې غوڅې کړای شي او لرې وغورځول شي. او په کومو خواکونو چې هغه عمل ترسره کېږي هغه له منځه یووړل شي. بلکې د شریعت موخه دا وي چې کوم اعمال چې څومره جایز او روا وي په هغو حدودو کې ترسره شي. تر څو ټولې موخې پر حق لاره برابرې شي او د ټولو غرض او مقصد یو او سره همغږی شي. لکه چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: هر څوك چې د خدای او د هغه رسول لوري ته مخه کړي نو خدای او د هغه رسول ته به ورسېږي، او هر څوك چې د دنیا په لور مخه کړي نو دنیا به پیدا کړي، یا

Scanned with CamScanner

که ښځې ته لېوالتیا لري نو له هغه سره به واده وکړي، نو هر څوك چې هر لور ته مخه اړوي هغه ته به ورسېږي.
«په اردو ژباړه د الله او رسول په لور هجرت یاد شوی تر پایه د مخ اړولو پر ځای هجرت راغلی دی».
د ساري په توګه په شریعت کې غوسه بلکل منعه شوې نه ده، ځکه چې که انسان دغه غریزه بلکل له منځه یوسي نو بیا به د حق په لاره کې کسات څه ډول اخلي او په کوم توان؟ جهاد به څه ډول وکړي او په کوم ډول به د الله تعالی نوم لوړ کړي، ځکه خو به جهاد او د الله تعالی د نوم لوړول بلکل ختم شي. شریعت داسې غوسه منع کړې چې د شیطان لپاره سند شي او د بدو کارونو سرچینه شي. او دا معلومه ده چې غوسه که په داسې لارو وشي بدې او ناوړه پایلې لري، خو که همدغه د غوسې څواك د خدای په لاره کې په نیکو چارو کې وکارول شي هغه مهال به غوره او د ښو پایلو لرونکې وي او دا به په ښو خویونو کې شمېرل کېږي، چې دا د پیغمبر له خوی څخه ؤ. همدارنګه یې نفسي غوښتنې او شهوت د دې لپاره نه دی غندلی چې بشپړه دغه قوه له منځه یوسي او ختم یې کړي. ځکه چې که څوك دغه قوه له لاسه ورکړي دغه حالت به یې نیمګړتیا حسابیږي، بلکې دلته د شریعت موخه دا ده چې شهوت داسې وکاروې چې په شرع کې ورته روا وي او دا د انسان په مصلحتونو کې شمېرل کېږي، تر څو انسان د خدای تعالی د هغو بنده ګانو په ډله کې راشي چې کړه وړه یې د الله تعالی له خوښې سره برابر وي.

## د حکومت او قومي تعصب د بد ویلو دلیل هم همدغه دی

عصبیت او قوم پالنه به هم همدغسې اټکل کړو، ځکه چې په شرعه کې پرې بد ویل شوي دي لکه چې الله تعالی فرمايي: (لن تنفعکم ارحامکم و لا اولادکم) یانې د قیامت په ورځ تاسو ته خپلوان او اولادونه هیڅ په درد نه خوري، په دې مانا که خپلوي او قوم پالنه غلطه او په باطله لاره کې وکارول شي لکه د جاهلیت په زمانه کې چې په روا او ناروا کې ترې کار اخیستل کېدو یا څوك پر قوم او نبیره غرور وکړي او یا په همدې سبب پر ناروا لارو پر نورو برلاسي مومي، ځرنګه چې دا لیونتوب دی او په آخرت کې زیان لري او د عقل خاوندان دغسې ناروا نه کوي.
خو د عقل خاوندان او هوښیاران خپلوان او عصبیت د خدای د لارې په حدودو کې پالي ځکه چې که دغه خپلوي او قوم ولي له منځه لاړه شي نو شریعت به له منځه لاړ شي په دې دلیل چې پر عصبیت او قومي ملاتړ ولاړ دی، همدغسې شارع علیه السلام پر پاچا بد ویلي خو که څوك له روا لارې واك ترلاسه کړي هغه بدوالی نه لري، چې خلك د دین پیروي او د مصالحو رعایت ته اړ کړي دغسې پاچهي بده نه ګڼي بلکې لکه چې ومو ویل هغه ډول پاچاهي غندي او بد پرې وايي چې زیاتره په ناروا لارو برلاسي او غلبه لاسته راغلې وي او هر ولس د شخصي غرضونو او نفسي غوښتنو لپاره فساد او زور راوړي. هغه پاچاهي چې د الله د دین د خپراوې لپاره وي، او په خلکو کې د الله له عبادت سر د مینې د پیدا کولو لپاره وي او د الله له دښمنانو سره د جهاد لپاره وي نو هغه د غندنې وړ نه ده بلکې د ستاینې او شاباسي وړ ده.

Scanned with CamScanner

## که حکومت مطلق بد وای نو حضرت سلیمان او حضرت داود علیهم السلام به ولې پاچاهان وو؟

وګورئ حضرت سلیمان علیه السلام دا دعا کوله: (رَبِّ هَبْ لِيْ مُلْكًا لَّا يَنْبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنْ بَعْدِيْ) ای زما خدایه ما ته داسې پاچاهي راکړه چې تر ما وروسته یې څوك ونه لري، څکه چې هغو ځان پېژانده او پوهېده چې په پیغمبری او پاچاهی کې له باطل څخه بېزار او لرې دی.

## د حضرت عمر «رض» له لوري د معاویه «رض» ملامتول او د هغه ځواب

کله چې حضرت عمر فاروق «رض» شام ته لاړ، حضرت معاویه په ډېر شان او دبدبه ورسره ملاقات وکړ چې حضرت عمر رضی الله عنه ته یې دغه شاهانه انداز ښه ښکاره نه شو، نو ورته وې ویل چې معاویه دا د کسرا نخرې دې له کوم وخته زده کړې دي. حضرت معاویه رضی الله عنه ځواب ورکړ، امیرالمؤمنینه، زه تل په سرحدونو کې وم او تل له دښمنانو سره مخامخ یم، موږ ته په جهاد کې د دغه شاهانه شان او شوکت او څواك د ښودلو اړتیا ده چې پر دښمن رعب پریوزي. د دې ځواب په اورېدو حضرت عمر فاروق «رض» چوپ شو او د هغه پر ځواب یې اعتراض او نیوکه ونه کړه څکه چې د حضرت معاویه رضی الله عنه نیت د خیر ؤ او د ښه هدف لپاره یې دلیل ووایه چې د دین مصلحت هم ورسره غوټه ؤ. که د رسول الله صلی الله علیه وسلم موخه د حکومت د دبدبې او کش او فش له بد ګڼلو څخه د هغو بشپړ ترك کول وای نو حضرت عمر فاروق «رض» غوندې ستر شخصیت به د حضرت معاویه «رض» پر ځواب هېڅکله هم قانع شوی نه ؤ او هغه ته به یې حکم کاوه چې دغه کش وفش بشپړ پرېږده. د کسرا له نخرو څخه موخه د حضرت عمر فاروق د پارسي شاهانو شان او دبدبه یادول وو، چې هغه شاهان په باطله، ظلم زیاتي، بغاوت او ناوړه لارو روان وو، له الله څخه غافل او ناخبره وو، حضرت معاویه رضی الله عنه دا ځواب ورکړ چې زما نیت له دې ساټ او باټ او دبدبې څخه د کسرا ظاهري غرور نه دی، او نه د هغوی د غلطو کارونو په لور زما پام ور اوښتی، بلکې په دې کې مې نیت یوازې د الله تعالی خوښي ده. تر څو د دې شاهانه رعب او دبدبې اغېز پر دښمن ولوېږي، څکه خو حضرت عمر فاروق «رض» چوپ شو.

دا د صحابه ؤ حالت ؤ چې دوی له حکومت او پر هېوادونو له حکم چلولو څخه لرې ګرځېدل، د هغو پایلو ته یې کتل او دبدبه یې هېروله چې کله په دې کې ونه نښلي او پر باطلو کړو وړو بوخت نشي، کله چې د رحمة للعلمین د وفات وخت را نژدې شو نو هغه صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر صدیق د لمانځه لپاره خپل خلیفه وټاکه، څکه چې لمونځ په دیني عباداتو کې ډېر مهم او بنسټیز حیثیت لري، بیا د هغه صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته مسلمانانو حضرت ابوبکر صدیق د خلافت لپاره غوره کړ.

Scanned with CamScanner

## که حکومت مطلق بد وای نو حضرت سلیمان او حضرت داود علیهم السلام به ولې پاچاهان وو؟

وگورئ حضرت سلیمان علیه السلام دا دعا کوله: (رَبِّ اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي) ای زما خدایه ما ته داسې پاچاهي راکړه چې تر ما وروسته یې څوك ونه لري، څکه چې هغو ځان پېژانده او پوهېده چې په پیغمبری او پاچاهی کې له باطل څخه بېزار او لرې دی.

## د حضرت عمر «رض» له لوري د معاویه «رض» ملامتول او د هغه ځواب

کله چې حضرت عمر فاروق «رض» شام ته لاړ، حضرت معاویه په ډېر شان او دبدبه ورسره ملاقات وکړ چې حضرت عمر رضی الله عنه ته یې دغه شاهانه انداز ښه ښکاره نه شو، نو ورته وې ویل چې معاویه دا د کسرا نخرې دې له کوم وخته زده کړې دي. حضرت معاویه رضی الله عنه ځواب ورکړ، امیرالمؤمنینه، زه تل په سرحدونو کې وم او تل له دښمنانو سره مخامخ یم، موږ ته په جهاد کې د دغه شاهانه شان او شوکت او ځواك د ښودلو اړتیا ده چې پر دښمن رعب پرېوزي. د دې ځواب په اورېدو حضرت عمر فاروق «رض» چوپ شو او د هغه پر ځواب یې اعتراض او نیوکه ونه کړه څکه چې د حضرت معاویه رضی الله عنه نیت د خیر ؤ او د ښه هدف لپاره یې دلیل ووایه چې د دین مصلحت هم ورسره غوټه ؤ. که د رسول الله صلی الله علیه وسلم موخه د حکومت د دبدبې او کش او فش له بد ګڼلو څخه د هغو بشپړ ترك کول وای نو حضرت عمر فاروق «رض» غوندې ستر شخصیت به د حضرت معاویه «رض» پر ځواب هېڅکله هم قانع شوی نه ؤ او هغه ته به یې حکم کاوه چې دغه کش وفش بشپړ پرېږده. د کسرا له نخرو څخه موخه د حضرت عمر فاروق د پارسي شاهانو شان او دبدبه یادول وو، چې هغه شاهان په باطله، ظلم زیاتي، بغاوت او ناوړه لارو روان وو، له الله څخه غافل او ناخبره وو، حضرت معاویه رضی الله عنه دا ځواب ورکړ چې زما نیت له دې ساټ او باټ او دبدبې څخه د کسرا ظاهري غرور نه دی، او نه د هغوی د غلطو کارونو په لور زما پام ور اوښتی، بلکې په دې کې مې نیت یوازې د الله تعالی خوښي ده. تر څو د دې شاهانه رعب او دبدبې اغېز پر دښمن ولوېږي، څکه خو حضرت عمر فاروق «رض» چوپ شو.

دا د صحابه ؤ حالت ؤ چې دوی له حکومت او پر هېوادونو له حکم چلولو څخه لرې ګرځېدل، د هغو پایلو ته یې کتل او دبدبه یې هېروله چې کله په دې کې ونه نښلي او پر باطلو کړو وړو بوخت نشي، کله چې د رحمة للعلمین د وفات وخت را نژدې شو نو هغه صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر صدیق د لمانځه لپاره خپل خلیفه وټاکه، څکه چې لمونځ په دیني عباداتو کې ډېر مهم او بنسټیز حیثیت لري، بیا د هغه صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته مسلمانانو حضرت ابوبکر صدیق د خلافت لپاره غوره کړ.

Scanned with CamScanner

## که حکومت مطلق بد وای نو حضرت سلیمان او حضرت داود علیهم السلام به ولې پاچاهان وو؟

وگورئ حضرت سلیمان علیه السلام دا دعا کوله: (رَبِّ هَبْ لِيْ مُلْكًا لَّا يَنْبَغِيْ لِأَحَدٍ مِّنْ بَعْدِيْ) ای زما خدایه ما ته داسې پاچاهي راکړه چې تر ما وروسته یې څوك ونه لري، ځکه چې هغو ځان پېژانده او پوهېده چې په پیغمبری او پاچاهی کې له باطل څخه بېزار او لرې دی.

## د حضرت عمر «رض» له لوري د معاویه «رض» ملامتول او د هغه ځواب

کله چې حضرت عمر فاروق «رض» شام ته لاړ، حضرت معاویه په ډېر شان او دبدبه ورسره ملاقات وکړ چې حضرت عمر رضی الله عنه ته یې دغه شاهانه انداز ښه ښکاره نه شو، نو ورته وې ویل چې معاویه دا د کسرا نخرې دي له کوم وخته زده کړې دي. حضرت معاویه رضی الله عنه ځواب ورکړ، امیرالمؤمنینه، زه تل په سرحدونو کې وم او تل له دښمنانو سره مخامخ یم، موږ ته په جهاد کې د دغه شاهانه شان او شوکت او څواك د ښودلو اړتیا ده چې پر دښمن رعب پریوزي. د دې ځواب په اورېدو حضرت عمر فاروق «رض» چوپ شو او د هغه پر ځواب یې اعتراض او نیوکه ونه کړه ځکه چې د حضرت معاویه رضی الله عنه نیت د خیر ؤ او د ښه هدف لپاره یې دلیل ووایه چې د دین مصلحت هم ورسره غوټه ؤ. که د رسول الله صلی الله علیه وسلم موخه د حکومت د دبدبې او کش او فش له بد ګټلو څخه د هغو بشپړ ترك کول وای نو حضرت عمر فاروق «رض» غوندې ستر شخصیت به د حضرت معاویه «رض» پر ځواب هېڅکله هم قانع شوی نه ؤ او هغه ته به یې حکم کاوه چې دغه کش وفش بشپړ پرېږده. د کسرا له نخرو څخه موخه د حضرت عمر فاروق د پارسي شاهانو شان او دبدبه یادول وو، چې هغه شاهان په باطله، ظلم زیاتي، بغاوت او ناوړه لارو روان وو، له الله څخه غافل او ناخبره وو، حضرت معاویه رضی الله عنه دا ځواب ورکړ چې زما نیت له دې ساټ او باټ او دبدبې څخه د کسرا ظاهري غرور نه دی، او نه د هغوی د غلطو کارونو په لور زما پام ور اوښتی، بلکې په دې کې مې نیت یوازې د الله تعالی خوښي ده. تر څو د دې شاهانه رعب او دبدبې اغېز پر دښمن ولوېږي، ځکه خو حضرت عمر فاروق «رض» چوپ شو.

دا د صحابه ؤ حالت ؤ چې دوی له حکومت او پر هېوادونو له حکم چلولو څخه لرې ګرځېدل، د هغو پایلو ته یې کتل او دبدبه یې هېروله چې کله په دې کې ونه نښلي او پر باطلو کړو وړو بوخت نشي، کله چې د رحمة للعلمین د وفات وخت را نژدې شو نو هغه صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر صدیق د لمانځه لپاره خپل خلیفه وټاکه، ځکه چې لمونځ په دیني عباداتو کې ډېر مهم او بنسټیز حیثیت لري، بیا د هغه صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته مسلمانانو حضرت ابوبکر صدیق د خلافت لپاره غوره کړ.

Scanned with CamScanner

## خلافت څه شی دی؟

خلافت پر عامو خلکو د شریعت پلي کول او د شریعت سره سم د هغوی اداره کول دي. هغه مهال له صحابه کرامو سره د هېوادونو لاندې کولو او د حکومت کولو هېڅ خیال نه ؤ. څکه چې په حکومتي دبدبه کې د باطلو کارونو سل په سلو کې امکان دی او هغه مهال حکومت او پاچاهي د کافرانو او د دین دښمنانو طریقه ده، خو حضرت ابوبکر صدیق تر هغه وخته چې د الله تعالی خوښه وه په ښه ډول خلافت وچلاوه او د رسول الله له طریقې سره سم يې خلافت وکړ، له اسلام نه له مرتد شویو سره یې جګړه وکړه هغوی یې بېرته سیده لارې ته راوستل، تر دې چې ټول عرب په اسلام مشرف شول.

### حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه، فاروق اعظم خپل ځایناستی وټاکه

ابوبکر صدیق «رض» حضرت عمر فاروق«رض»، خپل ځایناستی وټاکه، فاروق اعظم د حضرت ابوبکر صدیق پر تګلاره ګام واخیست او د نړۍ له باطلو ځواکونو سره یې جهاد وکړ او هغوی یې مات او د ځان تابع وګرځول، همدغو عربانو د ده تر سیوري لاندې د نړۍ له ګوټ ګوټ نه شتمنی راوړې او د هغوی پر هېوادونو یې واکمني وموندە، وروسته خلافت حضرت عثمان ته ورسېد، تر هغه وروسته د خلافت مالك حضرت علي کرم الله وجهه شو.

## خلیفه ګان له حکم چلولو څخه بېزار وو

دغو ټولو خلیفه ګانو د حکومت له چلولو څخه کرکه درلوده او د حکومتولی له لارې څخه لرې وو. د دوی دغې جذبې ته د اسلام تازه ګی او د عربو سارايي توب نور هم زور ورباښه، څکه خو عرب د نړۍ په ټولو قومونو کې د دنیا د آرام او راحت، او د عیش او مستیو نه ډېر لرې وو، په دیني لحاظ څکه ترې لرې وو چې دین يې د دنیا په آرام او راحت کې له ښکېل کېدو ایسارول او د سارايي ژوندانه او وطني لحاظه څکه چې له پیله دوی له ساده ژوندانه او سختیو او ستونزو سره عادت وو.

## مضر له بې کچې بې وزلی سره مخ وو

د نړۍ هېڅ قوم هم د مضر قبیلې په اندازه د اقتصادي بې وزلی او ناچارۍ ښکار نه وو، څکه چې دغه خلك په حجاز کې اوسېدل، داسې یوه سیمه ده چې هلته نه کرونده کېږي او نه د شیدو څارويي شته، له سمسورو درو او د هغو له پیداوارو نه محرومه وه، سمسورې سیمې له هغوی ډېرې لرې وې، چې د ربیعه او یمن اوسېدونکي يې مالکان وو، څکه د دوی لاسرسی ښه ژوند او د نعمتونو پریمانی ته نه ؤ، بلکې د دوی د څینو خوراك سارايي لړمان او ګونګټې وې، چې د هغو په خوراك به یې ویاړ کاوه، د اوښ وړۍ به یې په وینو کې خیشتولې او بیا به یې پخولې، د قریشو د خوراك او جامو وضعه دوی ته په نږدې حالت کې وه، تر دې چې کله الله تعالی په دوی کې پیغمبر مبعوث کړ او د پیغمبری په نیمکرغی بې ونازول او د عربو خواك او قومي ملاتړ پر دین راټول شو

نو دې قومونو پر فارس او روم یرغلونه وکړل او د هغوی ټولې سیمې یې لاندې کړې چې الله تعالی د دوی په تقدیر کې لیکلې وې او د سپېڅلي پیغمبر له قوله یې د هغو رښتینې وعده فرمایلې وه. د هغوی هېوادونه ونیول او د هغوی شتمنۍ یې ترې واخیستلې.

**مضر د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د اسلام له برکتونو مالامال شول**

د اسلام له راتلو سره پر دوی د خوښیو سمندر څپاند شو، تر دې چې په ځینو غزاګانو کې یې یوه تن سپاره ته دېرش دېرش زره اشرفۍ ورسېدې، له همدې لارې دوی ته دومره شتمني راغله چې له شمېر او حسابه وتلې ده، سره له دې بیا هم د دوی هغه لومړنی ساده ژوند هماغسې پاتې شو.

## په امیرانه حالت کې د صحابه ؤ ساده ګي

حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه به په خپلو جامو د څرمنې پیوندونه لګول، حضرت علي «رض» به فرمایل: ای سرو او سپینو زرو، له ما پرته بل څوك دوکه کړئ! حضرت ابو موسی به د چرګ غوښه نه خوښوله ځکه چې په عربو کې د چرګانو غوښه د کمبودۍ په وجه دود نه وه. او دوی ورسره روږدي نه وو، په دوی کې د غلبیل نښه هم نه وه خلکو به اوړه له پوټکیو سره خوړل او دا د دوی د ساده ژوند بېلګه وه، خو بل لور ته یې د شتمنیو دا حالت ؤ چې په نړۍ کې بل چا دومره عاید نه درلود.

## په هغه زمانه کې د عربو عایدات

مسعودي لیکي چې صحابه کرامو به دربڼه جایدادونه او شتمني ترلاسه کړه، د حضرت عثمان «رض» له خزانه دار سره د ده د شهادت په درډوونکې ورځ دوه نیم لکه دیناره او لس لکه درهمه وو، په وادي قرا او حنین او نورو ځایونو کې یې د دوو لکو دینارو په شاوخوا کې جایدادونه وو، زیات اوښان او اسونه یې په میراث پاتې شول.

د حضرت زبیر «رض» د یوه میراث بیه پنځوس زره دیناره وه او نومووړي زر اسونه او زر تنې وینځې په میراث پرېښودې. حضرت طلحه «رض» له عراق څخه د ورځې زر دیناره عاید درلود او د سرات له شاوخوا نه تر دې هم زیات ؤ، د حضرت عبدالرحمن بن عوف په طبیله کې زر سره اسونه وو او نومووړي زر اوښان او لس زره وزې درلودې، تر وفات وروسته یې د میراث څلورمه برخه ۸۴ زره دیناره وو. حضرت زید بن ثابت د سرو او سپینو زرو داسې ټوټې په میراث پرېښودې چې په تبرونو به یې ماتولې او یو لك دیناره شتمني یې په میراث پرېښوده. حضرت زبیر «رض» په بصره، کوفه، مصر او اسکندریه کې کورونه جوړ کړي وو، همدغسې حضرت طلحه رضی الله عنه په کوفه کې کور جوړ کړی ؤ او په مدینه کې یې هم یو پخوانی کور درلود چې رنګ یې کړ او له سره یې له خښتو چونې او لرګیو بیا جوړ کړ.

Scanned with CamScanner

حضرت سعد بن ابي وقاص خپل کور ډېر جګ، پراخ له سرو ډېرو جوړ کړی ؤ چې د دېوال د پاسه يې کنګرې او برجونه وو. حضرت مقداد رضی الله عنه په مدينه منوره کې کور جوړ کړ چې دننه او بهر نه يې د ګچو پلستر ورکړ، همدغسې علي بن منبه پنځوس زره اشرفۍ په ميراث پرېښودې او د درې لکه درهمو په اندازه يې نور جايداد په ميراث پرېښود، دا د مسعودي بيان کړې خبرې وې.

درنو لوستونکيو به اټکل کړی وي چې د عربانو عايدات څومره وو خو بيا هم له دې دومره شتمنيو سره د دوی په ديانت کې فساد رانغی او نه شريعت د دوی بدی بيان کړې ځکه چې دا حلال او پاك عايدات ؤ چې د غنيمت او فئ له لارې يې ترلاسه کړی ؤ او صحابه کرامو د هغو په لګولو کې هم له اسراف څخه ډډه کوله او په هر ډول حالت کې يې اعتدال او ميانه روي غوره کړې وه، لکه چې پاس مو بيان کړي دي، ځکه خو د دوی دغه شتمنی د اعتراض وړ نه وې او نه له دې نه د دوی په معنوي شان او عظمت کې کمی راغلی دی.

## د شتمنۍ زياتوالی د اسراف له حيثه د غندنې وړ دی

که څه هم د شتمنۍ زياتوالی د غندنې وړ دی خو دا هغه مهال چې په لګولو کې يې اسراف راشي او انسان له اعتدال لارې څخه واوړي، که خلك د اعتدال لاره غوره کړي او د دوی لګښتونه په سمه او حقه لاره کې وي نو د هغوی لپاره همدغه د دنيا شتمني د حقې لارې او آخرت په ګټلو کې مرسته کوي، کله چې د عربو سارايي ساده ژوند ورو ورو پای وموند او د حکومتولۍ طبيعت چې د عصبيت له غوښتنو څخه دی پکې راڅرګند شو برلاسي يې ومونده، شتمنی يې زياتې او له راحت او آرام سره روږدي شول او د شتمنۍ او حکومت له نعمتونو مالامال شول، نو دې سوکالۍ او ښه ژوند په غلطو کارونو کې ښکېل نه کړل او نه تر شتمن کېدو وروسته د حق له لارې او د شريعت له تګلارې څخه لرې شول.

## د فتنې پر مهال د صحابه ؤ لاره حق او اجتهاد ؤ

کله چې د حضرت علي رضی الله عنه او حضرت معاويه ترمنځ فتنه راپورته شوه چې د عصبيت او قوم پالنې حتمي پايله وه نو په دې کې هم د صحابه کرامو «رض» طريقه حق او اجتهاد ؤ. د دوی ترمنځ جګړه د کوم دنياوي غرض لپاره نه وه نه په دې سبب وه چې ناروا ته يې په حق ترجيح ورکوله او نه د شخصي کينې او دښمنۍ په سبب وه لکه ځينې بې ادبه او خيال پرسته کسان چې ګومان کوي او بې دينه او ملحد خلك همدغه نظر لري. اصلاً خبره دا وه چې دوی د حق په باب هر يوه بېل اجتهاد درلود او هره يوه د خپل اجتهاد له مخې مقابل لوری په غلطه باله او دوی د حق لپاره مبارزه کوله، که څه هم د حضرت علي رضی الله عنه اجتهاد صحيح ؤ او د حضرت معاويه اجتهاد غلط ؤ، بيا هم حضرت معاويه د باطل د ملاتړ په نيت جګړه نه کوله بلکې د حق په نيت يې کوله، د هغه مهال د ټولو مسلمانانو حالت همدغسې ؤ چې هر يو د خپل نظر له مخې پر حق ولاړ وو د باطل په لور هېڅ يو هم ورکوږ شوی نه ؤ، دومره وه چې د ځينو اجتهاد سم ؤ او د ځينو نورو غلط ؤ او مجتهد ته په غلطۍ هم ثواب او اجر ورکول کېږي.

Scanned with CamScanner

## د حضرت معاویه پالیسي هم په سیاسي اعتبار سمه وه

د حکومت طبیعي تقاضا دا ده چې په دې ویاړ کې پاچا ځانګړې حیثیت لري، یانې د حکومتولی غوښتنه دا ده چې یو کس به د حکومت واك په لاس کې اخلي او دغه ویاړ به لري، نو حضرت معاویه نشو کولای چې دغه مقام د ځان او خپل قوم لپاره رد کړي. ځکه دا د قومي ملاتړ طبیعي پایله ده، امویانو دغه پایله لیدله او د دوی پیروانو هم چې د دوی له قبیلې څخه د حضرت معاویه ملاتړ نه کاوه نو د هغو پرخلاف دربدل، او د معاویه رضی الله عنه په پلوی سرښندنې ته چمتو وو، که حضرت معاویه خلك بلې لارې ته وربللي وای او د حکومت لازمي تقاضا یې پرېښې وای او د عامو خلکو مخالفت یې کړی وای نو یووالی او اتحاد به له منځه تلو چې دوی په ډېر زحمت هغه ترلاسه کړی ؤ.

په داسې حال کې چې د حکومت تقاضا او د یووالي ساتنه تر هغو مسایلو ډېر ارزښتمن وو چې پېښې شول او تر هغو وروسته د چا د لوی مخالفت وېره نه وه. کله به چې حضرت عمر بن عبدالعزیز قاسم بن محمد بن ابوبکر لیدو نو ورته ویل به یې چې که مې توان درلودای نو خلافت به مې درته سپارلی وای، که عمر بن عبدالعزیز قاسم بن محمد ولي عهد او ځایناستی ټاکلی، ټاکلی یې شوای خو د بني امیه د حل او عقد شورا له خاوندانو نه یې وېره درلوده او دغه وېره هم له هغه سببه وه چې پاس مو یې یادونه وکړه، دا چې که د ده له لاسه حکومت لاړ شي نو په دوی کې اختلاف رانشي او سره ټوټه ټوټه نشي، ځکه خو معاویه «رض» د حکومت له لېږد نه وېره درلوده او نه یې شو کولای چې حکومت پرېږدي.

## په عادلانه حکومت کې هېڅ بدي نشته

د عام ولس ګټې او غوښتنې د حکومتولی په برخه کې ارزښت لري، مانا دا چې که یو څوك د قومي ملاتړ له لارې حکومت ترلاسه کړي او هغه د مطلق حاکمیت لاره غوره کړي خو حکومت په ښه طریقه وچلوي او د حق او عدالت لاره پرېنږدي نو د ده په دې ډول حکومت کې هېڅ بدي نشته، وګورئ د حضرت سلیمان ع او حضرت داود ع شخصي حکومتونه وو او دوی دواړه د بني اسراییلو پاچاهان وو دا چې د حکومت طبیعي خاصیت د واك تمرکز وي، سره له دې چې هغه دواړه د الله تعالی غوره کړای شوي پیغمبران وو، پر حق او ربښتینولی ولاړ وو لکه چې تاسو ته یې معلومات شته.

## د یزید د ځایناستي ټاکلو سبب

حضرت معاویه «رض» یزید خپل ځایناستی وټاکه، ځکه چې که یزید ځایناستی نه وای ټاکل شوی نو د مسلمانانو په منځ کې د اختلاف د راپیدا کېدو وېره وه ځکه چې بني امیه ؤ له خپلو پرته د بل چا خلافت ته غاړه نه ایښودله، که یې بل څوك ولي عهد ټاکلی وای نو هغه به یې نه مانه او په دې ډول به په یووالي کې فساد او فتنه راپورته شوې وه، په داسې حال کې چې د ځایناستي په توګه تر ټاکلو مخکې د یزید په باب له هېچا سره څه شك او بدګوماني نه وه، له حضرت معاویه سره هم نه وه. یانې هغه دا ګومان نه کاوه چې یزید فاسق دی او

بیا یې هم خاینانستي وګوماره، پر حضرت معاویه دا شك نشي کېدای، دا کله کېدای شوای چې حضرت معاویه «رض» دې د یزید په فساد او ناوړه کارونو خبر وای او هغه یې دې بیا هم خاینانستي ټاکلی وای، د پیغمبر پر صحابي له داسې بدګوماني نه الله ته پناه وړو.

## مروان او عبدالملك هم ښه پاچاهان وو

په همدې ډول مروان بن حکم او عبدالملك بن مروان هم سره له دې چې پاچاهان وو خو په حکومتولی کې د دوی تګلاره د دنیادارو او شرخوښو په څېر نه وه بلکې دواړه څومره یې چې توان ؤ د حق په لټون کې وو، البته ځینې مجبوریو دې ته اړ کړل چې ځینې کارونه د حق او عدالت خلاف ترسره کړي، د ساري په توګه د یووالي د زیانمنېدو له وېرې له دوی نه داسې کړه وړه کېدل، ځکه چې د یووالي ساتل د دوی له انده تر ټولو اړینه مسئله وه او په هېڅ بیه یې نه غوښتل چې د قوم یووالی له منځه لاړ شي، پر دې یې د پیغمبر لخوا ټینګار شوی ؤ او له پلرونو چې کوم روایات ورته پاتې وو هغه هم پر همدې ګواه وو.

امام مالك په موطا کې د عبدالملك په عمل استدلال کړی دی، له دې نه د عبدالملك د دیانت او عدالت اټکل کولای شئ، او مروان خو د تابعینو له لومړي پاړکي څخه ؤ چې د تابعینو عدالت او انصاف مشهور دی. وروسته ورو ورو خلافت د عبدالملك اولادې ته ولېږدېد، د عبدالملك اولادې هم د خپلو مشرانو پر پله پل کېښود او دینداري یې پالله، د دوی په منځ کې د عمر بن عبدالعزیز د خلافت دوره هم ده، نوموړي چې څومره توان درلود د څلورو خلیفه ګانو او صحابه ؤ پر پله یې پل اېښودو او په هېڅ صورت یې د څلورو خلیفه ګانو لاره پرېنښوده.

## دنیاپال خلیفه ګان او د عباسیانو د بلنې غورځنګ

وروسته بیا داسې خلیفه ګان راغلل چې حکومت او واك یې د دنیاوي موخو لپاره وکاراوه، او د خپلو مشرانو د اعتدال لاره یې پرېښودله د حکومت په ټولو لارو کې یې د حق او رښتینولی څخه کار وانه خیست، د هغوی د دغه نامناسب چلن او بدو کړو وړو له لامله خلك د دوی پرخلاف شول او خلکو د دوی پر ناوړه کړنو سخت اعتراضونه وکړل، خو دوی بیا هم خپل عادتونه بدل نه کړل، چې بلاخره خلکو د عباسي خلافت په پلوی بیرغونه اوچت کړل او عباسیانو ته یې د خلافت واك وسپاره.

## په پیل کې د عباسي خلیفه ګانو چلن غوره ؤ

عباسي پاچاهان په پیل کې د حق او عدالت په معیار پوره وو، حکومت یې د حق او برابری پر لاره چلاوه تر کومه یې چې توان رسېده غوره ؤ. له رشید نه د ده زوی ته واك ولېږدېد، د ده په اولادونو کې ښه هم وو او ناوړه هم، بیا د هغوی اولادې ته حکومت ورسېد چې هغو بیا له حکومت نه د دنیاوي ګټو او خوندونو په اخیستلو کې بشپړه برخه واخیسته، په دنیا او په ناوړو کارونو او عیش او نوش کې ډوب شول. دین یې هېر کړ او له الله

Scanned with CamScanner

تعالی سره یې د جګړې اعلان وکړ. بلاخره د الله تعالی حکم را ورسېد نه یوازې د دوی بلکې د عربو واکمني پای ته ورسېده او حکومت او واکمني نورو ته وسپارل شوه. الله تعالی د بډدن د داني په اندازه هم له چا سره ظلم نه کوي، که څوك د خلفاو او پاچاهانو کړه وړه او وضعه په ځیر مطالعه کړي او د حق او باطل پر لارو د تلو په باب د دوی اختلاف په ژور نظر وګوري نو زموږ د دغه وینا رښتینولي به ډېره ښه ورته روښانه شي.

## د منصور د دربار یوه پېښه

مسعودي د ابوجعفر منصور اموي خلیفه د دربار یوه دغه ډول پېښه بیانوي چې کله د نومورې په دربار کې د امویانو د مشرانو او مخورو په حضور کې د امویانو یادونه راغله نو منصور له فکر او دقت پرته وویل عبدالملك جابر او باغي ؤ، چې څه به یې زړه وغوښتل همغه به یې کول، له سلیمان سره یوازې د خېټې او نفساني شهوتونو غم ؤ او د عمر مثال یې په ړندو کې د یو سترګي په څېر ؤ.

په دې قوم کې یوازې هشام یو مېړه ؤ، بیا خپلو خبرو ته دوام ورکوي او وایي: د کوم حکومت ریښې چې د امویانو لپاره وغځول شوې، تر هغو پورې چې دوی د قانون له مخې چلاوه او ساتنه یې کوله نو حکومت یې هم پیاوړی ؤ، او خدای تعالی چې دوی ته د حکومت کولو کومې ځانګړتیاوې وربښلې وې له هغو یې ښه کار واخیست، ښې شانداري کارنامې یې ترسره کړې، له بدو او ناوړه کارونو څخه یې ډډه کوله، نو د دوی وضعه هم ښه وه، تر دې چې خلافت د دوی استراحت طلبه اولادې ته ورسېد چې د هغوی نظر یوازې د شهوت په مړولو او د دنیا په راحت او عیش کې ډوب ؤ، دوی د الله تعالی له حکمت او تدبیر نه غافل وو. دوی خلافت له دفاع او ساتنې څخه هم بې خبره او غافل وو. د حکومت د مسوولیتونو احساس ورسره نه ؤ او دا یې ساده خبره بلله، په سیاست کې هم کمزوري او نااهله وو. بلاخره الله تعالی له دوی نه دغه شان او عزت واخیست او خپل نعمت یې بېرته واخیست دوی یې له رسوایی سره مخ کړل.

## د نوبه له سلطان سره عبدالله بن مروان ته ورپېښه شوې کیسه

بیا منصور عبدالله بن مروان راوغوښت، عبدالله یوه پېښه بیان کړه چې دی د نوبه له پاچا سره ورسر مخ شوی ؤ، هغه مهال چې د ابوالعباس سفاح د واکمنی پر مهال یې د نوبه پاچا ته پناه ور وړه، وایي چې زه هلته ډېره موده پاتې شوم بیا ناڅاپي یوه ورځ د نوبه پاچا راغی. ما په بیړه د هغه مخې ته ګرانبیه فرش وغوړاوه خو هغه د فرش پر ځای پر ځمکه کیناست، ما ترې وپوښتل چې تاسو زموږ پر غوړول شوي فرش ولې نه کښېنئ؟ هغه خواب راکړ چې زه پاچا یم او د هر پاچا دنده ده چې د الله تعالی د لویی په وړاندې ټیټ شي څکه چې پاچا الله تعالی سر لوړی کړی وي. بیا یې ما ته وویل چې ته شراب ولې څښې په داسې حال کې چې ستاسو په کتاب کې شراب پر تاسو حرام دي؟ په څواب کې مې ورته وویل چې زموږ نوکران او غلامان په دې عمل روږدي دي. بیا یې وویل چې تاسو په څارویو فصلونه له منځه وړی په داسې حال کې چې خرابول او بربادول پر تاسو حرام شوي دي؟ ورته ومې ویل چې زموږ نوکران او غلامان په ناپوهی کې دغه کار کوي. بیا یې راته

وویل چې وریښمین ټوکران او سره زر ولې استعمالوئ په داسې حال کې چې ستاسو په کتاب کې دا درته حرام دي؟ ما عرض وکړ چې کله حکومت له لاسه په وتلو وي نو له هغو عجمیانو نه مرسته غواړو چې په اسلام مشرف شوي وي، هغوی دا هر څه زموږ له خوښې او اجازې پرته کاروي، موږ هغه نه کاروو، بیا هغه سر ښکته واچاوه او پر څمکه یې کرښې ایستلې، بیا یې وویل ډېر ښه! نه وایې چې تاسو څه کړي دي هغه تاسو نه دي کړي بلکې ستاسو غلامانو او عجمیانو کړي دي چې نوي مسلمانان شوي دي. بیا یې سر راپورته کړ او راته وې ویل: ستا څوابونه سم نه دي، بلکې تاسو هغه څه حلال بللي دي چې الله تعالی پر تاسو حرام کړي دي او تاسو هغه گناوې کوی چې ترې منع کړي شوي یاست، تاسو حکومت ترلاسه کړ او ظلم مو پیل کړ، بلاخره الله تعالی له تاسو نه دغه عزت واخیست او ستاسو په غاړو کې یې ستاسو د گناهونو په سبب د ذلت غړوندی در واچاوه. تر اوسه د الله تعالی سزا وروستې حد ته نه ده رسېدلې، زه وېرېږم چې ته زموږ په ښار کې پاتې شي د الله تعالی عذاب رانازل نشي او زه هم له تاسره په دې عذاب کې راښکېل نه شم. مېلمستیا تر درې ورځو پورې وي چې پای ته رسېدلې ده. اوس دې د اړتیا وړ شیان له مانه واخله او خپل کور ته دې ستون شه زما له سیمې نه ووزه، منصور چې دغه کیسه واورېده حیران شو او سر یې ښکته واچاوه، زموږ له دې وینا نه به روښانه شوې وي چې خلافت څه ډول په حکومت بدل شو او دا چې خلافت په پیل کې خلافت ؤ او پر هر حاکم دین حاکم ؤ. او دوی دین ته پر دنیا غوره والی ورکاوه، که هر څو د نورو لپاره د یو چا په مرگ تمامېده.

### حضرت عثمان «رض» له خپل ژوند تېر شو یووالی یې وساته

وگورئ، کله چې حضرت عثمان «رض» په خپل کور کې کلابند کړای شو، نو حضرت حسن، حضرت حسین، ابن عمر، ابن جعفر او نور «رض» اجمعین ده ته د دفاع لپاره ورغي، خو حضرت عثمان رضی الله عنه دوی له دې کاره منع کوي، د اختلاف له وېرې او د یووالي د ساتلو لپاره چې دا د مسلمانانو شېرازه ده دا کار کوي. هغوی د مسلمانانو پرخلاف د تورو له ایستلو منع کوي، سره د دې چې نه دفاع د نوموړي د شهادت سبب هم وگرځېدله.

### حضرت علي «رض» د دین لپاره سیاست پرېښود

همدغسې حضرت علي «رض» ته وگورئ، کله چې په پیل کې له ده سره بیعت وشو نو حضرت مغیره رضی الله عنه هغه ته دا نظر ورکړ چې حضرت زبیر رضی الله عنه، حضرت معاویه رضی الله عنه او حضرت طلحه رضی الله عنه پر خپلو مقامونو پرېږده، تر دې چې ټول خلك درسره بیعت وکړي او د مسلمانانو د یووالي شېرازه ونه شلېږي، وروسته دې چې څه زړه وغواړي هغسې وکړه. د هېواد د سیاست غوښتنه هم همدغسې وه خو حضرت علي رضی الله عنه له چل او دوکې د ځان ساتلو لپاره چې د اسلام خلاف ده دغه نظر ونه مانه، بله ورځ سهار وختي حضرت مغیره رضی الله عنه د حضرت علي رضی الله عنه حضور ته ورغی او ورته وې ویل چې ما پرون تاسو ته کومه مشوره درکړه، کرې شپه مې پر هغو فکر کاوه، راته معلومه شوه چې زما نظر د حق

Scanned with CamScanner

خلاف ؤ او دا د خیر ښېګڼې خلاف هم ؤ او ستاسو رایه او نظر سم او رښتیا ؤ، حضرت علي «رض» ورته وفرمایل چې نه ستاسو پرونی نظر د خیر ښېګڼې لپاره ؤ خو نن نظر دې د دوکې پر بنسټ دی. خو ستا د پروني نظر نه زه دین منع کړی یم سره له دې چې د سیاست غوښتنه همدغه ده.

د صحابه کرامو ګام پر ګام همدغه حالت ؤ چې دین وپالي که دنیا ورسره خرابه او له لاسه ووځي هم.

## زموږ چلن د تېرو مشرانو خلاف دی

خو زموږ حالت څه ډول دی نو واوری چې: «دین څیرو و چې خپله دنیا پرې پیوند کړو نه مو دین پاتې شو او نه دنیا چې د دین پیوند مو پرې لګولی ؤ».

## خلافت او حکومت دوه بېل واکونه دي

تاسو ولیدل چې خلافت څه ډول په حکومت بدل شو او د خلافت یوازې دومره مفهوم پاتې شو چې د دین او دیني احکامو ساتنه ده، سمه لاره غوره کول دي او په دې کې کوم بدلون رانغی، یوازې حاکم چې هغه هم په اصل کې دین ؤ په حکومت (د تورې په زور حاکمیت) بدل شو، دغه بدلون بیا مخ پر زیاتېدو شو چې په قومي ځواك او توره بدل شو. په خلافت کې لومړی بدلون په امویاانو کې له حضرت معاویه رضی الله عنه نه تر مروان او د هغه تر زوی عبدالملك تر مهاله پاتې شو، د عباسیانو د حکومت له پیله تر هارون الرشید او د هغه تر ځینې اولادې پورې پاتې ؤ، وروسته بیا د خلافت مانا له منځه لاړه او یوازې تش نوم یې پاتې شو، اوس نو یوازې حکومت پاتې شو او زور او برلاسي وروستي برید ته ورسېده، د غوسې د سړولو لپاره، د خپلو شخصي موخو او هیلو د پوره کولو لپاره، د آرامي، د بدن د سینګار او د خوندونو ترلاسه کولو لپاره له حکومت نه د وسیلې په توګه کار واخیستل شو. له عبدالملك نه وروسته د امویانو او د هارون رشید نه وروسته د عباسیانو حکومتونه همدغسې وو، د عربو د ملاتړ په سبب د خلافت نوم هم پاتې و سره له دې چې خلافت اصلاً نه ؤ پاتې. خو په دواړو دورو کې په خلافت او حکومت کې غلطي وه، دواړه یو له بل سره ګډوډ وو او توپیر یې ترمنځ ګران و. بیا د خلافت نوم هم له منځه لاړ او اثار او حالت یې هم پاتې نه شو سوچه حکومت پاتې شو لکه په ختیځ کې د عجمو پاچاهان چې یوازې د تبرك لپاره یې د خلیفه د اطاعت او فرمان برداری دعوې کولې. په داسې حال کې چې حکومت بشپړ د دوی په لاس کې ؤ او په هغو کې خلیفه هېڅ واك نه درلود، په مغرب کې د زناته ؤ پاچاهانو حالت هم همدغسې ؤ. لکه د عبیدیانو سره چې د صنهاجه ؤ وضعه وه، په اندلس کې له اموي خلیفه ګانو سره او په قیروان کې د عبیدیانو سره د مغراوه او بني یضرن هم همدغه وضعه وه.

زموږ له دې بیا نه معلومه شوه چې په پیل کې له حکومت پرته خلافت ؤ. بیا د دواړو ماناوې سره ګډوډې شوې، وروسته بیا یوازې حکومت پاتې شو ځکه چې عصبیت یې له خلافت سره بېل شو. الله د شپو ورځو اندازه کوونکی دی او همغه واحد قهار دی.

Scanned with CamScanner